# علمي - څېړنيزې غوره مقالې

Ketabton.com

پوهاند رازقي نړيوال

۱۳۹۴ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# علمي څېړنيزې غوره مقالې

## ۲ ټوک

ليکوال :
پوهاند رازقي نړيوال

۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: علمي- څېړنيزې غوره مقالې (دويم ټوك)

ليکـــوال: پوهاند رازقي نړيوال

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوزګر: عبدالواسع تره خېل

ډيزاينـګر: ضياء ساپی

پښتۍ ډيزاين: فياض حميد

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۴۱)

يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| مخ | عنوان | ګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د کندهار چهل زینه | ۱ |
| ۵ | د منډیګک ښار ( تپه ) | ۲ |
| ۱۰ | بامیان د هېواد د ارزښتناکې فرهنګي خزانې په توګه | ۳ |
| ۱۲ | بالاحصارونه د مذهبي مرکزونو حیثیت هم لري | ۴ |
| ۲۰ | د غزني بودایي پاچهي معبد | ۵ |
| ۳۲ | دنورستان قبیلي، ژبې او لهجې | ۶ |
| ۴۰ | تاریخي حوضونه اوعمراني یادګارونه | ۷ |
| ۴۸ | د وریښمو لار د لرغونې افغانستان... | ۸ |
| ۵۳ | زموږ د غزني هېواد د طبیعي عجایبو څو بېلګې | ۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۰ | د نارنج په نامه یوه تپه او مانۍ | ۵۷ |
| ۱۱ | کاپیسا – بگرام واژه ستوده ارزشهای باستانی | ۶۱ |
| ۱۲ | د کوهدامن سکندری کلا | ۶۲ |
| ۱۳ | د سرای خواجه د سکندر له تپې ترلاسه شوي لرغوني اثار | ۷۵ |
| ۱۴ | ایا در کشور باستانی ما صرف یک کافر کوټ موجود است؟ | ۸۲ |
| ۱۵ | زموږ د هېواد څو لرغوني کتيبې | ۹۹ |
| ۱۲ | دچين تاريخي ديوال | ۱۰۹ |
| ۱۷ | زموږ د هېواد يو شمېر لرغوني غارونه | ۱۱۵ |
| ۱۸ | د پکتيا د مرزکې او د جوزجان د طلا تپې... | ۱۲۱ |
| ۱۹ | تخت جمشید و تخت رستم | ۱۲۸ |
| ۲۰ | مارکوپولو | ۱۳۵ |
| ۲۱ | ای خانم د هزار شهر... | ۱۴۵ |
| ۲۲ | سنې او د سنو يوه پربله اړونه | ۱۵۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | په افغانستان کې بهرني سيلانيان | ۱۲۲ |
| ۲۴ | فراه باستانی باداشتن پديده های بی بديل ... | ۱۷۴ |
| ۲۵ | دباګرام د لرغونې کلمې ريښوي څېړنه | ۱۷۸ |
| ۲۶ | خوش تيپه | ۱۸۲ |
| ۲۷ | کاپيسا – بګرام حوزه پر بار | ۱۸۸ |
| ۲۸ | د لرغونی هرات د ارتاکانا ... | ۱۹۴ |
| ۲۹ | غار های باستانی شهکار بی بديل | ۱۹۹ |
| ۳۰ | احيا و بازسازی قصر های کابل | ۲۰۵ |
| ۳۱ | د کابل د نارنج د تپې بودايي معبد | ۲۱۲ |
| ۳۲ | هرات شهر مرواريد | ۲۱۷ |
| ۳۳ | زموږ د ملي وياړنو او فرهنګي...... | ۲۳۰ |
| ۳۴ | کابل د هند د تيموري پاچهانو د تاج پوشئ محل | ۲۳۲ |
| ۳۵ | ديوار شير دروازه کابل | ۲۳۹ |
| ۳۶ | ديوار های اسه مايي و شير دروازه اعجويه | ۲۴۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۳۷ | بامیان از اعجوبه های هفتگانه کشور | ۲۵۰ |
| ۳۸ | د ګندهارا بډایه مدني حوزه ... | ۲۵۲ |
| ۳۹ | باسول | ۲۶۸ |
| ۴۰ | داوو د عدد څو اړخیزې ځانګړتیاوې | ۲۷۰ |
| ۴۱ | د امیر عبدالرحمن خان د زمانې عمراني یادګارونه | ۲۷۷ |
| ۴۲ | باغ مملە یا نمله ننګرهار | ۲۸۰ |
| ۴۳ | د چهل ستون د نوبرجه کلا | ۲۸۸ |
| ۴۴ | د زرنګار پارک ښکلې سمبولیکه مانۍ | ۲۹۲ |
| ۴۵ | دمزار شریف د تخته پل لرغونی استحکامی کلا | ۲۹۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) كال په پيل كې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه كړې وه چې د دې كال په بهير كې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې كوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد كال د كب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ كې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې كړل. ملي تحريك په ياده غونډه كې ژمنه وكړه چې د (۱۳۹۴ ل) كال په بهير كې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې كوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه كار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ كړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي كوي. دا اثر چې ستاسو په لاس كې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه كړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته كړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليكوالو، ژباړونكو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير كې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا كړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى كړى، د زړه له كومې مننه كوي او كور وداني ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کندهار چهل زینه (څلویښت زیني)

د کندهار شمال لویدیځ ته د سرپوزي په نامه د یو غرګوټي او د چهل زیني دنامه سره هر څوک اشنایي لري او هر چا چې د کندهار دا تاریخي سیمې او ځایونه لیدلي وي او دا ځای یې لیدلي نه وي نو ددې معنا لري چې هیڅ ځای یې لیدلي نه دي په دې باب زما د ساحوي ریسرچ په یوه برخه کې راغلي دي.

د سرپوزي د غره په یوه جګه پوزه باندې د ۱۵۰ مترو په جګوالي د پاسه ددې غر په لاښ کې (تامبیړیا پرښه) مخ په شمال ختیځ چې د کندهار ټوله ساحه ترې لاندې ښکاري یو دري متساوي الاضلاع دالان کیندل شوي دي چې د توږل شویو برخو پر مخ یې په فارسي ژبه د هغې زماني د خطاطي په سبک یو لړ مطالب ښکل شوي دي چې د جګړو په مهال د ګولیو د لګیدو د زیان رسولو په وجه په سختي سره او دنه فرصت له مخې یې رانقلول ګران و.

خو ددې ډبریني زیني په لاندنۍ برخه کې چې د موټر د تم کولو لپاره یو میدان ګي موجود ؤ د هغه په څنډه کې د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست چې مسؤولیت یې محترم عبدالمجید «بابي» ته ور په غاړه دي د هغه ریاست د یو کارمند ښاغلي ادریس له خوا پر یوه تخته باندې د چهل زیني د لنډې پېژندنې په اړه داسې لیکل شوي دي.

ددغه ډبرین دالان او هغه ته د ورختلو د ۴۰ زینو (پاټکو) جوړېدنه د مخکې د مخه نه تر ۱۵۰ مترو لوړوالي لري د ظهیرالدین محمد بابر په لارښوونه او د کندهار تر نیولو وروسته ۹۳۹ ل. س کال پیل شوی ده او دده د زوی د نیولو وروسته د محمد کامران په کوښښ سره یې په ۹۹۴ ل. س کې یې کار بشپړ شوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دالان لیکنه چې د مغولو واکمنو د نیول شویو سیمو یادونه کوي د تکړه لیک والانو له خوا لیکل شوي او په دغه ټول مهال کې د (۴۰) تنو تکړه ډېر لیکونو له خوا په راوتلي توګه شوي ده.

د لاندې سیمو ډېرلیک یوه برخه هم د (۱۰۰۴ل س) څخه تر (۱۰۰۷ل س) کلونو پورې پرې زیاته شوي ده.

د غر زینو دواړو اړخونو ته او سپینیزي کتاري د غازي ټولواک لوړ درشل امان الله خان د واکمني په مهال ورکره شوي دي» اروا ښاد پوهاند علامه رشاد د کندهار د چهل زیني په اړونه د په لاندې ډول خورا ګټور او مستند معلومات دا سې وړاندي کړي دي.

مغل بابر چې د ۹۲۸ هجري قمري کال د کوچني اختر په دیارلسمه له شاه بیګ ارغون خه کندهار ونیوه د کندهار د سرپوزي د غره په شمالي څوکه یې د غره په یوه پاڼ کې یو دالان جوړ کړ چې د سیمې خلک یې چهل زینه او میر معصوم یې « د سندهه د بهکر یو نامتو فرهنګي شخص» « پیش طاق» بولي د میر معصوم په تاریخ سندهـ کې لیکلي دي د دغه دالان په کتیبو کې د بابر د زامنو مرزا کامران، مرزا عسکري او د مرزا هندال نومونه راغلي دي، خو د بابر د زوی همایون او د همایون د زوی جلال الدین اکبر نومونه نه و ، ځکه نو ما د بهکر سندهه څخه سنګتراشان راوغوښتل او ځلور کاله مو په دغه دالان کې کار وکړو ، د همایون او جلال الدین اکبر نیولي ملکونه چې له بنګاله تر لاهري (۸) او له کابل او غزني څخه تر کتنه پورې پراته وو په دغه کتیبه کې ولیکل د دې لپاره چې په خپله د بابر شاه د ودانیو په اړه په لا صراحت سره چهل زینه معرفي شوي وي نو د ظهیر الدین محمد بابر شاه په نوم د پوهاند مرحوم عبد الحي حبیبي اثر ته مراجعه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کندهار ښار لويديز ته د سرپوزي دغره په څوکه په غره کې يو ډېرين طاق تو بړل شوي دي چې خلک ورته چهل زينه وايي او محمد معصوم هغه ته « عمارت پيش طاق» ويلي دي وايي:
چې د بابر شاه په امر په يو غره کې چې په سرپوزه يې شهر ت درلود له ډېري يې را پرې کړي دي او هغه يو طاق دي چې ډېر زيات جګ دي چې په نهه کلونو کې ۸۰ تنو سنګتراشانو هره ورځ هلته کار کړي او هغه يې بشپړ کړي دي په رښتيا سره چې يو نفيس او په زړه پورې محل دي... او هلته يوه ليکنه د بابر شاه د ميرزا کامران او ميرزا عسکري او ميرزا هندال په نومونو چې د اهتمام لرونکي وو نقر شوي ده ( ددې ډېرليک له ځينو کرښو څخه څرګندېږي چې د ۹۳۰ کلونو په شاوخوا کې ددې طاق د جوړولو کار پيل شوي دي او په ۹۵۳ هجري ( ۱۵۴۶م ) کې پای ته رسيدلي دي او په خپل بابر شاه په دې باب همدومره وايي چې د کندهار د غره په پوزه کې مي يوه وداني جوړه کړې ده ( بابر نامه او تاريخ سند ۱۴۹ مخ او ۱۳۱ مخ ) د چهل زينې په طاق کې ډېرليکونه د نستعليق په ښکلي خط نقر شوي دي او د لويديز خواوو په ديوال کې په دوو کرښو کې ليکل شوي دي چې د ۹۲۸ کال د شوال په دياړلسمه بابر شاه د کندهار د فتح په مهال دي او په همدې کال د هغه جناب امر ددې ايوان دجوړولو په اړه نافذ شو او د هغه د بشپړېدلو اهتمام محمد کامران ته وسپارل شو او نوموړي ماهر استاذان او صاحب هنر مهندسان په دې کار وګومارل خو دی هم په کندهار کې پاتې نه شو او واکمنۍ يې وروړ محمد عسکر ته پاتې شوه او دده د واکمنۍ پرمهال په ۹۳۰ هجري کې ددې شهزاده د نيکبختۍ په وجه په ۹۵۰ هجري کې پای ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردې وروسته د جلال الدين محمد اکبر په زمانه کې کله چې شاه بيګ خان کابلي د کندهار حکمرانۍ سيد معصوم د اکبري دربار له آمرانو څخه يو تن کندهار ته راغي او په دې ښار کې يې په لاندنې مضمون ډبرليک وليکه.
« مملکت کندهار در تصرف آباى جلال الدين محمد اکبر خلد الله ملکه بود ولى در حين تسخير مجدد دهلى قندهار از تصرف همايون بيرون رفت تاکه در سنه ۱۰۰۲ هجرى ۱۵۹۳م باز به تصرف ملازمان اکبر شاهي آمد و در حاليکه شاه بيګ خان کابلي حکمران آنجا بود محمد معصوم بن سيد صفايي در سنه ۱۰۰۷ هجري ۱۵۹۸م و اين کتيبه را به نام جلال الدين محمد اکبر و پسران او شاه سليم و شامراد ، و دانيال شاه و خسرو شاه و پرويز شاه نوشت و نام تمام ولايات مملکت اکبرشاهي را درينجا ثبت کرد» ښايي وويل شي چې د اروا ښاد حبيبي صاحب د کتاب ددې برخې د متن په اعتبار ټولې هغه نيمګړتياوې چې په نورو روايتونو کې ليدل کېږي تصحيح کېداى شي چې زياتره په رقمونو کې دا نيمګړتياوې زياتې دي او که چېرې د سرپوزي د طاق د ډبرليک پوره متن زما لاس ته راغي بيا پرې هغه ليکنه وشي.
له بلې خوا نه د تاريخي ارزښت له مخې ددې ډبرليک په متن کې د مغولي پاچاهانو لنډه معرفي هم شوې ده.
په پاى کې ښايي وويل شي چې د وروستنيو دوو لسيزو د جګړو په مهال ددې زينې کتارې او پوړۍ د ګوليو د لګيدلو په اثر زيانمنې شوې او ور ختل پرې ګران شوي وي.
اخځونه:

۱. انيس ورځپاڼه د رازقي نړيوال په ۱۲/ ۱۱/ ۱۳۸۳ ګڼه کې خپور شوي سفرليک.
۲. محمد ظهير الدين بابر، پوهاند عبدالحي حبيبي، مطبعه ميوند چاپ دوم ۱۳۸۳ ص ۱۳۴- ۱۳۵.
۳. کندهار مجله، ۱۲ ګڼه، پوهاند رشاد ۱۳۸۳، ۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د منډيګک ښار

په پخوانيو زمانو کې منډيګک يو خورا مهم ښار ؤ چې پنځه زره کلنه لرغونتيا لري دا موضوع هغه مهال مدلله شوه چې په ۱۳۹۱ هـ ل / ۱۹۵۰ ميلادي کال په پسرلي کې د فرانسې د قبل التاريخ لرغونپوه «ژان ماری کنرل» په مشرۍ د يو هييت له خوا د کندهار د يوې غونډۍ د پاسه يې کيندنې پيل شولې او د اوو کلونو په اوږدو او يوولس پړاوونو کې سرته ورسيدلې چې وروستنۍ مرحله يې د ۱۳۳۷ هـ ل کال د لړم په مياشت کې پای ته ورسېده کله څنګه چې د فرانسې د لرغون پېژندنې د هييت مدير استاد شلومبرژه په دې غونډۍ کې د کيندنو په پيل کې ويلي و:

« پر توپيکه از اين تپه برخاسته مانند ستاره به نظر ميخورد که مراقبت قدامت دوره هايی پيشين افغانستان را روشن خواهد ساخت». او دا په دې معنا ؤ چې له دې غونډۍ څخه د هېواد پنځه زره کلن تاريخ عيني او موثق شواهد ترلاسه شول.

د منډيګک په غونډۍ کې د سپړنو په مهال د استوګنې اوه مرحلې مشخصې شولې چې د زمانې مهال له مخې دې دورو نږدې درې زره کاله دوام پيدا کړ هغه چې تر ميلاده څلوره زره کاله دمخه پيل او تر ميلاده دوه زره کاله دمخه پيرۍ يې را نيوله. په دې اوږده زمانه کې د يو کوچني کلي ګوتې څخه (لومړۍ دوره تر دريمې) پراختيا موندلې تر دې چې د سوداګرۍ د يو مهم مرکز بڼه يې ځانته ونيوله.

هغه کنډوالي چې د لرغون پېژندونکو د کنيدنو له مخې د منډيګک په غونډۍ کې رابښکاره شولې هغه د يوې لويې ودانۍ څخه عبارت ؤ چې په پرله پسې ډول له اومو خښتو جوړ شوی او مخروطي شکل يې درلود، او هغه فيل پايې چې په بهرنۍ نما کې يې درلودلې او اوس هم دې ستنو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړې برم ورکوي په تېره بیا د عمارت د شمالي په لوري چې زیات شمېر فیل پایې یې پاتي دي ددې ودانۍ د لا پرتم ښودونکی دي.
دا له برمه ډکه ودانۍ چې د خپلو دیوالونو او فیل پایو پر مخ د سپیني رنګ آمیزۍ اثار هم لري او داسې ښیي چې د وخت په تېریدلو سره څو کرته رنګ آمیزي شوي دي.
ددې پنځه زره کلن ښار اصلي څېره چې د اتو پړاوونو د کیندنو په پایلو کې پېژندل شوی دی ددې ښار مرکزي هسته او اړوندې ودانۍ یې د یوه مستحکم دیوال په واسطه محاط ؤ هغه زیانمنې چې د پنځه زرو کلونو په اوږدو کې دې ښار ته ورڅېرمه شوي دي ددې ښار زیاتره بهرني یې ویجاړې کړې وی.
ښایي وویل شي چې دې ښار یو کیلومتر مربع ساحه را نیوله.
ددې پاخه حصار په دننه برخه کې یې دوی لویې ودانې ولیدل شولې چې لومړۍ ته یې د لویو الی له مخې ماڼۍ ویلای شو او شمال دیوال یې **۳۵** متره اوږد ، د ماڼۍ ختیځې خواته دوهم عمارت پروت ؤ چې مذهبي مراسم به په کې ترسره کېدل او د هغه په یوه وړه کوټه کې د خدایانو د قربانۍ لپاره یوه ځای هم موجود ؤ لکه چې وایي دا ښار په هغه حوزه کې پروت ؤ چې د زیاتو غرګوټو څخه جوړ شوي ؤ چې ډېر لوړوالې ځمکې له تلي څخه **۲۰** متره لوړوالی درلود.
د پرله پسې کیندنو له مخې ددې طبقې پر کیندوالو باندې دا لوی عمارت را څرګند شوی دی چې د مخه ترې یادونه وشوه او د هغې د جوړېدو نېټه د کشف شوو شواهد په پرتله د دریمې زریزې دوهمې نیمایي ته نسبت ورکول کېږي دا ستره ودانې رو رو په راتلونکو دوره کې ویجاړه شوې اونوی خلک ددې غونډې پر مخ استوګن شوي دي، چې ګودامونه یا انبار خانې یې د منډیګک دغونډۍ د پورتنۍ وروستنۍ برخې پورې لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي. په دې ترتیب د منډیګک غونډۍ هغه غونډۍ ده چې تر له پنځه زرو تر دوو زرو کلونو تر میلاده دمخه د ارغنداب په حوزه کې د برونز ( مفرغ ) د دورې او د هغه بدلونونه په دې حوزه کې د بشري ژوند شتون ښیي.
پروفیسور کنرل چې له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۷ م کلونو پورې په منډیګک یعنې د افغانستان د پنځه زره کلونو د لرغونتوب لرونکي ښار دی دلته کیندنی او څېړنې ترسره کړې، لیکلي دي چې د منډیګک ادۍ د افغانستان د ډېرو زیاتو پخوانیو ودانیو څخه دي او داسې ترې څرګندېږي چې دې هېواد تر میلاده دمخه په درې زرو کلونو کې د پخوانۍ نړۍ په مدنیت کې له مدیترانې څخه تر سند پورې څومره پراخه برخه درلودلې ده، لنډه دا چې د منډیګک د غونډۍ بېلا بېلې طبقې له ښکته مخ په پورته په دې ډول ښودل شوې دي.
د ځمکې له مخه پورته تر نهم طبقو پورې د نیمه کوچي انسانانو د ژوندانه شواهد لیدلای شوي دي او داسې ښيي چې د اوسپنې په عصر کې له استوګنځیو خالي شول د یو وخت لپاره د منډیګک د غونډۍ اوسیدونکی هغه وګړي وو چې نیمه مالدار او نیمه کوچي شمېرل کېدل او د ودانیو ساختماني سبک یې پخسه ایز ؤ بیا یې د لومړي ځل لپاره په ودانیو کې اومې خښتې وکارول او تر دریو لومړنیو طبقو پورې دوام درلود.

**د منډیګک په ودانیو کې ترلاسه شوي لرغوني اثار :**

د لرغون پېژندونکو د کیندنو او څېړنو له مخې د مفرغ دورې په تړاو یو شمېر اثار ترلاسه شوي دي، لکه چې وایي:
د منډیګک دغونډۍ په ښکتنۍ طبقه کې د کلالۍ لوښي لومړنی او ساده وو، بیا وروسته په کې هنري پرمختګ رامنځته شو او تیکري لوښې لا ښکلي شول او په تدریج په کې لا هنري ښکلا رامنځ ته شوه تردې چې ختین منقوش لوښې ایجاد شول او د هغوی پر مخ د حیواناتو او الوتونکو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلانو نقشونه لکه د لوړو ښکرونو لرونکي ایړي (قوچ)، زرینې زرکې، فیل مرغ چې د عشق پیچان (پیروتې) د ګل په پاڼو ښکلې کړي شوي او د پایې لرونکو جامونو پر مخ را ښکاره شول، له اتمې طبقې څخه زیات شمېر د ختېو منقوش لوښې کشف شول په تېره بیا چې شمېر یې په نهمه طبقه کې بیخي زیات و چې دا لوښې د کوټې د کشف شوو لوښو سره ورته والی لري.
د منډیګک د غونډۍ د وروستنۍ دورې اثار لکه چې د مخه وویل شول انبار خانه وه چې ټول دیوالونه یې پخسه ایز وو.
د غلو دانو د انبار کولو ځای د مستطیل شکله محوطې غونډۍ جوړ شوی ؤ، دا انبار خانه که څه هم د تناسب له مخې کوچنۍ وه، خو د ماهیت او د مفکورې د اصل پر بنا دا ګودامخانې چې د هرې او سند په حوزه کې کشف شوی نږدیوالي لري.
دې ګودامخانو یوې پر بلې دوې طبقې نیولې او په دې تپه کې د استوګنې پر یوې اوږدې دورې دلالت کوي، ډېرین غشي او مفرغي درې اړخیز غشي د مخصوص ختېو غونډاري په چونو غزه (فلخمان) کې دا موضوع ثابتوي چې د دې غونډې او سیدونکو د خپلو ګودامخانو د ساتنې لپاره دفاعي وسایلو ته لاس اچولی ؤ د مفرغي غشو – د یو لړ نورو شواهدو له مخې د منډیګک دغونډۍ د اشغالو له وروستنۍ دوره تر میلاده دمخه د لومړۍ زریزې له پېل یعنې له اوس څخه درې زره کاله دمخه ټاکل کېدای شي.
هغه اثار چې تراوسه پورې د منډیګک له ودانۍ څخه لاس ته راغلي، تیغې، چاکوګان د هډوکو لاستي او تیکري ښکلې تو تې دي، خو دومره ګومان کېدای شي چې دا ودانۍ د کوم پوځي مقصد لپاره نه وه جوړه شوې، او همدارنګه کوم عادي استوګنځای هم نه ؤ او که چېرته د مورد رب النوع د تیکرې مجسمې په یوې ماتې ټوټې تکیه وشي نو دا بنا ممکن کوم معبد وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که موضوع راونغښتل شي نو د منډیګک لرغونی ښار او د هغه ودانۍ ددې سیمې په یو هغسې محل کې جوړې شوې وې چې د مفرغ په دوره کې د تلو راتلو د مه ځای او ممکن دلته د مور د رب النوع پرستش هم کېده مانۍ او ښکلي اثار یې د لرغونو ډېرو پرتمنیو دورو څخه نماینده ګي کوله.

نوت: د محمد اعظم سیستانی، د سیستان قبل از اسلام لهاشره تلخیص.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باميان د هېواد د ارزښتناکې فرهنګي خزانې په توګه

د باميانو د هر اړخېزې پېژندنې په خاطر د دغې لرغونې سيمې د ځو بعدي موقعيتونو ، طبيعي جاذبو او بشري شهکاريو او اعجبو پېژندنه او د باميانو ۳۵ متريزي مجسمي ( کوچني بت يا خنک بت ) ، ۵۳ متريزې مجسمې ( لوی بت از سرخ بت ) سمڅو او مغارو ، د امير بند ، د غلغلې، ضحاک او ځو نورو ښارونو او دهغو شمېر طبيعي په زړه پورې مناظرو او بشري خارق العاده عجايبو د تعريفولو او تعبيرولو لپاره اړينه ده چې پر يادو شوو ټولو اړخونو باندې پوره څېړنيزه رڼا واچول شي او دا ځکه زه پوره باور لرم چې نه يوازې د لوستونکو لپاره به بيخې نوي او دلچسپې پدېدې وي بلکې د سيلانيانو لپاره به هم دهغوی د ډېرو زياتو جلبولو لپاره به پوره بې ساري توب ولري که څه هم موضوع يو څه اوږد ېږي خو بيا هم بيخې زياته ضروري ده چې په ډېره لنډه او کوټلې پېژندنه يې بسنه وشي.

دا چې د باميانو د تاريخي بتانو لرليد او په هغو کې د هنري ظرافيتونو او نورو برخو په اړه په عموميت سره بحثونه شوي، همدارنګه تر يوه حده د غلغلې د ښار تاريخي لرغونتوب، ساختماني او تدافعي اهميت يې معرفي شوي، د باميانو يو شمېر ښارونه او دهغوئ په تاريخي او ارزښتمندي رڼا اچول شوي او همدارنګه بند امير د هېواد له اوو ګونو اعجوبو څخه ګڼل شوي دی نو د دوئ په اړه له بحث کولو که صرف نظر وشي او يوازې هغه موضوعګانې چې په محدود او يا ناچيز، ډول پرې خبرې شوي دي تر څېړنيزې کتنې لاندې ونيول شي چې په دې ډول دي.

- **په باميانو کې د بودايي معبدونو له ځانګړنو څخه :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې معبدونو د نورو ځانګړتياوو څخه يو ډول سمڅې دي چې د بودا د لويو مجسمو تر څنګه پرتې دي او دا ډول مغارې د چين په تونګ هوانګ او لانګ کې او دهند په اجانتاکې موجودې دي چې د کتابتونونو بڼه لري.
د اروابناد کهزاد د څرګندونې له مخې چې يې ليکلي دي، کله چې د لومړي ځل لپاره د پروفيسور هاکن سره په ۱۹۳۰ م کې يې ۳۵ متريزې مجسمې ته نږدې يوه نوې سمڅه کشف کړه او په (جي) يې ونوموله په هغې کې د باميانو يوه پخواني کتابخانه را ښکاره شوه، هلته د سانسکريت په ژبه او ليک دوه بودايي کتابونه خپرل شوي پاڼې کشف او د کابل موزيم ته وسپارل شوې، ددې سمڅې په منځ کې يوه کوچنۍ ستوپه وليدل شوه چې ګرد چاپېره ديوالونو يې رنګه تصويرونه درلودل، د بودا د زيږيدنې او مړينې د مجلسونو ښکارندويه وو، دهمدې کوچني ستوپې په خوا کې يو شمېر خپرې شوي پاڼې وموندل شوې چې د اوبو او باران د لمده بل په وجه سره نښتلي وې، نوموړې زياتوې البته دا پاڼې کاغذي نه وې بلکې ډېر نازک نباتي پوستکي وو چې د وخت په تېريدلو سره سخت او مات شوي وو هغه ليکنې چې له دې سمڅو څخه لاسته راغلي په دريو سبکونو او طر يقو ليکلي شوي دي.
- د کوشاني په روش چې له ۳-۴ م پېړيو پورې يې اړه درلوده.
- د ګوپتا په روش، چې له ۷-۸ ميلادي پيړۍ پورې يې تړاو درلود.
- دمرکزي اسيا په روش
نوموړې خپرې شوي پاڼې د دوينا په نوم يو بودايي کتاب دي چې په هندي ليک دود ليکلي شوي او د معلوماتو له مخې ددې تر موندنې وروسته، د همدې کتاب څو نورې پاڼې په کشمير کې له يوې سمڅې ترلاسه شولې.
لنډه دا چې که څه هم د (جي) د سمڅې کشف شوي کليمې، ديواتا، او (يکشا) د کلمو غوندې چې يوه يې په متناظرو کړيو سره د کوړۍ وينبتانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بله د اور د شغلو غورځوونکو په شکل وینبتانو ، د هډې د مکتب تر اغېزې لاندې پاتې شوي چې په چیني ترکستان کې: د ( تمشوک ) او بشورچوک ، د مجسمې جوړونې له ممیزې څخه دي.

**د بامیانو تر مخکې لاندې نبار ګوټې یا د ضحاک غار :**

اذربایجاني نړیوال ګرځندوي او سیلاني د خپلو څېړنو په ترڅ کې په بامیانو کې یوه ډېره لویه او له عجایبو ډکه سمڅه کشف کړه چې د بامیانو د سرو زرو له معبدونو څخه که په برم او دبدبه کې ارزښتناکه نه ده ترې کمه هم نه وه که څه هم دا سمڅه یو غار بلل شوی دي خو هغه ساختماني ځانګړتیاوې چې ورته منسوبې شوي دي تر مخکې لاندې د یو نبار سره مقایسه کېدای شي ، لکه چې نوموړي په دې اړه لیکي : د بامیانو په ختیځه خوا کې د څلورو فرسخو په واټن یو غار موجود دي چې د نړۍ سیلانیانو او د زماني توریستانو هغه په هیڅ تاریخ کې لوستي نه دي او هم یې له هیچانه ددې ابدې په باب کوم حقیقت اوریدلي نه دي خو هغه څه چې یې د خپل سر په سترګو لیدلي دي له زرو ځانګړنو څخه یوه او له زیاتو څخه د کمې په باب یادونه کړې ده او هغه دا چې په ۱۳۳۱ هجري قمري کال د هغه ولایت د حاکم په ملګرتیا چې ۱۲ تنه خدمتګاران ورسره وو ، څلور تنه یې د وښو وړلو ماموران وو چې غار ته د ننوتلو په مهال به یې د غار له خولې نه په دوام وابنه غورځول ترڅو چې د بېرته راستنیدلو په وخت کې د لارې تګ لوري ورک نه شي.

اتو تنو خوراکي توکي وړل ، دوو تنو د سون لرګې ، دوو کسانو غوړي ، څراغ او د سفر د اړتیا وړ سامان سره دغه غار ته ور ننوتلو ، موږ پوره درې ورځې په دغه غار کې په ګرځېدلو تیرې کړې خو ټولې تور تمې زاویې موږ ونه کتلای شوې ، بېرته ترې راستانه شو ، په دې غار کې مونږ ده دولس زره کورونه ، یو زر د کانونه چې څو چارسوګان او له برمه ډکې صفي په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاملي وي دا ټولې وداني په خورا عجيب او عجيب سبک، ډېرې ښکلې را کښونکي او له پوره تزئينکارۍ څخه په کې کار اخېستل شوي ؤ چې په واقعيت کې د هوښيارانو عقل ددغه ښار چې دغره په لاښونو کې کېندل شوي ددغه ښار د اثارو په باب د کيسو له اوريدلو څخه له تعجب څخه حيران پاتې کېدو او ددغه اثارو په باب د کيسو له اورېدنې څخه د تعجب په بيابان کې مو لاره ورکوله، ډېره عجيبه داده چې دا غار بيخې تياره او اوس د ضحاک په غار شهرت لري.

– **د بربر ښار :** د باميانو ديکه و لنګ د ( نيک ) بازار د ختيځې خوا د درې کيلومترۍ په واټن د بربر په نوم د يو غره د نږدې څلور سوه مترو لوړې څوکې په اوږدو کې يوه پراخه کنډواله پرته ده چې د سيمې د خلکو په وينا ورته د بربر ښار وايي او دا د بربرستان د پاچا پايتخت ؤ چې د حضرت علي ( کرام الله وجهه ) په وخت کې يې په خپله خوښه اسلام ومانه، ددې غره له نيمايي ور پورته يوه سخته ډبرينه تپه ده چې د ختيځ جنوب او لويديز له خوا ورته ور پورته کېدل ناشونې دي او يوازينې مدخل يې د شمالي اړخ څخه و دلته د شپږو سوو مترو په شاوخوا يو مستحکم ديوال له ختو او ډبرو څخه جوړ شوی ؤ، د تهداب پېړوالي يې څلور متره ؤ او پنځه متره لوړ و او سرماتي يې يو متر ؤ د هرو سلو مترو په فاصله د ترصد څلور کوټې او دغشو ايشتلو لپاره يو برج موجود ؤ.

د ښار اصلي وداني مخ په جنوب وي، ددې ښار ګوټې د يو ګټ د ګردنې په يو کوږوالي کې څلور لوی قوتي موجود دي چې د اوبو د زيرمو مرکزونه وو، د ښار پاسنۍ برخه د احتمال له مخې د هغو د مړو د سوزونې محل و.

دا ښار له دوو برخو څخه عبارت ؤ، د هيوان تسانګ د وينا له مخې دا ښار د ترکي شهزادګانو له خوا ودان شوي او د صفاريانو له خوا ويجاړ شو.

- **د غلغلی ښار خطي سندونه :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۳۱ م کال کې د میوهاکن له خوا چې اورانباد کهزاد هم ورسره ملګري ؤ د بامیانو په مستحکمي کلا (ښار او بالاحصار) کې د کیندنو په ترڅ کې د یو شمېر لرغونو اثارو سربېره د کاغذ پر مخ یو شمېر خطي ټوټې هم پیدا شولي چې د کابل موزیم د بامیانو په خونه کې خوندي دي، د ادبي (د لیکنې املا او انشا د لغتونو د کارولو د اصطلاحګانو) سبک د لیک دود د سبک او د تاریخ له نقطه نظره د ګران بیو اسنادو مجموعه چې شمېر یې له لسو ټوټو زیات نه و ترلاسه شوي ټوټې، نوموړي لرغون پوه عکاسي او د څېړنو لپاره یې په پاریس کې پول بلیوته ورکړي، هغه دا عکسونه په ۱۹۳۳ م کې روسي عالم پروفیسور مینورسکي ته ورسول، هغه د هغې علاقمندي له مخې چې د فارسي خطي اسنادو د څېړنې په تېره بیا تر مغولو دمخه درلودله تر عمومي (بعضې اسناد قدیمه فارسي دوم) تر عنوان لاندې د غلغلې د ښار د بامیانو کشف شوي اسناد د ستري برتانیې او ایرلند د شاهي انجمن د مجلې په لومړي برخه کې په ۱۹۴۳م کې تر کتنې لاندې ونیول او نېټه په تدریج سره د ۱۲۱۱م کال په شاوخوا کې چې تقریباً تر مغلي ناورین نه لس کاله دمخه ټاکي او وروسته تر دې څخه شپږ ټوټې د A.B.C.D.E.F په نښانو په لنډه توګه معرفي شول د ټوټو متن یې چې اصل او تصویر یې د کابل په موزیم کې موجود دي او فارسي متن یې چې د یادې شوي مجلې څخه را نقل شوي پرته د پښتو له ژباړې د اریانا مجلې ۱۳۲۷-۱۳۲۹ ل کلونو ۱۷ ګڼه او له ۱-۴ ګڼې پورې په دې باب تفصیلې معلومات وړاندې شوي دي.

### - د چهل برج سیمه کلیګان مغارې :

چهل برج لکه چې د نامه څخه یې جوتېږي د څلویښت برجونو درلودونکي یوه پخه کلا او بالاحصار دي، د هغه په شمالي برخه کې طبیعي او مصنوعي مغارې موجودې دي چې د افغان - جاپان د لرغون پېژندنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیبات له خوا کشف شوي، له دې منځه د یوې مغارې انداز د ۴/ ۴۵ + ۸۰/ ۱ سانتي مترو په لوړوالي کیندل شوي، د مغارې په شمالي برخه کې یو تخت شته چې ۳۶ سانتي مترو په اوږدوالي او پنځوس مترو په سور او د دوو مترو په لوړوالي کنیدل شوي دي. دلته نورې مغارې هم شته دي.
د کلیګان مغارې (د سرسم یاد مغازې سر) د افغان جاپان د لرغون پېژندنې د هیبات له خوا کشف شوی، دا مغازې په درې پوړیز شکل به زیات مهارت کیندل شوي دي چې ټولې شپږ مغارې دي چې د دهلیزونو زینو لرونکو کوټو په شکل دي او له لومړۍ ګڼې مغارې څخه تر پنځمه ګڼه مغارو په بحثونو کې معرفي شوي دي.
د بامیانو په اړوندو برخو کې پر عادي مغارو سربېره د سه خوال، ګوهر ګان، د دره علي، قاشقوله، بید مشکی، خواجه غار او د چهل برج د سیمې شاتنۍ مغارې خورا مشهوري دي.

**د بامیانو شیران :**

د بامیانو د اړخونو د پېژندنې په لړ کې د بامیانو شیران هم خورا مهمه موضوع ده او د پخوانیو جغرافیا لیکونکو په اثارو کې پرې پوره رڼا اچول شوي ده.
او په لرغونو هنري پدیدو کې د بامیانو د شیر د مفهوم ماهوي ریښې د پوره څېړنې لاندې نیول شوي دي او د بامیانو د شیرانو تاجونه هغه بحث دي چې د بامیانو د اثارو په مجله کې د دې سیمې د هنري تزئینکارۍ او بشري خلاقیتونو بېلګې ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بالاحصارونه د مذهبي مرکزونو حيثيت هم لري

کله چې زياتره کسان د بالاحصارونو له اړوندو عمراني پديدو سره مخامخ کېږي نو فکر کوي چې په هيواد کې دا ډول استحکامي تاسيسات يوازې د تدافعي تدبيرونو او جنګي او پوځي موخو د تامينولو لپاره جوړ شوي او دا ځکه چې د بالاحصارونو د جوړېدو د نورو موخو په اړه هېڅ معلومات نه لري، حال دا چې په افغانستان کې يو شمېر بالاحصارونه که څه هم د استحکامي او تدافعي ځانګړنې او اهميت درلودونکی دی خو د دې تر څنګ د يو لړ مذهبي ساختمانونو په لرلو سره، خورا مهم مذهبي مرکزونه هم پاتې شوي چې له دې جملې نه د بلخ بالاحصار، د کابل بالاحصار د ګرديز او خروار بالاحصارونه ډېر مهم دي.

**۱. د بلخ يا لرغوني بخدي بالاحصار :**

د هغو تاريخي مدارکو په ډله کې چې د آريايانو د لومړني مدني ټاټوبې يعنې بلخ د آريانا مرواريد «ام البلاد»، «د ښارونو مور» يعنې د آريانا، خراسان او افغانستان لومړنی استوګنځی، «د ښارونو ناوې» او د ښکليو او لوړو بيرغونو د ښار بخدي په باب په کې معلومات ورکړ شوي دي.

د پښتو اريانا دايرة المعارف په دوهم ټوک کې (۸۳۰) مخ کې په دې اړه داسې ليکل شوي دي:

د بخدي «وارا» د «ارګ»، حصار، بالاحصار، حصن او جنګي کلا په مفهوم افاده شوې او له دې منځه د بلخ د بالاحصار په باب داسې راغلي دي د بلخ له تاريخي او استحکامي ودانيو څخه يو هم د بلخ بالاحصار دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني ورته د هندوانو کلا وايي، دا له پخوا نه پراخ، متين او پرتمين بالاحصارو چې تراوسه يې د بارو او برجونو اثار لا پاتې دي.
څو کاله د مخه فرانسوي لرغون پېژندونکو «موسيو فوشه» او «موسيو هاکن» له خوا د بلخ په بالاحصار کې دننه په کيندنو پيل شوی و د کيندنو په نتيجه کې زيات شمېر لرغوني اثار او ستوپې را ښکاره شوي ددې معلوماتو او د پورتنيو اشارو د يادونې له مخې چې د بلخ بالاحصار ته د هندوانو کلا ويل شوي پوره جوتېږي چې د بلخ بالاحصار د استحکامي ځانګړنو د لرلو په خوا کې په عين حال کې د بودايي دين مهم مرکز و او له دې يادونو څخه دا نتيجه په لاس راتلای شي چې په دغه بالاحصار کې د بودايي آيين په تړاو مجسمې، سکې، لوښې او ودانۍ هم موجودې وې.
۲ـ د کابل بالا حصارونه، د کابل د دواړو بالاحصارونه د کابل د شير دروازې د غرګوټي د لړۍ دهغې وروستنۍ شمال ختيځ ته غزيدلي برخې د ډبريني غونډۍ پر سر چې د زمرد غونډۍ نومېږي او د يوې ګردنې په واسطه له دې لړۍ څخه بېلېږي جوړ شوي دي چې پاسني بالاحصار ( کهندز، ارګ ) او ښکتني بالاحصار ( پخه قلعه او د بالاحصار ښار ) د کابل بالاحصار دهغو بودايي مرکزونه او سيمو په منځ کې موقعيت لري چې له خورد کابل څخه نيولي ترشيوکيو ( شيواکيو ) او بيا تخت شاه د غرو لمنو د باغ بالا تر افشار او د خير خانی د هزارې تر بغله پورې ساحې يې را نيولې دی.
« د بالاحصارو رويدادهای تاريخی آن» د اوراښاد احمد علي کهزاد د ليکنې له مخې کابل پخوا تردې چې سياسي او ادارې مرکزيت پيدا کړي بودايي مرکزو او دلته ددغه مذهب په تړاو يو شمېر اثار موجود وو.

**۳.دخروار بالاحصار يا اکرو پوليس :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوګرد خروار بالاحصار چې په یوناني اصطلاح ورته اکرو پولیس وایي او د هېواد د خلکو په نزد په کافر قلعه شهرت لري د هېواد د نورو بالاحصارونو غوندې د ټولو ځانګړنو لرونکي دي د سرخېړونکی مرستیال نظر محمد عزیزي په وینا د خروار د بالاحصار د جوړېدو نېټه ممکن د ۶-۷ پیړۍ او یا ترې یو څه دمخه زماني یعنې د ساساني بریدونو پر مهال د ځلورم بهرام او د کیلاریانو یا کیلارو یفتلیانو مربوطاتو څخه وي چې د اوومې پېړۍ په اړوند در تبیل شاهانو او کابلي راباتو واکمنۍ ته ور رسېږي.

د بالاحصار شاوخوا ته زیات بودايي معبدونه او استوګنځی موجود وو چې بودايي جوړښتونه شمېرل کېږي او په عمومي دول د بالاحصار دربیمه برخه رانیسي ددغو معبدونو شمېر چې په غیر مرتب ډول دی، تر سلو زیات مشخص کېدای شي. دا معبدونه او ستوپې د ځانګړو ساختمانونو او که په لنډ ډول وویل شي که څه هم دا بالاحصار د یو واکمن د مقر په توګه رامنځته شوي خو په عمومي ډول یو بودايي لوی مرکز ګڼل کېږي.

**۴.د ګردیز بالاحصار :**

د ګردیز بالاحصار چې دهېواد په ستراتیژیکه نقطه او د پکتیا ددې حوزې په منځ کې په ډېرینه غونډۍ جوړ شوې دي د نورو بالاحصارونو په تیپ د اړوندو تدافعي عناصرو او ساختماني ځرنګوالی لرونکي دي.

د ګردیز بالاحصار او کلا د زمر ( د سیمې یو واکمن ) د خور چې زکه یا مېرزکه نومېدله په آریانا کې د سکندر تر لښکر کشۍ د مخه جوړ شوی دی.

په عین حال کې د ګردیز بالاحصار د بودايي اثارو درلودونکي یو بودايي مرکز هم و او د ظریفو صنایعو د پرمختیا په ترڅ کې هیکل تراشۍ او سکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهنۍ په کې هم پوره پر مختتګ کړي و لکه چې د دې بالاحصار د تهداب کېندنې پر مهال د فیل یو هیکل ترلاسه شو چې له عاجو څخه تو ږل شوی و.
(هېواد، ۴۹ګڼه، ۱۳۹۲/۳/۸، نړیوال).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غزني بودايي پاچهي معبد

زموږ د لرغوني هېواد لرغونو خورا مهمو تاريخي اثارو څخه يو هم د غزني پاچهي معبد دي چې په تاريخي مدارکو کې په بېلا بېلو نومونو ياد شوي دي دا چې ولې ورته په مجموع کې شاهي معبد ويل شوی دی زما په عقيده دا معبد د بودايي سرشارو اثارو درلودلو په وجه او يا دا چې د هغې مهال ( زماني ) د پاچهانو لوی او معتبر معبد ؤ نو ددې توصيفي لقب يعنې د غزني د شاهي معبد انتساب ورته شوي دي.
دا چې دې پاچهي معبد ته نور نومونه هم ورکړل شوي دي، د موضوع د لا وضاحت په خاطر په دوو زماني مقطعو کې د څېړنيز بحث وړ ګڼل کېدای شي.
الف: په دې معبد کې د لرغون پوهانو د هيبت د کيندلو دمخه نومونه:
ب: او بيا هغه مهال چې په دې غونډۍ کې فني کېدنې وشوي:
څرګنده ده چې په دې لرغونې سيمه کې چې په کومو نو مونو دا ځای ياديده د سيمې خلکو او حتی غزنوي پاچاهانو او د هغوی په سر کې غزنوي سلطان محمود هم ددې غونډۍ له تاريخي بودايي اهميت څخه هېڅ خبر نه ؤ.
دادی په لاندې توګه په دوو پورتنيو برخو کې تر کتنې لاندې نيول کېږي.
الف: د غزني په دې غونډۍ کې تر کيندلو دمخه نومونه.
**۱.بتخانه :**
د غزني د شاهي معبد پخواني نوم مخکې تردې چې په دې غونډۍ کې کيندني وشي دعامو خلکو په ورځنيو محاورو کې د نوور نومونو تر څنګ بتخانه وه. دا چې ولې د غزني د ښار او سيدونکو دا غونډۍ په دې نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادوله، منطقي او سم دلیل یې زما په عقیده دادی، چې البته له پخوانیو زمانو څخه چې د بودايي زماني خلک ددې غونډۍ له ماهیته یعنې د یو بودايي مرکز څخه یو څه معلومات درلودل، خو متاسفانه د لیک لوست له مهارت څخه برخې توب په وجه هغوئ په کوم تاریخي سند کې دا نوم نه دي ثبت کړي او په شفاهي ډول نسل په نسل او خوله په خوله د بتخانې په نوم تر موږ را رسیدلي دي او که ددې نوم ماهیت ته یو څه غور شوي واي، او یو څه کیندنې که څه هم مسلکي نه وي دلته ترسره شوي وای، نو خامخا به یې دلته د بودايي آیین په اړه اثار کشف کړي وای نو نه یوازې به دا نوم په خپل اصلي ماهیت پاتې واي بلکې دا نور نوموته به پرې نه وای ایښودل شوي.

**۲.نقاره خانه :**

د غزني ددې شاهي معبد د غونډۍ بل نوم نقاره خانه دي او کله چې یې له نورو عمومي نومونو یادونه کېږي خامخا په ځینو مواردو کې ورته نقاره خانه یا په پښتو «نغاره خانه» هم ویل کېږي او په دې کې د کوم شک ځای نشته د ځینو کیسو او فلکلوریکو روایتونو له مخې دا نوم د غزنویانو د پاچهۍ په تېره بیا د غزنوي سلطان محمود د ۳۸۷هـ په دوره کې رامنځ ته شوي دي، چې د تسمیې وجه یې له لاندنۍ پېښې څخه په څرګنده توګه جوتېږي.

د فلکوریکو کیسو پر بنسټ نقل کوي چې غزنوي سلطان محمود او د غزني نورو پاچهانو کله چې د شابهار د دښتې په لمنو کې د خپلو پوځونو، پوځي معاینه یا «سان بیني – سان دید» کاوه، د همدې غونډۍ د پاسه یې پاچهي خیمه یا به اوسنۍ پوځي اصطلاح «پاچهي لوژ» و دراوه.

او یا هر مهال چې غزنوي لښکر و او د دوئ غول پیکرد فیلانو هندوستان ته د غزاګانو په خاطر د لښکرشی تکل کاوه نو یې د پوځیانو د تجمع لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې غونډۍ د پاسه د صوتي دلارام په توګه نغاره وهله او د غزنوي پاچهانو د لښکرو د حرکت اعلان يې کاوه.(۱)
اروا ښاد احمد علي کهزاد، په خپلو اثارو «شابهار» او «افغانستان د تاريخ په رڼا کې» په بېلا بېلو شکلونو اما په يو واحد مفهوم سره په دې اړه ځو کرتې يادونې کړې دي لکه چې ليکي:
د غزنوي سلطان محمود په دوره کې د سپاهيانو د پوځي معاينې (رسم ګذشت) «سان ديد سپاه» له مخې نغاري ته بيخې زيات اهميت ورکړی ؤ، خو د يو «پاچهي مهم معبد» په دې توګه يې له تاريخي اهميت څخه هيڅ ډول آګاهي نه درلوده.
چې دا تاريخي اعجوبه په لاندني روايت کې په ښکاره توګه جوته ده لکه چې وايي:
«سلطان محمود غزنوي در خرګاه سلطنتي روي تپه نقاره خانه مى نشست و حرکت سپاه را براى غزوات هند تماشا ميکرد او بار ها به هند رفت و بتکده ها را ويران کرد ولى خبر نداشت که در سايه خرګاه سلطنتى زير پايه هاى تخت او بت هاى شابهار غزنه دفن اند».(۲)

**۳.سان بيني (سان ديد) يا عرصه ګاه:**

له نغاره خانې په ځينو برخو کې له دې محله د ګټې اخېستلو په اړه د «عرصه ګاه» په شکل هم يادونې راغلي دي. دلته اړينه بريښي چې د «سان بينی» او «سان ديد» د ماهيت او څرنګوالي په باب لنډ معلومات وړاندې شي.
«د افغانستان د پوځي تشکيلاتو لنډ تاريخ «د څېړنپوه» رازقي نړيوال چاپ شوی کتاب د معلوماتو له مخې ددې پوځي اصطلاح په باره کې داسې ويل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پوځي اصطلاح زیاتره د صفاریانو او غزنویانو د واکمنۍ په وخت کې د یورسم گذشت او د پوځي معاینې په ترڅ کې د پوځیانو د معاشونو د توزیع کولو او یا د هند په لوري د لښکرښې د حرکت پیل کېدلو په خاطر استعمالیدله که چېرته د «سان دید» یا «سان بینی» د اصطلاح معنا وڅېړل شي نو دا اصطلاح له دوو کلمو «سان» یعنې څېره چې د تذکري ورکولو په پروسه کې مروجه ده او قیافه یعنې د یو سپاهي د وسلې سره قیافه او «بینی» یا «دید» چې دري کلمې دي، چې په ملبس او مجهز حالت کې د سپاهیانو د معاینې او کتنې په معنا دي، او مجموعي مفهوم یې د پاچا د نورو درباري اراکینو له مخې منظم تېرېدل دي.

چې د شابهار په دښته کې د غزنوي سپاهیانو د «سان بینی» موضوع اروانښاد کهزاد په خپلو اثارو کې چې د مخه تېر یادونه وشوه داسې ښوولې ده.

«قراریکه از خلال متون تاریخی و از انتشارات مکرر شعرای دربار غزنوی معلوم میشود در نزدیکی های ماحول نفیس شهر غزنه میدان بزرگی بود که معمولاً سان بینی سپاه یا به اصطلاح «رسم گذشت» ورزه دسته های نظامی وقت بوقت در آنجا بعمل می آمد و این میدان را دشت شاه بهار می گفتند».(۳)

د بیهقي تاریخ په یوه برخه کې د سان بیني (سان دید) په اړه داسې لیکنې شوې دي:

عارض (عرض) چې ځینې وختونه یې د خواجه بزرگ (وزیر) په امر لشکري چارې پر مخ بیولې، نو د سولې (حضر) په وخت کې به یې هر کال د غزنې ښار ته نږدې شاه بهار په دښته کې د باچهي اردو ټوله وسله او څاروي. صاحب منصبان او د نورو نظامي افرادو د سان دید معاینه کوله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرتېرو درې میاشتنې معاشونه د نابیانو له خوا ویشل کېدل او د هغو صورت حساب د وزارت دیوان ته وړاندې کاوه.
څرنګه چې عرض (عارض) یو باوري شخص ؤ او د حربیه وزیر له خوا ټاکل کېده نو د سفر برۍ په حالت کې به هم د لښکر سره ملګري او د لښکریانو معاشونه به هم ویشل(۵۰۷مخ).
د افغانستان د پوځي تشکیلاتو لنډ تاریخ (مولف نړیوال) د لیکنې له مخې د صفاریانو په دوره کې د سپاهیانو معاشونه د یوسان دید په ترڅ کې ورکول کېدل، چې په خپله به دې د پوځیانو په مخکې په رسم ګذشت تېریده او چې معاش به یې واخیست نو د خپلې موزی په قات کې به یې کېښوده، بیا به یې د سپاهیانو سان بیني کوله، که به د کوم سپاهي سان دید د قناعت وړ نه ؤ نو تر هغې ورته معاش نه ورکول کېده تر څو چې په سان دید کې مطلوبه نتیجه کې ترلاسه کړي.

### ۴.د شابهار میدان (د شاهبار دښته) :

د شابهار میدان د غزني د مشهورو ښارونو د سیمې په جنوب ختیځه برخه کې پروت دي، چې لا تردې وروستنیو وختونو پورې هم د دې ښار عسکري قطعات دلته پوځي مشق او تمرین کاوه.
همدارنګه ویل کېږي چې د شابهار میدان او دښته یوازې د سپاهیانو د رسم ګذشت او «سان دید» لپاره مختص نه دي پردې سربېره د جشنونو، اخترونو د مېلو، د پاچهانو د تلو راتلو، سفرونو او د غزني د ښار د اوسېدونکو د خوښیو په ورځو کې په عمومي ډول د شابهار په همدې دښته کې ټولنې کېدلي.(۴)

### ۵.تپه سردار :

د غزني د پاچهي معبد تر کیندنو دمخه یو بیخې زیات مشهور نوم د سردار تپه ده او دا نوم دومره عمومیت لري چې تر کیندنو وروسته حتی د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډۍ اصلي نوم يې هم د خپل زيات شهرت تر سيوري لاندې راوستلي دي.

تر اوسه پورې ما هيڅ داسې مدارک ترلاسه نه کړای شول چې ولې ورته د سردار تپه ويل کېږي، مګر يوازې د اورابښاد کهزاد د ليکنې له مخې په دې اړه هم دومره اشاره موجوده ده چې وايي د سيمې د خلکو د روايت له مخې:

دا غونډۍ له هغې نيټې وروسته په تپه سردار مشهوره شوه چې اعليحضرت امير حبيب الله خان مرحوم، غزني ته مسافرت وکړ او پاچهي خېمه يې د دې تپې د پاسه ودروله.

**ب : د غزني د سردار او شابهار غونډۍ تر کيندلو را وروسته :**

تر کومه ځايه چې څرګنده ده د غزني د پاچهي بودايي معبد د ساختماني څرنګوالی او بودايي اثارو، چې د يو لړ مسلکي کيندنو په پايله کې کشف شوې دي د سردار تپه او شابهار د پاچهي معبد تر عنوانونو لاندې يو لړ خورا ګټور معلومات ورکړ شوې چې په لاندني ډول پرې څېړنيز بحث کېږي

:

**۱. د غزني شابهار :**

د غزنی شابهار چې د تاريخي زياتو بودايي اثارو له پلوه د خورا لوړ مقام لرونکي دي نو ځکه د غزني د بودايي پاچهي معبد په نامه ياد يږي.

د غزنوي سلطان محمود د روضې او د آرامګاه د باغ د کلي کوټې د جنوب لويديځ د درې کيلومترۍ د هغه لوی او پراخ دښت په منځ کې چې خامخا د غزنويانو د زمانې د شابهار مشهور دښته ده هلته يوه ډېرينه غونډۍ پرته چې د عامو خلکو په خولو کې د سردار تپې په نامه شهرت لري چې د مخه ترې يادونه وشوه، د نغارې د تپې او بتخانې په نوم باندې هم ياد يږي.

اروابښاد احمد علي کهزاد په خپل اثر افغانستان د تاريخ په رڼا کې د شابهار د نوم د تسميې د وجهې په اړه يو څه رڼا اچولې او ليکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«شابهار یو ترکیبي نوم دي چې د «شا» او «بهار» له کلمو څخه جوړ شوی د شاه معنا خو د معمول له مخې «پاچا» دي، مګر «بهار» چې په اصلي بڼه «ویهار» یا «ویهاره» یوه سانسکریت کلمه ده او پر بودایي عبادت ځایونو اطلاقېږي او د لرغوني افغانستان په بېلا بېلو سیمو کې لکه هډه، کاپیسا، بګرام، کابل، بامیان، غزني، بلخ، فرخار، سمنګان، کندهار او نورو ځایونو کې یې شتون درلود، چې له هغوئ څخه یوه د بلخ د «نوبهار» خاطره پاتې ده او ډېر شهرت لري.

نوبهار یو ترکي نوم دې او په اصل کې له دوو کلمو «نوا» او «بهاره» څخه جوړ شوې دی چې لومړی د «نوې» او دویمه کلمه هماغه د بودایي عبادت ځای مانا درلودله او دا «نوا ویهاره» په دري ادب کې د معبد جدید معنا لري.(٦)

همدارنګه ویهاره ته سنګارامه، بودایي دین او بودایي خانقاه هم وایي په مجموع کې د راهبانو د استوګنځیو حجرې او ستوپې رانیسي.

بیا په یو بل روایت کې د سانسکریت وار، وارې، دیوار، دربار او یا پر منځ کې انګړ ته ویل کېږي، بیا دواړه یا وار بدله شوې کلمه ویهار او بهار رامنځ ته شو او نو اویهاره کلمه نوې معبد شو، او په سانسکریت کې یوه نوې دیر دي.

د پوهاند یمین په وینا بر مکیانو په بلخ کې د بت د پاسه یوه کوټه جوړه کړه چې نوبهار یې ورته وو ایه او معنا یې نوی معبد دي.(٧)

تر هغه وخته پورې چې د غزني په شابهار کې کیندنې نه وې شوې او دلته د بودایي اثارو زیات شواهد نه و کشف شوي نو د دې غونډۍ د تاریخي اهمیت په باب، پوهانو سره معلومات نه وو.

ارواښاد کهزاد په دې غونډه کې د کیندنې د تاریخچې په اړه لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایتالوي لرغون پېژندونکو هییت له خوا چې د اتو کلونو په ترڅ کې کیندنې ترسره شوې ددې معبد مجهول ټکي روښانه شول.
ددې کشفیاتو په ترڅ کې برهمنی لیکنې چې د دربیمې یا څلورمې مسیحي پېړیو پورې تړاو پیدا کوي او نورې ختېنې بودایي کوچنۍ مجسمې او ددې تر څنګ د ۱۰-۱۲ مترۍ لویو مجسمو (تندیش) شواهد کشف شول.
همدارنګه دغزنې د شابهار د پاچهۍ معبد د مرکز شاوخواته یو شمېر لویې او یو شمېر کوچنۍ ستوپې هم پیدا شوې چې څلورو خواوو ته زینې لري چې د غزنې بت پرستانو په اسطوروې تصوراتو کې خیال کاوه کله چې بودا د خپلې مور له زیارت څخه د هوا د لوړې فضا له طبقاتو څخه راښکته شو دغزنې د شابهار په همدې معبد کې راښکته شو.(۸)
اروانښاد کهزاد په خپل اثر «شابهار غزنه» کې د کیندنو په اړه خپلو معلوماتو ته داسې ادامه ورکوي:
د ایتالوي لرغون پېژندونکي هییت د مشر د ایتالیا نامتو ختیځ پېژندونکی پروفیسور
«توچي» له ۱۳۳۸ کال راهیسې د سردار تپې د پاسه کیندنې وکړې بیا دوه کاله وځنډېدې تر څو چې یې بیا له سره پیل کړې.
د غزنې د شابهار د بودایي معبد بقایای نوموړې غونډۍ پر مخ په دریو پړاوونو د پاملرنې وړ ښکاري.
دا غونډۍ چې له جنوب څخه د شمال په استقامت او یا که په سمه توګه وویل شي له جنوب ختیځ د شمال ختیځ خواته غزیدلې ده.
په لومړیو او دویمه مرتبو کې یې، حویلۍ، دیرونه او د راهبانو حجرې او بودایي شمنونه ولیدل شول او په دریمه طبقه کې چې پرې د پاسه ده «شاویهار» یا بودایي معبدودان شوې و، د کیندنو په لومړې کال د معبد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوالونه د لویو او کوچنیو ستوپو په شمول یو پراخ غولي کشف شو چې په خپل حال پاتې و.
د ختیځ له خوا اصلي زینه د مرکزي ستوپې انګړ ته او له هغې برخې د ستوپې د قاعدې بدني ته ورختلي وه.
د مرکزي ستوپې د انګړ په ختیځه څنډه کې په یو ردیف نورې کوچنۍ ستوپې لیدل کېدلې چې د سترو کوشانیانو د دورې په کلاسیک سبک او په موادو جوړې شوې وې د معبد د دیوالونو په دننۍ برخه کې لویې ډبرې ایښودل شوې او د نویو تېرو په ټوټو پوښل شوې وې، چې د ښکلا او ټېنګښت له مخې خورا مهم و هغه پانې چې له دیوالونو څخه یو څه برجستګي لرې ټولې د نازکې ډبرې څخه د پاڼو په شکل تورل شوې دي همدا شان د دیوالونو پر مخ د پلستر کارۍ او په سره رنګ د رنګ امیزۍ شواهد لیدل کېدل، د معبد د باندینیو کونجونو کې د ۱۰-۱۲ مترو په لوړوالی د بودا لویې مسجمې (تندیسیونه) موجود وو.
د شابهار معبد د یوې لوړې غونډې د پاسه لوړو ستوپو او بودایي ستور مجسمو د شابهار د دښتې په منځ کې ځانګړې برم او پرتم درلود، پرتمینه ګونبده او ستوپه چې طلایي رنګې برخې او مجسمو څېرې یې د غزني له لیرې ځایونو څخه ښکارېدلې.(۹)
اروانښاد کهزاد په یو برخه کې لیکي:
دا چې د افغانستان په بېلا بېلو سیمو کې په سلو ګونو او زرګونو ویهارې (سنګهارامې) یادوې چې ځینې یې په «شابهار» یادې شوې او یو شمېر نورې یې په «بهار ها» نومول دي چې دا ټولې د هندي موریایي پاچا اشوکا له عمراني یادګارونو څخه دي او یو شمېر یې د کوشاني پاچهانو «کنیشکا» «هوویشکا» او نورو په امر جوړې شوې دي.(۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لپاره چې د غزني د شابهار او سردار تپه غونډۍ کې مو د بودايي د ارزښتناکو اثارو د کشف شوو يو څه مجموعه وړاندې کړې وي نو د سرمحقق معاون ښاغلي کتابخان فيضی له هغې علمي تحقيقي رسالې څخه به يو څه مهم مطالب را واخلو چې د معاون محقق د نامزدۍ د ترفيع رتبې ته د علمي کيندنو ترفيع په خاطر يې دفاع کړې ده.

هغه اثار چې شابهار يا سردار له تپې څخه د څو کلنو کيندنو په ترڅ کې ترلاسه شول تر ټولو مهم يې چې ښيي په لومړي ګام وښودل شي د بودا له مجسمو ( بوديستوا ) يعنې بودا د ولاړې په حالت کې، هيبتناک او له تعجبه ډک شکلونه، يو شمېر نقاشي شوې ديوالونو او د بګرام تيکرونو ته ورته زيات تيکرونه دي.

څرنګه په دې اړه يې پراخه څېړنه کړې ده نو د هغو کوتلي شمه داسې ښيي.

- ولاړ بودا په چين لرونکې لباس کې
- بودا په ديانا سناکې
- د بودا سر
- د «بودا» يا بودا ايستو اسر
- ۷۵٪ په ۲۳٪ کې د بودا سر او بوديستوا
- د بوديستوا سر چې په تور رنګ ويښتان پرې پراته دي
- د بوديستو افيته لرونکي سر، چې د افيته تور او طلايي رنګ لري
- سپين رنګې مخ، سرونه او ډول ډول څېرې
- د يو ځوان سر، دتاور اتاو د تورو ويښتو سره چې د مهرو په تارونو سره تړل شوې او تاج پرې ايښودل شوی دی.
- د يو ځوان ککرۍ، د هغسې اوږدو ويښتانو لرونکې چې پر تندۍ کې يې دوې برخې شوې او ترتيب شوي دي او يو هلال شکله سمبول او ټيکي چې د سرپوښ دپاسه مدور والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د يو ځوان ککرۍ چې موج داري زلفې لري او د يو پېر تار په واسطه د هلال او ټيکلو شکلو پټريو سره تړل شوي.
- د يو ځوان (ديوا) ککرۍ چې ځپه ايز وينښتان يې درلودل او د تندې په منځ کې يې «اورنا» (دريمه سترګه) وه.
- يو بربنډ سړي چې غاړکۍ يې د ځوړندو پترو سره په غاړه وه چې داخلي برخه يې د عادي ژيړو ګلونو او وښو لرونکي وه.

ښاغلي فيضي د سردار د تپې ساختماني ځانګړتياوې داسې په ګوته کړي دي.

ددې تپې ساختمان ښيلا ښېلې طبقې درلودلې او ديوالونه يې له اومو خښتو څخه وو.

د اصلي ستوپو ښکتنۍ برخه د لومړي او دويمې طبقې په ګډون دواړه د مربع په شکل وي.

لومړۍ طبقه د شيست د ډبرې له کوچنيو ټوټو څخه جوړه شوې وه، چې جوړښت يې د شيست ډبرو په لويو قالبونو کې، ريګي ډبرې او په پراګنده توګه د آهکو ډبرې ته د ستنو د پايو او تختو په دواړو برخو کې ځای په ځای شوې وي.

په داسې حال کې چې د لومړۍ او دويمې طبقې د جوړښت ترمنځه مهاليز توپير موجود ؤ په همدې ترتيب د دريمې طبقې په جوړښت کې د زمانې توپير احتمال شتون درلود.

څلورمه طبقه له بلې طبقې څخه له څه کم وخت وروسته جوړه شوې ده.

ددې سيمې په چاپيريال کې د اصلي ستوپې د زينې په واسطه داصلي ستوپې مخه او نورې ستوپې مشخص شوې وي د سردار د تپې ساختماني سبک د مرنجان د تپې د معبد د ساختماني سبک غوندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړې د اروابناد کهزاد د وینا په حواله لیکي: چې د سردار د تپې معبد په عمومي توګه د وروستنیو کوشانیانو د دورې پورې تړاو درلود او د هنري سبک له پلوه یې هم د ګندهارا د ښوونځي د وروستنۍ دورې پورې کمه اړه لرله.

په پایله کې ویل کېداى شي: چې سردار تپه او شابهار د یو پاچهۍ معبد د وه زماني نومونه دي چې یو یې هغه مهال پرې اېښودل شوي دي چې کیندنې په کې نه وي ترسره شوي او بل دا هغه نوم شکل دی چې دده ستر بودایي معبد د ریښتیاني مقام معرف ګڼل کېږي.

دویمه خبره داده ددې لپاره چې ددې معبد بودایي اهمیت او مقام پر خپل ځای پاتې شوې وي نو به غوره وي چې چارواکي د شاوخوا نه پرې یو انګړ راتاو او په واک کې د لرونکو فوتوګانو او سندونو په اعتبار یې بیارغونه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نورستان قبيلې، ژبې او لهجې

نورستان چې يو مهال يې پولي ترکامې را غزيدلي وي او بيا د حکومت په اداري تشکيل کې د کونړ ولايت يوه برخه وګڼل شوه او بالاخره په دا وروستو وختونو کې د يو مستقل ولايت په توګه رامنځته شو ، او همدارنګه د فرهنګي موقعيت له مخې نورستان د ګندهارا د حوزې يوه بډايه حوزه شمېرل کېږي.
د مورخانو د معلوماتو له مخې د ختيځ هندوکش په جنوبي لمنو کې د کابل شمال ختيځ او جلال کوټ شمال ته د پنجشير او کونړ سين د مجرا په منځ کې د هندوکش او تور غره د لمنو په لويديځ او ختيځ، په شمال او جنوب کې يو شمېر کږې وږې خوډېرې زياتې درې، په ګور و ځنګلونو پټ يو سلسله غرونه او په واروو پټې سردرې او ځوکې چې او بنتل پرې خورا ګران دي، يو شمېر ځپانده سيندونه او ردونه چې نن ورځ په عامې اصطلاح ورته نورستان وايي او دا نوم ورته هغه وخت ورکړل شوي دی چې امر عبدالرحمن خان د سلطنت په زمانه ۱۳۱۳ هجري قمري / ۱۸۹۲م کې د سپه سالار غلام حيدر خان ځرخي له خوا يې او سيدونکی د اسلامي په سپېڅلي دين مشرف شول. او يوه پيړۍ زياته موده د مخه د کافرستان په نوم ياديده.
ددې سيمې ختيځې برخې ته بلور او لويديځ ته يې کتور ويل کېږي، دا تقسيم نن د لغمان د نورستان او د اسمار ( کونړ ) د نورستان يا په بل عبارت لويديځ نورستان او ختيځ نورستان يو له بله جلا کوي.
لرغوني نورستان په عام جغرافياوي مفهوم سره د ختيځ هندوکش جنوبي لمنې رانيسي او د هبواد يوازينې سيمه ده چې هلته د هندوکش سيميز تمدن او فرهنګ تر زياتې اندازې پورې لاس ناخوړلی او خوندي پاتې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې موضوع يوازينې علت هماغه ددې سيمې غرني توب چې د تاريخ په اوږدو دورو کې سربېره پر ټولو اوښتونو د ملي او مذهبي تاريخ په اوږدو کې سربېره او يوې ګوښې ته پاتې کېدل دي او ټول عرف او عادات يې په هماغه لرغوني حالت کې قرار لري.(۱)

نورستان ددې محدودې غرنۍ او ګوښه ايزې سيمو د لرلو سره سره بيا هم د دوو مهمو ځانګړنو درلودونکې دي چې هغه په نورستان کې د زيات شمېر قبيلو شتون او دهغوی پورې د اړوند ژبو او لهجو درلودل دي چې دهېواد په کچه د مقايسې وړ نه دي چې په کوټلي توګه پرې رڼا اچول کېږي.

**۱. د نورستان مهمې قبيلې :**

که د اتنو ګرافيکي څېړونو له مخې وويل شي دا قبيلې په عمومي ډول درې دي چې د نورستان د سيمو پورې تړاو لري او دا په دې ډول دي.

- **دکته قبيله :**

ددې قبيلې مهمه ځانګه د کام قبيله ده. ګوډ تيمور او محمد ظهير الدين بابر هم د کته قبيلبه د نورستان ډېره لويه قبيله بللې ده، دا قبيله د کتور په نوم يادېږي چې د لويديځ او ختيځ نورستان کې ميشته ده.

د لويديځ کته ګانو سيمه د کانتيوا او رمګل په واديو کې پرته او ختيځ کته ګانو سيمه د باشګل (باشګول) د سين په ناوه کې موقعيت لري.

څرنګه چې ددې قبيلې تر اسلام دمخه په عمومي توګه توري ميرې ساتلي او د هغو له وړيو څخه يې ځانته غرني او سيمه يز لباسونه جوړول چې تور رنګ يې درلود نو ځکه د مسلمانانو د ګاونډيو په منځ کې د تور پوشانو نورستانيانو په نامه يادېدل، او دا چې د تور لباس سره يې مهبي څېرې هم درلودلې نو په اسطوروي توګه يې ورته ديوان ويل د کته د قبيلې وګړي يا پخواني سياه پوشان چې د نورستان په شمالي سيمو کې استوګنه لري هغه په دوو برخو دي شرقي او غربي کته باندې ويشل کېداى شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې شرقي کته يې د بلور ( ځليدونکي او سپين ) او غرنې کته د کتور ( تور ) په نوم ياديږي. د بلور د قبيلې رنګونه سپين دي او د سفيد پوشانو په نامه شهرت لري خو د کتور د څانګې رنګونه تور دي.

- **د کام قبيله :**

لکه چې له مخه ورته اشاره وشوه د کام قبيله د کته د قبيلې يوه کوچنۍ څانګه ده او باشګل يا ختيځ نورستان کې د ناوې په خوله کې استوګنه لري. تر اسلام دمخه دا يو ډېر مړنۍ او سخته قبيله وه چې هيڅ دول يرغل ته نه ده تسليم شوې او دا مهال د کام ديش ( ګام بګرام ) دختيځ نورستان دروازه او د سوداګرۍ له مخې يې پوره اهميت درلود.

د کام قبيله چې يوه معتبره قبيله ده، د معتبر شهرت درلودونکی هم ده.

- **د پرسون قبيله :**

د پرسون قبيله هم په مرکزي نورستان کې، د ويګل د درې په شمال لويديځه لوړه سيمه کې استوګنه ده.

دا قبيله د نورستان له ډېرو پخوانيو قبيلو څخه شمېرل کېږي او سپين پوستي ورته وايي.

- **د اوښګون قبيله :**

دا قبيله چې د کلښه په قبيله هم شهرت لري، د نورستان د غرونو په لوړو سيمو کې د پيچ درې او د لغمان د الينګار د دورو په منځ کې ژوند کوي، چې دا سيمه د پيچ او الينګار د اوبو د ويشنې پوله تشکيلوي.

د کانتيوا او يو لړ نورې درې په دې سيمه کې پرتې دي.

پخوا دا قبيله د سپين پوښانو نورستانيانو څخه وه، او تر اسلام دمخه دا قبيله د کلښه له قبيلې څخه شمېرل کېدله چې د نورستان له مهمو قبيلو څخه وه د دې قبيلې دانتساب له مخې په کونړ کې يو لړ سيمه ايزې اصطلاح کې کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **د ګوار قبیله :**

دا قبیله هم په پتره قبیله مشهوره وه.

دې قبیلې ته چې د نورستان د نورو قبیلو خلک سپتمره ( ګوار ) په نامه یادوی، د لنډې سین په دواړو غاړو کې میشته ده.(۲ )

ددې قبیلې خلک د نورستان په زیاتو سیمو کې استوګنه لري او په اټکلی ډول د نورستان په نږدې ۱۷۴ کلو او بانډو کې اوسېږي.(۳ )

**۲.د نورستان ژبې او لهجې :**

لکه چې دمخه ورته اشاره وشوه نورستان په دغومره کوچني محدودیت کې د دومره زیاتو ژبو او لهجو لرونکي ده چې د هېواد د نورو سیمو په کچه هډو د انډولتوب وړ نه ده، چې دادی په لنډ ډول تر پېژندنې لاندې نیول کېږي.

- **د اردي ژبه :**

د نورستان په ژبو کې یوه ژبه د اردي ژبه ده چې څانګې یې په دې ډول دی.

**– لویدیځه د اردي ژبه :**

د داردي ژبو دغه څانګه چې د کافري ژبو په نامه هم یادېږي او د دوی د ژوند ، ځای د افغانستان د نورستان خاوره ده او په دې ګروپ کې دا مشهوري شمالي ژبې شاملې دي.

**– کاټي ژبه :**

چې کتاني ورته هم وایي، ددې ژبې د ژوند سیمه د کتیاني دره ( سیمه یې د پېچ د سین ښې اړخ دی ) د ټولو دیالیکتونو ( لهجو ) اصلي ټاټوبې او زانګو ده.

رامګل یا رامګیل او کولوم یا کالم د ( الینګار سین معاوینن ) د ردودونو ترمنځه پرته سیمه ده. ددغو سیمو ژبه د کاتي لویدیځه دیالیکیت دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیتځ یې د باشګل په دره کې دي چې د باشګل سین په پاسني جریان ( چترال ) کې د کونړ د سین معاون دي دغه ژبه د باشګلۍ په نامه یادېږي.

- **وایګلۍ ژبه :**

د کرپوسون اصطلاح وایي یا «وایي آلي» ددغې ژبې د موجودیت سیمه اساساً د وایګل دره ( د پیچ در سین کیڼ اړخ معاون ) دي. د پیچ د درې په نورو سیمو کې هم ددغې ژبې او یا د هغې د خپلوانو دیالیکتونو څرک لیدل کېږي.

**- اشکوني ژبه :**

ددې ژبې د موجودیت سیمه د پارون دره ده، د کوم سین چې د پیچ د سین د کیڼ اړخ مرستیال دي دغه ژبه د پورتنۍ یادې درې له ژبې څخه ده، له دې لیکه دیرې لېږې ښکاري چې په هغې کې د یوې غیري اندو اریایي غالباً مغلوبي ( سوسترات ) ژبې څرګند عناصر موجود دي.

- **د امیلي ژبه :**

دغه ژبه د نورستاني او داردي مرکزي ژبو ترمنځه د وصل د کړۍ صفت لري او کېدای شي چې د ځینو زیاتو خصوصیتونو له مخې په مرکزي داردي ګروپ کې شامله وګڼله شي.

ددې ژبې د موجودیت ساحه د امیلي دره ده چې د چترال د سین په نیمه خوا کې پرته ده.

- **د داردي مرکزي ژبه :**

په دغه ګروپ کې ډېرې او پیچلې بېلا بېلې ژبې شاملې دي چې تقریباً له بېلا بېلو کورنیو څخه دغه ژبې په دوو څانګو وېشل کېږي.

- شمالي څانګه
- جنوبي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- شمالي څانګه: دا څانګه له دوو ژبو يعنې کهوواراو کليشي يعنې کلش څخه عبارت ده چې د تاريخي «ادګمنت» لري (د کلمو مختاړي) چې د کلمي له ريښې څخه نه وې او ورسره يو ځاى شوي دي. لکه چې په پښتو کې (اچول، اغوستل) چې وايي چوم، وايي غوندم کې يې بيلتون ددې نښه ده چې د کلمې جز نه دي.
- جنوبي څانګه: دا څانګه بيخي بېل بېل ډولونه لري او لاندنۍ ژبې په کې شاملي دي.
- ګواري
- شوماشتي
- وټه پورې
- او دهغوی خپلوان دياليکتونه او ژبې
- کلانګلي (کړنګلي)
- نتګلامي
- او همدارنګه د پشه اي دياليکتونه او نورې شاملي دي.
- **پشه يي ژبه**

د پشه يي ژبې کلمه له دوو برخو مرکبه ده.

«پا» د تسليم په مانا

«شی» د سره په مانا

چې ټوله ماناوې د تسليمي په دود سره تړتول دي او په نورستاني اصطلاح سره يعنې اسلام ته تسليم شوي نورستانيان.

پشه اي د يو لړ سره لېرې وتليو دياليکتونو يوه څانګه ده، چې په هغې کې د نورستان په جنوبي برخو کې لکه اليشنګ، الينګار د رودونو په لاندنيو برخو کې د ښيوې په خلتک، په دره نور، د فرار درې په کيڼ اړخ او د کونړ د سين په ځينو نورو غاړو کې او د شوماشت په لاندنۍ برخه کې خبرې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **شوماستي ژبه :**

دغه ژبه د شوماست د درې په پاسنۍ برخه، د مزار درې په کيڼ اړخ، د کونړ د سين د ښي مرستيال سين ( پيچ سين ) په غاړه خپره ده.

- **وټه پوري ژبه :**

په وته پور او کتر ( کتر ګل ) يعنې کونړ د پيچ سين په دواړو غاړو کې.

- **ګواري ژبه :**

يو شمېر محققين دغه ژبه د «ګواري پاتي» په نامه يادوي، مګر خپله دې خلکو په اصطلاح ګواري ژبه ورته ويل کېږي. دغه ژبه د «نرساتي» په نامه هم ياد يږي. دغه ژبه د چترال په سيمه کې د باشګل د سين په ښکتنۍ برخه مروجه ده.

- **کلښی ژبه :**

دا ژبه د چترال او باشګل د رودونو د يو ځای کېدلو په سيمه کې په کلشت کې د بوسپورت ( ګلسکوه ) او «بيرار» د چترال په جنوب لويديځ کې ژوندۍ ده.

- **لښتو ژبه :**

د ټول کونړ په سيمو کې حتی د نورستان په زياتو سيمو کې مروجه او خپره ده.

- **دري ژبه:**

ډېره کمه په کوز کونړ کې او يو څه په نورستان کې او نوره په محاوري شکل هيڅ رواج نه لري که څه هم پخوا به نظمونه او نور اثار د عربي ژبې ترځنګ له دري ژبې شروع کېدل.(۴)

اخځونه:

۱ـ جغرافيايي تاريخي افغانستان، مير غلام محمد غبار، ۱۳۶۸دولتي مطبعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ ریشه های تاریخي و فرهنګي نورستان، سمیع الله تازه نورستاني، ۱۳۶۷ دولتي مطبعه.
۳ـ لرغوني او اوسني کونړ، رازقي نړیوال، ۱۳۸۴ کال، ۲۷۲ مخ، اردو مطبعه.
۴. ریشه های تاریخي و فرهنګي نورستان.
۵. لرغونې او اوسنې کونړ هماغه اثر ۲۷۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاریخي حوضونه او عمراني یادګارونه

زموږ د لرغوني هېواد د پخوانیو آبنیو په منځ کې د عمراني یادګارونو په توګه تاریخي حوضونه هم ځانګړی ځای لري. هغه چې له پخوا زمانو څخه زموږ د هېواد په زیاترو سیمو کې د اړوندو اړتیاوو او موخو په پاملرنې سره خپل اهمیت له لاسه نه دې ورکړي. چې زیاتې بېلګې یې لا تر ننه ژوندۍ پاتې دي.

مخکې تردې چې د هغو د یو شمېر په اړه څېړنیز بحث وشي پوره اړینه لېدل کېږي چې یې د جوړېدو د موخو او لاملونو په باب یو څه مقدماتي رڼا واچول شي.

۱. په ښارونو او استحکامي کلاګانو کې د پاکو اوبو د ذخیرې لپاره
۲. په دښتونو کې د باراني اوبو د زېرمه کولو په خاطر.
۳. د للمي ځمکو د اوبولو لپاره.
۴. په پاچهي حرمسرایونو او د معتبرو خلکو د کورونو په حویلیو کې.
۵. په لویو دولتي باغونو کې د تزئیني عنصر په توګه.
۶. د لامبو وهولو په منظور.
۷. جوماتونو ته نږدې د اوداسه، غسل، د څاروو د اوبولو پرته له څښلو او نور ضروري اړتیا د اړتیاوو د لېرې کولو لپاره.

ددې لپاره چې د حوضونو د پورتنیو موخو په پام کې نیولو سره ددې ټولو د ځانګړنو په اړه په دې ډول معلومات وړاندې کېږي.

**۱. په ښارونو او استحکامي کلاګانو کې د پاکو اوبو د ذخیرې لپاره.**

په پخوانیو زمانو کې د محوطه شوو ښارونو او پخو کلاګانو د ساختماني عناصرو لکه حصار، ریض، بارو، خندق، ارګ، کندز، برجونه، شاهبرجونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تیر کشونو په لړ کې دهغو په یو شمېر کې چې د محاصرو په مهال یې په اوبو لاسرسي د ستونزو سره مخامخ کېده، نو په دغسې شرایطو کې د لومړنیو تدبیرونو د نیولو په لړ کې د اوبو د ذخیره کولو لپاره، زیاتره سر لوڅي او سرپټې حوضونه جوړېدل. چې د هېواد په یو شمېر سیمو کې یې بېلګې وړاندې کېدای شي او له دې منځه به د لرغونې هرات دغه ډول حوضونه معرفي شي.

د هرات لرغونې ښار او د هغه کهندز زموږ د هېواد د نورو ټولو ښارونو او کهندزونو غوندې د یو شمېر دروازو لرونکي دي چې په تدافعي شرایطو او یا جګړایزو حالتونو کې به بېرته کېدلې او تړلې کېدلې، دا دروازې د ښار په مهمو ځایونو کې جوړې شوې وې او بیا په دې دروازو کې هغو ډولو دروازو مهم نقش درلودلای شو چې د اړتیا وړ په تېره بیا د اوبو اکمالات به ترې ترسره کېدل... د هرات د ښار د ربض نه بهر د ۲۰ ګزو په سور یو خندق موجود ؤ او د ښار په دننه کې د روانو اوبو لرونکي یو حوض ؤ.

په دې ډنډ سربېره د لرغون پېژندنې مجلې، د ۱۳۶۳کال په شلمه ګڼه کې د ډنډونو، د هرات سرپټو ډنډونو په اړه پراخ معلومات وړاندې شوي دي، خو دلته یې په لنډیز بسنه کېږي.

د حوض د فارسي ژبې په برکه، د اوبو انبار او تذخیر آب باندې افاده کېږي.

د لرغونې هرات سرټپي ډنډونه په تاریخي مدارکو کې معرفي شوي او لکه چې ویل کېږي د دا ډول ډنډونو په جوړولو کې نه یوازې د اوبو له بابته داړتیا لېرې کول په پام کې نیول شوي دي. بلکې د دې حوضونو په جوړولو کې هنري ظرافتونو ته هم پوره ارزښت ورکړ شوي دي، لکه چې د هرات سر پټې ډنډونه له هغو سوچه اثارو او د معمارۍ د نمودونو څخه دي چې د بیلا بېلو ملحوظاتو له مخې د څېړنې او پېژندې وړ دي، او د هرات دا ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډنډونه په هېواد کې د اسلام تر خپرېدو وروسته دورو پورې تړاو لري او د اوبو د انبارونو په ځانګړیو تزئیناتو جوړ شوي دي.
په نوموړې مجله کې ددې حوضونو د ساختماني څرنګوالی په باب په دې توګه رڼا اچول شوې ده.
ددې ډنډونو د جوړولو لپاره تر هر څه دمخه دهغو مخزن یا زیرمه تون په مځکه کې په لازمه کچه، معمولاً تر شپږو مترو پورې ژوربږي، بیا د حوض د ودانۍ تهداب په همدې ژوره سطحه ایښودل کېږي او بیا کله چې دا تهداب ښه پورته شو نو د حوض د چت ګونبزه د هغه د ودانۍ په اساسي تهداب پوښل کېږي.
د حوض دواړو خواوو یا کله هم په دریو او یا څلورو خواوو کې د حوض د رڼا کولو او تهویې په خاطر رواقونه هم جوړ شوي دي.
د مدخل رواق چې د ډنډ تر چته پورې څو پوړۍ زینه درلوده.
د معمول له مخې د ډنډ د شمال په لور ببرته کېده. تر څو چې له هغه استقامته شمال ولګېږي او په دې وجه ډنډ سوړ وګرځي او د ډنډ له مخې څخه ناولتیاګانې د جنوب خواته یو وړل شي.
د سرپټو حوضونو ګونبزې هم چې په ځانګړو ترئینکاریو جوړ شوي دي.
دا ډنډونه په شرعي حساب لس په لس متره کې او په حقیقت کې دا اصل په دې توګه دي چې اوږدوالي او سور یې سره برابروي.
د هرات په دې ډنډونو سربېره یو شمېر سرلوڅي ډنډونه هم موجود وو ددې حوضونو د اوبو سرچینې د هغو د محلاتو په اعتبار، له سیندونو، چینو کوهیانوو د باران او واورو له اوبو څخه عبارت دي.
له کومه ځایه چې د هرات د ډنډونو په باب د پوره معلوماتو وړاندې کول اوږده څېړنیزه لیکنه غواړي، دلته به یې یوازې د ناحیو په اعتبار د نومونو په اخېستنه بسنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: په لومړۍ ناحیه یعنې د قطبي چاق په محله کې.
- حوض ګدام
- حوض د مزار د مسجد سلطان سید احمد کبیر
- حوض برده
- حوض پهلوان
- حوض چار باغ
- حوض هوشمند خان

ب: په دوهمه ناحیه یعنې د خواجه عبدالمصری په محله کې
- حوض چار سوق
- حوض ذوالفقار خان

ج: په دریمه ناحیه یعنې د بردرانیو په محله کې.
- حوص ماسک
- د حاجی سرور حوض
- د اسمعیل قازی حوض
- پای حصار حوض

د : په څلورمه ناحیه یعنې د مومندو په محله کې.
- د وزیر حوض
- د نقاشۍ حوض
- د کشمیریانو حوض
- قطب الدین پهلوان حوض.

باید وویل شي چې حوض برده، حوض هوشمند خان او د قطب الدین پهلوان حوض له منځه تللي دي او نور (۱۳) ډنډونه اوس هم شته دي.

**۲. په دښتونو کې د باراني اوبو د زیرمه کولو په خاطر ډنډونه :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغو دښتيزو سيمو کې چې د للمي مځکو د درلودلو او ښه موقعيت د لرلو په وجه کلي ګوتې موجود وي ددې لپاره چې د اوبو له پلوه يې تر يوه حده ستونزې ليرې شوي نو دوئ په يو مناسب ځای کې مځکه ښه ډېره ژورې او له هغې لوړې برخې ورته لښتي پرې.دي چې د باران په مهال ورته له پاسنۍ برخې اوبه ورننوځي، ددې ډنډونو چې په کونړ او سرحدي سيمو کې ورته «جوړ» وايي د اوبو د زيرمې ظرفيت دومره وي چې کال و سرپه کې اوبه پاتې کېدای شي.

ددې جوړونو يا ډنډونو له اوبو څخه څاروي اوبه خوري او کليوال ترې اوبه په لوښو کې اخلي او ورځنۍ ګټه ورځني اخلي حتی که اوبو يې اوبړۍ هم کړۍ وي تر جوشولو وروسته يې څښلای هم شي.

په جوړ کې نه څوک اودس کولای شي او نه لمبلای شي.

ددې ډول جوړونو بېلګې د کونړ « د ملا ګوري» په کلي او په سرحدي سيمو کې په زياته کچه ليدل کېږي.

**۳.د للمي مځکو د اوبولو لپاره :**

ځينې سيمې د درې او يا بانډې غونډې بڼه لري او د کمو اوبو د رودګيو لرونکي هم وي. نو ددې لپاره چې يا د اورښت په مهال او يا يې له روانو اوبو څخه د خپلو پټيو په اوبولو کې ترې کار اخستي وي، نو د خپلو پټيو په يوه مناسبه پاسنۍ برخه کې يو ژور او لوی ډنډ جوړوي، او اوبه په کې ذخيره کوي او په نوبت سره ترې د کرنې په چارو کې ګټه اخلي.

**۴.په پاچهي حرمسرايونو** او د معتبرو خلکو د کورونو په حويليو کې د پاچهي حرامسرايونو او د ارګونو د ښکلا ايزو مظاهرو او د ظريفانه ساختماني سبکونو عناصرو ته په پاملرنې سره له يوې خوا او د حرامسرايونو د انګړونو د هېواد په زړه پورې کولو په خاطر، په بېلا بېلو شکلونو حوضونه جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا حوضونه چې دومره ژوره نه وي، تلي او مستندې خواوې يې په قيمتي او د مرمرينو ډبرو او د کاشي په ښکلو پوښل کېږي، لا مرغوب توب يې په دې کې دي.
چې ددغو ښکلو رنګ لاجوردي وي تر څو چې داوبو منظرې ته لا ښکلا ورکړي.
ددې حوضونه په ګرد چاپېر کې ګلدانونه او چمنونه هم جوړوي.
چې ددې ډنډونو ژوندۍ بېلګې په شاهي ارګ (او سني جمهوري ارګ) او د بابر بڼ په حرامسرۍ کې ژوندۍ پاتې دي او يا ډېره په زړه پورې بېلګه يې د کابل په نوي ښار کې د شاببو جان د ماڼۍ په منځ کې د کوچني سالون فواره لرونکي حوض دي.
**۵.** همدارنګه دا ډول ډنډونه د همدغو يادو شوو موخو له مخې د روغتونو په انګړونو او د يو شمېر معتبرو خلکو په کورونو کې عموميت لري. چې د روغتونونو له منځه د چارصد بستر يا د سردار محمد داؤد د روغتون، مستطيل اوږده ډنډونه د يادونې وړ دي.
زياتره ددې ډنډونو منظرو ته د لا کيفيت ورکولو په خاطر په کې يا له څنډو او يا په منځ د فوارو ترتيبات هم سنبالوي او لا دغو خواوو ته ډول ډول رنګونه هم ورکوي. موږ ددې ډول ډنډونو بېلګې د جلال اباد د ښار په منځ کې د ډنډ او يا د کابل د پښتونستان واټ د څلور لارو په منځ کې ليدلای شو.
د يادونې وړ ده چې د دارالامان ماڼۍ ګرد چاپېر بڼ او د چهلستون بڼ هم دغه ډول يو شمېر پوړۍ په پوړۍ ډنډونه درلودل او په دې سربېره زيات شمېر مثالونه يې وړاندې کېدای شي.
او همدارنګه د خلم د جهان نما د ماڼۍ باغ هم ددغسې ښکلي حوض يوه په زړه پورې بېلګه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دې ټولو سربېره په هېواد کې يې زيات مثالونه وړاندې کولای شو.

**۶. د لامبو وهلو په منظور :**

په دې سربېره چې د دې ډول حوضونو جوړول د يو محل او يا ودانۍ په تېره بيا رستورانونو ، هوټلونو او تفريح ځايونو کې خورا مهمه بنيه ګڼل کېږي. دا حوضونه چې د آبيازۍ په ځانګړې سبک جوړېږي.

د آبيازۍ لپاره چې ظريفانه او په زړه پورې ورزش دې کار اخستل کېږي. چې خورا ژوندۍ بېلګې يې د باغ بالا د رستورانت، د انترکانتيننتال د هوټل د عسکري کلوب او د پلچرخې د پخواني حربي پوهنتون او تخنيکي اکاډمۍ د ابيازۍ ډنډونه يې يادولای شو ، حتی په دې وروستنی ډنډ کې د لباس ايستلو لپاره مخصوصې غرفې هم موجودې دي.

**۷ـ هغه ډنډونه چې جماتونو** ته په نږدې برخه کې د اوداسه او غسل، د ځاروو د اوبولو او د نورو اړتياوو د ليرې کولو لپاره جوړ شوي وو.

د جماتونو څخه له يادونې څخه پوره جوته ده چې دا ډول حوضونه زموږ په هېواد کې تر اسلام را وروسته جوړ شوي دي.

په دې سربېره د دې ژورو او لويو حوضونو يوه ساختماني ځانګړنه دا ده چې دهرات د يادو شوو حوضونو د يو حوض غوندې ورته له يوې ويالې اوبه په لښتي کې را ګرځول شوي او کله چې ډنډ ډک وي نو بل لښتي ترې بېرته ويالې ته ايستل شوي دي. د دخولي او خروجي لښتي په کې په وياله کې د اوبو د بهيدلو په صورت کې، په دې ډنډ کې هميشه اوبه روانې وي.

د دې ډنډ اوبه د څښلو او په خوړلو کې نه کارول کېږي.

د دې ډول ډنډونو بېلګې څو لسيزې دمخه د کونړ د نرنګ ولسوالۍ هغه وخت د علاقدارۍ په اړوندو څو کليو کې په دې ډول موجودې وي.

الف: د بر نرنګ د شالمار په کلي کې کوز جمات ته په نږدې برخه کې.

ب: د لمټک د کلي د جومات ډنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج: د شړلو د کلی د جومات ډنډ
د : چار قلعه د جومات ډنډ
هـ: د کډو د کلي د جومات ډنډ
و: د کړه مار د کلي د جومات ډنډ
ز: د غونډو د کلي ډنډ
په دې وروستيو کې دا ډنډونه له منځه تللي دي.
ښايي وويل شي چې په کونړ کې تر نو اباد راښکته او د برنرنګ نه ورپورته يو کلي د ډنډونو په نوم ياد ېږي.
امکان لري چې يو مهال يې ډنډونه درلودل، خو د دې ډنډونو د ساختماني سبک په اړه معلومات ځکه وړاندې کېدای نه شی چې دا کلي د سين په غاړه پروت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وریښمو لار د لرغوني افغانستان د تاریخي ممتاز موقعیت مظهر

د مدني، فرهنګي، تجارتي او مذهبي ځانګړتیاوو له پلوه د یو هېواد موقعیت اهمیت د هغه د لارو د لرغونتیا څخه جوتېږي زموږ ګران هېواد له ډېرو پخوانیو زمانو څخه د داډول وتلي جغرافیاوي تاریخي موقعیت درلودونکی ؤ، چې په دې موضوع اوړد څېړنیز بحث په کار دی او د هغه نه مخکې به د مقدمې په ډول د وریښمو د لارې په اړه چې ښاخونه یې زموږ لرغوني اریانا له ځینو سیمو څخه تېر شوي ؤ یوه لنډه کتنه وشي.
د وریښمو لار چې د نړیوال تاریخي ستر اهمیت او مقام لرونکې ده د دې لارې په مورد د اریانا مجلې د ۱۳۵۵ کال د ثلورمې ګڼې لاندنې یادونې را واخلو ة
پخوا د چین دوه لرغوني پلازمینې چې یوه یې (لویانګ) او بله یې (سیان) نومیدلې د اریانا د دیني، کلتوري او تجارتي مرکزونو سره تړاو در لود چې د وریښمو د لار مبدا له همدې دوو ښارونو څخه را پیل شوې وه چې له یوې خوا د چین تجارتي کاروانونه به په دې لار باندې د بلخ کاروانسرایونو (رباطونه) ته راتلل او په دغو کاروانونو کې د چین وریښم، وریښمیني ټوټې او چینایي متاګانی به روم، یونان او ایران ته وړل کېدلې او ددې هېوادونو د تولیداتو او صادراتي اقلامو سره تبادله کېدلې او له بلې خوا نه د بودایي دین نفوذ د اریانا څخه د وریښمو په لار د چین خاورې ته ور پراخېده نو دا وه چې دغه مهال د لویانګ او سیان ښارونه د بودا د آئین دوه ستر مرکزونه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بودايي آئين د تبليغ او ترويج لپاره ديني هئيتونه له اريانا څخه چين ته وربلل کېدل او چينايي هئيتونه به د بودايي مذهب د څېړنې او پوره پوهېدنې لپاره وريښمو له لارې څخه اريانا ته مسافرتونه کول او د بلخ، باميان، هډې او هند له بودايي مرکزونو څخه ليدنې کتنې کولې چې له دې جملې څخه نامتو سياح او زاير هيوان تسانګ د سيان له ښاره خپل ارزښتناک او کاري سفر پېل کړي ؤ او د کنداهارا د عالمانو په ډله کې د بودا د دين د تبليغ او ترويج لپاره د يو بلل شوي هئيت په ډله کې چين ته تللی دی.

د لويانګ د ښار د عروج او عظمت په دوره کې چې بودايي آئين د پامير له لويديځه د بلخ له نوبهاره ( نوبهاره ) څخه د وريښمو لارې له لويديځې لارې څخه د مال التجاري سره چې د بدخشان لاجورد هم په کې شامل وو دې ښار ته لاره پيدا کړه.

پښتو اريانا دايرة المعارف د وريښمو د لار په اړه پراخ معلومات وړاندې کړي دي چې لنډيز يې را نقل کېږي:

زمونږ د لرغونې هېواد په پخواني مدنيت کې په تيره بيا د کوشاني ځليدونکی اميراتوری عصر په دوره کې د وريښمو لار خورا تاريخي مهمه لاروه او دا ځکه چې د سترو کوشانيانو په دوره کې د آريايي کوشاني دولت سياست له دوو نورو لويو او د چينايانو هونانو ( هون های چين ) او د روم د قيصرانو سره ښه او دوستانه وه له لېرې ختيځ څخه تر لېرې لويديځ په لور په دا ډول سيمه کې امنيت ټينګ ؤ او سوداګری پوره رونق موندلی ؤ.

د آريانا د تجارت په صادراتي اقلامو کې تر ټولو ډېر مهم قلم چې له دې لارې تېريده د چين وريښم ؤ چې دا جنس د پونده ګانو څخه نيولی بيا د روم تر ټولو قيصرانو پورې استعمالېده. څرنګه چې د سوداګرو سمندري لار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکمارانو او بحري غلو په وجه پوره خطرناکه وه نو د مقدوني سکندر يو سوداګر ( فانس تی تیانوس ) له وچې څخه يوه لار د باختر او مديترانی ترمنځ کشف کړه چې په دې لار به د وريښمو سوداګري کېدله نو ځکه د وريښمو لار وبلل شوه.

او په حقيقت کې د وريښمو د لار تاريخچه له دې کبله پيل کېږي او د نوموړي سوداګر د نامه سره سماسم انتساب لري، وايي دغه سوداګر چې په شام کې سوداګري کوله غوښتل يې چې د وريښمو د ريشلو او رنګونو مهم مرکزونه درلودل هغه چې له انتيوش، انکاکيه ( انقره ) بريت ( سيدن ) او د ديتر له ښارونو څخه عبارت وو. دا لار يې د ختيځ ترکستان له مهمو بازارونو سره نښلوله، دا مهم بازارونه د ( هن های چين ) او کوشانيانو په پولو کې پراته وو، يعنې ( اسيدون سيکا ) د کاشغر او ( اسيدون سريکا ) يعنې د چين ښارونه وو.

د وريښمو لار د مديترانې له غاړو د نهرونو ( بين النهرين ) او له ( هيلاپوس ) د فرات له غاړې نه تېره شوې وه. د پامير ( اوتيان شان ) په لمن کې وصل کېده، دا لار د مرو او هرات په شاوخوا کې تېريدله او بکتر ( بلخ ) ته به رارسېدله او د دوخس سرخ آب ( قزل ارتا او قزل سو ) له لارنه د کاشغر او نارم ناوې خواته وتلې ده. د روشان ( فرغاني ) په شاوخوا کې به سره يو ځای کېدله چې د ( تينويل پيرګوس ) د ډبرو برج نومېده، په دې ځای کې به چيني او شامي سوداګران سره يو ځای کېدل او خپل مالونه به يې سره تبادله کول.

له دې لويې لارې څخه د هند خواته نورې لارې هم تللې وې هغه چې له بلخه ( بکتر ) سره بيلېدلې دا چې له بلخه به دا لار ووتله د کندز، اندرات او د کوشان له درې به ښکاري درې ( دره شکاري ) او له کاپيسا نه به د کابل ناوې ته راغلله او له هغه ځايه به هند ته ورپسې تلله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله لار چې ختیځ ترکستان یې د کوشانی یې د کوشانی امپراطورۍ له هندي برخې سره نښلاوه له (کوییین سین) او مستاغ) او د کاشغر له یوې برخې نه د قراقرم په غرونو کې تېرېدله او په کشمیر کې به یې لیکه پای ته رسېدله (اریانا دایرم المعارف، ټ۱، دولتي مطبعه، ۱۳۲۹، ۲۸۰-۲۸۱ مخ). همدا شان د وریښمو د لارې جنوبي څانګه چې د هندوکش په جنوب کې د هند پر خوا له بامیان څخه چې په پهلوي، (بامیکان) او په چینایي ماخذ کې ورته (فن بن تا) ویل کېده او له کابل څخه ۱۵۰ کیلومتره لرې پروت دی.

په دې کې شک نشته چې د دوهمې لارې یوه څانګه به د کونړ په لار چترال او بدخشان ته هم وروېشتل شوې وی ځکه چې د بدخشان او چترال ترمنځه هم لار موجوده وه( فضل احمد، رهنمای افغانستان، شماره ۱۲، ۱۳۲۸هـ، ص ۲۲).

باید وویل شي چې د افغانستان له لویدیځه د ختیځ په استقامت د وریښمو د لارې زیاتې څانګې غزیدلی دي چې په لنډه توګه به پرې کتنه وشي:

په عمومي ډول په یو روایت کې دا لارې له چین او هند څخه د افغانستان په خاورې زیاتې څانګې لرې چې په افغانستان کې یې په دریو ښارونو کې تر کتنې لاندې نیولای شو:

۱ـ د کابل لار (سهیلي لار) له کابله: پېښور (پور وساپورا)، تاکسیلا، راولپنډۍ، لاهور، فیروز پور، پوتالی پوترا تر هنده پورې.

له کابله: لغمان، کونړ، چترال له کابله: د وریښمو کوتل، بغلان تر بلخ پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲**ـ له کندهاره تر هنده پورې په **۴۰۰** میله واټن: له هنده: پوتالی پوترا، فیروز پور (رباط)، سکر، شکارپور، طورلالی (رباط) تر کندهاره بیا دلارام، فراه تر هرات پورې.

**۳**ـ د بلخ لار: له بلخ څخه رباطونه: لومړی رباط (فیض اباد)، تاشقرغان، یارکند ختین، روشان تروازه (دروازه)، یسیرا نتروس، تریبګین پورې. د آمور د شمالي برخې څخه: د روشان له سیمې مخ په شمال، اسمریا، دامنا، اوشیا، کاشغر، خوقند، خجند، تاشکند، ګسورګنج، هخشب، مرو، قیصر امنف، میمنه مرو رود او تر هرات پورې.
(د وریښمو لار، پوهنوال باوري، اردو مجله، **۳** ګڼه، **۱۳۸۲**، **۵۰** مخ-).

په دې اثر کې دې لار د شرق او غرب درې امپراتورۍ د چینې مغولانو امپراتوري، په غرب کې د روم امپراتوري (تراجان لومړی میلادي پیړۍ لومړی کلونه) او په مرکز کې د سترو کوشانیانو امپراتوري (د یما کد فیزس لومړۍ میلادي پیړۍ وروستي کلونه) او د هندوانو امپراتوري تر منځه په دوستانه اړیکو کې د نښلولو په باب یادونې هم شوي دي.
(هموطن مجله **۳/ ۷۳** ګڼه، **۲/ ۲/ ۱۳۸۸** کال، رازقی نړیوال).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ د غزني هېواد د طبيعي عجايبو څو بېلګې

**۱. د غرونو پر سرونو حوضونه :**

الف: د بابا غره پر څوکه داوبو زمردين ډنډونه ؛

که چېرته زموږ د هېواد زياتره غرني او هواري سيمې وکتل شي په هغوي کې څه د طبيعت له پلوه محيرالمقوله مظاهر لېدل کېږي او څه د بشري خارق العاده له عجايبو ډکې پدېدې تر سترګو کېږي هغه چې که د سر په سترګو ليدلي نه وي نو د هغو په باب يې په نقلولو هېڅ باور نه راځي، د بېلګې په توګه د اوبو حوضونه که په طبيعي جوړښت سره د غرونو د لا جګو څوکو پر سر او يا يې په لمنو کې موقعيت ولري او څنګه د منطق له مخې په دې منل کېداى شي چې د اړوندو غرونو له جګو برخو څخه پرې اوبه رابښکته کېږي، مګر که چېرته ددې ډنډونو د پاسه په وارو پټو غرونو د اوبو رابهيدني ذخيرې نه وي نو خامخا دا پوښتنه رامنځته کېږي چې دغو حوضونه اوبه له کومه ځايه راتولېږي.

نو يو له دې ډول حوضونو څخه په باميانو کې د بابا غره پر څوکو يو شمېر ډنډونه دي چې د بابا غره پر څوکو د اوبو زمردين حوضونه بلل کېږي.

هوکي: د بابا د طبيعي ډېرو ښکلو او زړه وړونکو ناپېژندل شوو منظرو څخه د اوبو يو شمېر زښته زيات لوي حوضونه دي چې د باميانو د اوبو د بند امير د بندونو غونډۍ د بابا د غرو د پاسه موجود دي او د نړۍ له عجايبو څخه شمېرل کېږي.

د بابا د غره شاه فولادي لوړه څوکه چې د سمندر له تل څخه (۵۲۰۰) متره لوړوالي لري او د سپينو واورو په ډېريو پوښل شوي ده او د هغوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډاري چې لوړ اسمان ته يې سرونه هسک کړي او د يوې مهبې هېولا بڼه يې ځانته نيولي او لکه ښاماران د خط وخال په لړلو سره خورا ډاروونکي ښکاري. ددې ځای د علي بيګ د کلي د يو سيمه ييز ظاهر چې عصمتي نومېږي او د شاه پولادي څوکې لاندې په نوموړي کلي کې او سېږي ددې حوضونو په باب په دې شرح يو څه معلومات ور کړي دي.

د بابا غره د لړيو د شاه پولادي په څوکه باندې د اوبو (۱۲) حوضونه شته دي چې ډېر لوي ډنډ يې د (حوض عزت) په نامه يادېږی (دا چې ولې ورته حوض عزت ويل کېږي ممکن ددې ډنډ له برمې ډکې منظرې او لوی والي له امله پرې دا نوم ايښودل شوي دي) ددې ډنډ اوږده دوه کيلومتر او ساده (پور) يې يو کيلومتر دي او ژوروالي يې به يې خدای تعالي ته معلوم وي، په هېواد کې تر جګړو دمخه کلونو کې به سيلانيانو په دې حوضونو کې د آبازي په خاطر ځانګړي لباس له ځانونو سره راوور، ګوندي په دې ډنډونو کې لامبو ووهي خو کله چې به يې ددې ډنډونو هولناکه منظره وليدله نو دا جرئت به يې له لاسه ورکړ چې ورودانګي، زياتره سيلانيان چې به له امريکا، اروپا، او يا د نړۍ له يو شمېر ملکونو څخه ددې حوضونو د تماشې لپاره راغلي وو نو ددې...

د لاجوردي او ښکلو منظرو او پاس آسمان ته د هسکو شوو څوکو په ليدلو سره به له ډېر تعجبه ګيچ او ګول پاتې کېدل.

په باوري توګه وويل کېدای شي چې د نورو حوضونو له طبيعي جوړښت څخه هم زياتوو کم د (حوض عزت) د حوض سره ورته والي درلودای شي.

**ب : د تخارستان له طبيعي عجايبو څخه حوضونه او ولاړې اوبه :**

لکه چې دمخه ورته هم اشاره وشوه زموږ په هېواد کې څه د طبيعي خلقت له مخې او څه د بشري شهکاريو له مخې يو شمېر طبيعي عجايب او هنري بدايع شته دي چې په نړۍ کې يې ساري نه ليدل کېږي. او که له واقعيته تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شو زموږ لرغوني هېواد ددې عجايبو او شهکارونو يو په زړه پورې کليسيون دي.

- **د بدخشان د اندمين لوی حوض ( ولاړې اوبه ) :**

د بدخشان د ايو برني تخارستان د اندمين په سيمه کې يو طبيعي لوی حوض دی چې د جهيل يا ولاړو اوبو بڼه لري ډېر پراخ او هوادار دي.

دا ولاړې اوبه د ځو ناوونو ( درو ) په خوله کې چې اوبه ترې را بهېږي پروت دي، دا ډنډ ډېر ژوروالي لري او د يو جهيل غونډې يو نيم کروه اوږدوالي او يوه کروه سور لري، دا جهيل چې په ( چلاب ) شهرت لري.

په دې سيمه کې يې يوه په زړه پورې او ښکلي منظره تشکيله کړې ده دا کول ( ولاړې اوبه ) چې په خپل ذات کې د ځو رودګيو تم ځای دي، شاوخوا ترې د يو شمېر رودونو لړۍ پيل شوې ده لکه چې يوه څانګه يې ( بزای ګنبد ) او د ( لنګر ) په استقامت او بله برخه يې دواخان له پولې نه د ( کاخان ) خواته بهېږي او له ( پنجه ) نه بر د لوي پامير د سين سره يو ځای کېږي او خپل مسير ته د شغنان په لور ادامه ورکوي.

له دې جهيل څخه يو بل رود هم سرچينه اخلي چې ( منارونو ) ته ورځي او وروسته تر هغې چې له ( مرغابه ) تېر شي، دور خوري د شغنان يارکنګ او د آمويه ( کوکچې ) د رود سره يو ځای کېږي، دا حوض په خپل ذات کې ځکه د طبيعت له عجايبو څخه شمېرل کېږي چې د لوړو غرونو په منځ کې پروت دي، حتی په اوړي کې هيڅ تشيده او وچيده نه لري او د نورو رودونو سرچينه بلل کېږي.

- **د بدخشان ( بلخاش ) د منارونو حد بخشي جهيل :**

دا جهيل د بدخشان د حد بخشي د لارې پر سرچې له ( آق سو ) نه يې اوبه اخيستلې دي موقعيت لري او د طبيعي ښکلا تر څنګه د هيليو او قازانو هستوګنځي هم شمېرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **خارجین لوی ډنډ :**

دا جګ دري په سیمه کې یو قشلاق دي چې خارجین ورته وايي او د ۱۲۹۲ مترو په لوړوالي یو سخت غاښي لري د دې غاښي لاندې یو ډنډ دي چې ګرد چاپیر یې ډېره ړنه منظره لري، له خوا وشا زیاتې اوبه په کې ورتوییږي او د دې اوبو د سرچینې هیڅ پته نه ښکاري. دا ډنډ په سیمه ایيزو فلکلوریکي افسانو کې د بدري جمال ( بدري جمالي ښاپیري ) په نامه هم شهرت لري ( ښايي وويل شي چې د بدرجمال د حوض په نوم ډنډ د ننګرهار د محلي په باغ کې هم شته دي.

**ج : د سالنګ د تونل د پاسه ولاړې اوبه :**

دا ولاړې اوبه هم له پوره شهرته برخمنې دي او زیاتو لا رویاتو چې داوړي په موسم د تونل د بندښت له کبله د سالنګ له څوکي هغې خوا ته تېر شوي لیدلي دي. دې ولاړو اوبو ته د تونل له شمالي خولې څخه لاره پورته شوي ده دا حوض هم په دې د جهیل له طبیعي عجایبو څخه ګڼل کېږي د سالنګ دغره پر څوکه د موقعیت له امله یې د اوبو د ورتوبېدلو پاسني سرچینه نشته دي د هغه چا له خولې چې دا حوض یې لیدلي دي، دا ډنډ هم یو پوره مهیب ډنډ دي او په لیدلو سره هیڅوک دا جرئت نه لري چې نه یوازې په کې آبازي وکړي بلکې زیات ور نږدې هم شي.

**خاطره :**

ښايي وويل شي چې د هندوکش د غره د ببلا ببلو لړیو پر څوکو او یا جګو لمنو کې دغسې زیات ډنډونه شته دي چې پېژند ګلوي ته یې پوره اړتیا شته او د اړوندو سندونو د نشتوالي له امله پرې په دې برخه کې څه ونه لیکل شول.

( انیس ورځپاڼه، ۲۳۳ګڼه، ۱۵/۱۲/۱۳۹۱، رازقي نړیوال ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نارنج په نامه یوه تپه او ماڼۍ

زموږ د هېواد د لرغونو سیمو او اماکنو په ترکیبي نومونو کې ځینې یې د ګډو برخو درلودونکي دي، چې له دې ډلې د کابل «نارنج تپه» د کندهار «نارنج ماڼۍ» یادولی شو، او په دې ډول معرفي کېږي:

**۱. د نارنج تپه :**

ښایي اشتباه ونه شي، چې د نارنج د تپې نوم د نارنج د مېوې د نوم سره تړاو نه لري بلکې دا نارنج د کابل د بودایي د لرغونو مهمو سیمو څخه شمېرل کېږي، هغه چې د یو شمېر ارزښتناکو بودایي آثارو له مخې د کابل د مرنجان تر تپې وروسته یې لوړ مقام درلود.

د یو شمېر پوهانو په عقیده د مرنجان او نارنج د تپې نومونه د بودایي زماني د یو ستر مذهبي شخصیت «ناریان یا نارابن» د نوم سره تړاو لري.

دا تپه چې یوه بودایي لرغوني سیمه ده د پنجه شاه د زیارت شمال ختیځ ته، د بالاحصار او حشمت خان د کلا په نږدې برخه کې پرته ده او د سمندر له تل څخه ۱۸۲۲ او یا ۱۸۹۷ متره لوړوالی لري.

که په دې تپه کې د غیر قانوني کیندنو په باب وویل شي نو د سر څېړونکي نظر محمد عزیزي «د افغانستان لرغون پېژندنه» د اثر د لیکنې له مخې چې په کې لیکل شوي دي:

د امیر دوست محمد خان د پاچهۍ په زمانه کې انګلیسي چارلس مسن یا مسون چې د «لوئیس» په مستعار نوم یې ځان معرفي کړې ؤ او په بالاحصار کې اوسېده د ۱۸۳۳-۱۸۳۸ زیږدیز کلونو ترمنځه یې، د هېواد په یو لړ سیمو کې د غیر قانوني سپړنو په ترڅ کې په دې تپه کې هم غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانوني کيندنې وکړې او ترلاسه شوي اثار يې له ځانه سره خپل هېواد ته يوړل.
په همدې ترتيب د نارنج د تپې دا لرغونې سيمه، دلته يو سړي د کور جوړولو په ترڅ کې ( ۱۳۱۳هـ ق/ ۱۲۷۳ هـ ل ) کال کې پيدا کړه، چې د مخه د زمانې په تېرېدلو سره د جوي شرايطو او جغرافيوي عوارضو له امله تر خاورو لاندې شوې وه.
بيا وروسته د افغانستان د لرغون پېژندنې د رياست د پلاوي له خوا چې په دې سيمه کې علمي څېړنې تر سره شولې، د نارنج د تپې ساحه (۳۰-۵۰) مترو پورې وټاکل شوه چې لويديځه برخه يې د زنبورک په غره او سويلي خوا يې د پنجه شاه په زيارت کې نښتې ده.
په دې تپه کې د دې کيندنو په لومړي پړاو کې، څو ستوپې، يو بودايي معبد، ځينې خټينې او ستوکي مجسمې وموندل شوې.
په ۱۳۸۴ لېږديز لمريز کال کې د دې سيمې د کيندنې د دويم پړاو پر مهال لومړۍ دايروي رواقونه چې خټينې مجسمې يې درلودلې او بيا يوه ستوکي د ناستې او تفکر په حالت کې د بودا خټينه مجسمه وموندل شوه.
د کيندنې د دريېم پړاو په ترڅ کې، چې د ۱۳۸۴ لېږديز لمريز کال په منې کې پيل شو، د نارنج د تپې مرکزي ستوپه او د معبد ديوال پاککاري شو او دلته يو شمېر نوري خټينې مجسمې او اثار هم وموندل شول، کوم چې د (۵-۲) زيږديزو پېړيو ترمنځ د بوديزم د زمانې او د (۷او ۱۰) زيږديزو پېړيو ترمنځ د هندوييزم د زمانې استازيتوب کوي. د پنجه شاه زيارت په ختيځه برخه کې يوه بله ستوپه هم وموندل شوه.
تر کومه ځايه چې ليکوال په ۱۳۸۲ لېږديز لمريز کال له دې سيمې په عملي ډول ليدنه کړې نو د خپلې کتنې په پايله کې د نارنج د تپې خورا بډايه مرکز له ښکته څخه مخ پورته خواته په لاندې پنځو مرتبو ويشلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱.د راهبانو لپاره حجره، دير يا ويهاره
۲.مرکزي لويه مدوره ستوپه
۳.رواقونه چې يو شمېر مجسمې په کې په يو څه سالم او نا سالم ډول موجودې وي
۴.نذري ستوپې
۵.اشلان (نغزي) او تر هغې ګردچاپير د ناستې لپاره پاټکي
او بيا کله چې نوموړي پلاوي په دې سيمه کې خپلو علمي سپړنو ته دوام ورکړ نو د يو خبر په لړ کې يې د خپلو کيندنو پايله داسې اعلان کړه.
« يک پيکره بودا در حاشيه جنوبي شهر کابل، که بلندی آن حدود يک متر است و در جوار تپه موسوم به نارنج در منطقه شهدای صالحين کشف شده است که قدامت تاريخی آن حدود پانزده قرن بوده و قبلاً (۲۸) اثر تاريخي نيز ازين تپه بدست آمده اند».
د ښاغلي ظفر پيمان په وينا چې د نوموړي پلاوي په جوړښت کې يې فعاله برخه درلوده ددې معبد په ځينو برخو کې د سوزېدنې نښانې ليدل شوې او امکان لري چې د نهمې پېړۍ په وروستيو کې يعقوب ليث صفاري او سلطان محمود غزنوي له دې ځايه (۵۰) د سپينو زرو مجسمې او يو شمېر سکې ترلاسه کړي او د اسلام خليفه ته يې بغداد ته ليږلي وي.

**۲.د نارنج ماڼۍ :**

د نارنج ماڼۍ چې فرهنګي اهميت يې هم درلود د هوتکي شاه حسين ادب پال پاچا ادبي دربار به په کې جوړېده، نوموړي او ترده را ټول شوو شاعرانو به په کې شاعري کولې او ادبي بحثونه به په کې ترسره کېدل.
« د پټې خزانې» مؤلف محمد هوتک ددې محلفونو د منشي توب دنده په غاړه درلودله او د پښتو ادب زياتره ذخيرې دهمدې دربار له برکته را غونډې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارګ او نارنج ماڼۍ په ۱۱۵۰ لېږديز سپوږميز کال کې د نادر افشار له خوا د يوې کلنۍ کلابندۍ وروسته د درندو توپونو په ګوازرونو ونړيدله او ورو ورو د يوې تپې په بڼه واوښتله.
( بی سیم مجله، رازقي نړيوال ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاپیسا – بگرام واژه های ستوده ارزش های باستانی این خطه سرزمین ما

**۱.وجه تسمیه بگرام :**

تا جایی که معلوم است عده زیادی با نامهای دو محل بگرام در یکی از نزدیکی منطقه عبدالله برج پروان کاپیسا – بگرام یعنی بگرام یا ویگرام مشهور باستانی می باشد که پایتخت بهاری و تابستانی، دوره شگوفان، امیراطوری بزرگ کنشکای کبیر بوده و در پهلوی تاکسلا یا تکسیلا پایتخت زمستانی این دوره از اهمیت بساولای برخور دار بود.

و بگرام دومی عبارت از بگرامی است که به استقامت شمال غرب پشاور موقعیت داشته و فعلاً صرف در اثار تاریخی و مذهبی، در ادبیات و اشعار پشتو مقام ارجمندی را دارا می باشد و بنام د ( بگرام ترکی ) یعنی زیبا صور تان بگرام از آن ستایش ها بعمل آمده است.

برعلاوه ازین با پساوند گرام ستوپه شتر گرام در جبل السراج نیز موجود بود و به همین ترتیب اگر جغرافیای تاریخی نورستان ( کتور و بلور ) باستانی مورد مطالعه قرار گیرد باداشتن پیشاوند و پساوند کلمه « گرام» عده از مناطق آنجا را به معرفی می گیرد.

بگرام ( باگرام یا ویگرام ) از کلمات گرام و گرامه اقتباس شده و نام سانسکریت می باشد و به اساس اعلام جغرافیوی گرامه Grama در سرود های ویدی به معنای تجمع افاده شده که همین اکنون این کلمه در مفاهیم کلمات گرامه، گرام و گرام حفظ و معنای یک قریه را افاده میکند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

و یا کلمه گرام شکل عام پراکیت Prakit بوده که نیز به معنای قریه می باشد و یا بنا به قول دیگر این گرامه متشکل از چند گوشته بوده که معنای لفظی مجموعه و محل تجمع را می رساند.
دانشمند آلمانی «زیمیر» گرامه به عشیره ها ترجمه داشته که آریایی ها در جهان مهاجرت های شان همه این تخت قیادت و مراقبت یک مشر به ادامه مهاجرت پرداخته و موصوف را گرامنی (Gramani) و یا رئیس یک گرامه می نامیدند.
همین اکنون این کلمه در نامهای عده از قریه جات نورستان مفهوم ریشوی خویش را حفظ کرده است که بگونه پیشاوند و پساوند آمده است کپیتان کنگهم انگلیسی در
«جغرافیای باستان هند» خویش می نویسد:
کلمه بگرام در اصل ویگرام بوده که گرام در سانسکریت به معنای شهر معنای «وی» پیشاوند توصیفی و تعریفی آن است یعنی شهر مرکزی نهایت مهم و یا پایتخت شاهی می باشد. جنرال مسون یا چارلزمسن انگلیسی میگوید: بگرام از بیگرام عبارت بوده که «دام» در سانسکریت به مفهوم شهر و «بیگ» در ترکی معنای «خان» دانسته و مفهوم ترکیبی آن شهر خان ها و شهر نجیبان بوده است از جانب دیگر «رام» در سانسکریت وقتی به زبان اهل هنود به مفهوم «خدا» بوده و اگر بیگ باغ فارسی شود و «غ» آن به تعویض «گ» با گ رام شده و معنای ترکیبی «باغ خدا» را افاده میکند و تلخیصاً بگرام به مفاهیم پایتخت، شهر نجیبان، باغ خدا، قریه راهبان و قریه پرمیمونیت گفته شده است.
و اگر مکرراً گفته شود بنا به یک قول دیگر گرام که در سانسکریت به معنای شهر است و با گرام با پیشاوند «با» مفهوم توصیفی را رسانده و به

(c) ketabton.com: The Digital Library

باگرام ضبط شده و سپس در محاورات روز مره حرف الف آن حذف گردیده شکل بگرام را به خود گرفته است.
در نتیجه بگرام « یاگرام» در اثار یک عده باستانشناسان و محققان، بویژه شهر شاهی باستانی شهر شکوهمند و از همین قبیل القاب توصیفی کاپیسای پروان توصیف شده است که نمونه گویای آن نیکلیای باستانی با نیسای کاپیسا - بگرام بوده که بعداً به صفت پایتخت بهاری و تابستانی کنیشکای کبیر این امپراطور بزرگ دودمان شاهی کوشانی ها توصیف گردیده و در راستای شگوفایی، توسعه و انکشاف، تعلیم و ترویج آئین بودایی مقام والای جهان را احراز نموده است.

**۲. تاسیسات و چگونگی ساختاری شهر بگرام :**

تا جای که از شواهد تاریخی و واقعیت های عینی برمی آید بگرام دارای موقعیت بس مهم و اهمیت تاریخی، فرهنگی، مذهبی و ستراتیژیکی می باشد.
اگر از نگاه موقعیت جغرافیای گفته شود بگرام - کاپیسا در ساحه عبدالله برج کنونی در نقطه تلاقی رود های شتل، پنجشیر، سالنگ و غوربند قرار دارد.
و چنانچه قبلاً اشاره شد قبل از اینکه به این نام مسمی شود بنامهای نیکایا، نیکایه، نیسا، نیسه وغیره یاد شده و این زمانی است که در ۳۲۸ قبل از میلاد سکندر مقدونی با این شهر رسیده و آنرا بنام نیکایا یا نیسا یاد کرد. و زمانی که در قرن هفتم میلادی کاپیسا - بگرام مرکزیت بهاری و تابستانی کوشانی ها به خصوص امپراتوری کنیشکای کبیر مقام شایانی را احراز نمود، این محل بنام همان باگرام و بگرام توصیف گردید طبیعی است که این شهر شکوهمند تاسیسات زیاد الوصفی را حایز بوده که در مورد شیوه سبک و مشخصات ساختمانی آن بدین شرح معلومات ارایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شده میتواند و به اساس نظریات دانشمندان و باستانشاسان از جمله موسیو گرشمن باستانشناس فرانسوی تاسیسات آن را با تاسیسات شهر «یورای» یونان مشابهت داده و مینویسد.

در اعمار هر دو قلعه ( شهر و شارستان ) به اضلاعی اهمیت تدافعی داده شده که از آن استقامت احتمالات تعرضات متصور بود. در ساختمان هر دو قلعه ها بالای رود خانه مرکزیت و حاکمیت نظامی در نظر گرفته شده است، دروازه اساسی آنها در ضلع جنوبی به طرف جلگه موقعیت داشت بگفته موصوف موسس یعنی معمار این شهر با نقشه شهر سازی یونانی بلدیت تام داشته است بر مبنای نظریات دانشمندان شهر کاپیسا - بگرام که نه تنها به مثابه پایتخت شکوهمند و با عظمت دوره کوشانی محسوب می گردید بلکه در برخی موارد به صفت مملکت مستقل کاپیسا - بگرام نیز از آن تذکراتی بعمل آمده اند.

طوریکه حاکی است در مشخصات ساختمانی شهر خصوصیالت تدافعی ملی و محلی نیز مد نظر گرفته شده است چنانچه در زوایه ها و نقاط دیگر قابل دفاع، شاهبر جهایی مستحکم وضخیم و در دیوار های به سمت جنوبی آن بر جهای با هم نزدیک که به خاطر ترصد و انداخت از آن استفاده میشد. موجود بودند پروفیسور تولستف باستانشناس روسی میگوید :

شهر های که در دو جانب رود آمو احداث گردیده بود به اساس باد های شدید زیر ریگها و خاکریزه ها مدفون گردیده و بعداً شهر جدید البنیاد اند و به هر اندازه ایکه از سواحل بدور واقع اند به همان اندازه سابقه تاریخی زیادی را دارا اند.

او می افزایذ قلاع استحکامی و شهر های که قبل از میلاد در عصر یونانی ها اعمار گردیده اند ، در امتداد دیوار های آنها برج ها وجود ندارد ولی دارای تیر کش های با هم نزدیک اند که مثال برجسته آن در قلعه جانباز

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان در پنجاه کیلومتری شمال سرایخواجه بخوبی مشاهده میشود. شهر بگرام از نگاه دروازه ها، دیوار ها و فواصل بروج با قلعه های خوارزم مشابه اند.

که در اثنای حفریات آثار دیوار ها و بروج این شهر کشف گردیده است.

بطرف شمال شهر بگرام یعنی قسمت نشیب آن بطرف دریای پنجشیر بوده و طبعاً در آنجا حصار نیز وجود داشت اما بعداً در اثنای زراعت به مرور زمان از بین رفته است.

در امتداد بازوی این حصار برآمده گی نیز دیده میشود که از روی تعبیه (تکتیک) چنانچه در بازوی شمالی قلعه جنگی کابل به وضعیت تدافعی شهر استحکامی می بخشید.

زوایایی جنوب و غرب دیوار های قلعه نهایت مستحکم بوده و درین قسمت یک شاهبرج نیز وجود داشت بازوی غربی قلعه به اندازه ۵۰ متر طول داشت در حالی که برج زاویه شمال غرب آن چند مراتبه از بروج دیگر کوچک بود. که ۱۲٫۲ متر طول و ۸٫۹۰متر عرض را دارا بود.

یک مدخل قلعه بین دیوار جنوبی یعنی به استقامت جنوبی جلگه کوهدامن موجود بود که ازین مداخل یک جاده به ساحل جنوبی دریای پنجشیر امتداد داشت و برای امکالات لوژستیکی از آن استفاده یعمل می آمد.

دانشمندان فرانسوی نامبرده در ۱۹۴۲میلادی در خرابه های آن حفریات و کاوش ها بعمل آورده و عقیده داشت که درین محل یک قشله نظامی نیز موجود بود که بانی آن سکندر مقدونی بود.

(انیس شماره ۲۲ مورخ ۱۳۹۱/۲/۹، رازقی نہیوال).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کوهدامن سکندري کلا

دا «سکندری حصار» چې د سیمې خلک ورته سار سکندر یا تپه حصار وایي په حقیقت کې دا د مقدوني سکندر د هغو سکندریو د لړۍ یوه سکندریه ده، چې تر میلاده ۳۳۰ کاله دمخه په هرات کې د هرې سکندریې په آبادولو سره پیل شوه او د افغانستان د لویدیځې او جنوبي سیمو د سفر د خط السیر په اوږدو کې د یو شمېر سکندریو تر جوړولو وروسته کله چې مقدوني سکندر ۳۲۸ کال تر میلاده دمخه د کابل حوزې ته را ننووت، په کوهدامن کې یې دغه پخه کلا جوړه کړه.

که څه هم ځینې لیکوال ادعا کوي چې سکندر د خپل سفر د تګ لارې په بهیر کې د کابل ښار ته هم راغلی دي، خو زه د هغوی د دغې نظریې سره موافق نه یم او د خپلې ادعا د ثبوت لپاره به کافي وی چې د ارواښاد احمد علي کهزاد (افغانستان د تاریخ په رڼا کې) په پښتو ژباړلي اثر د هغې برخې په را اخستلو بسنه وکړم چې په دې تړاو یې لیکلي دي.

«... د سکندر خط السیر له غزني نه وروسته بیا هم غرونو ته په نږدې نږدې ساحو کې، له وردګ میدان او ارغندي نه تیر شوي خو کابل ته نه دي راغلی او هماغې له ارغندي څخه مستقم د پغمان د غرونو له لمنو (او د چمتلې له دښتې، لیکوال)». د کاپیسا سیمې ته را داخل شوي او دلته یې بیا سراي خواجي ته نږدې چې یو شمېر کنډوالي لري او په سارسکندري او حصار سکندري شهرت لري یو مستحکمه کلا ودانه کړي ده.(۱۰۳مخ)

**د سکندري حصار جغرافیوي موقعیت :**

حصار سکندر د اوسني کوهدامن سراي خواجه ته ۲ کیلومتره نږدې د کابل چاریکارو د لویې لارې د جنوب ختیځ برخې په ۲۵ کیلومتري واټن له کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخه وړاندې، د هغه رودګي په جنوبي غاړه کې موقعیت لري چې د شکر دري ښخه يې سرچينه را اخستلې ده.
ددې لپاره چې د حصار سکندر د پېژندنې په اړه مو يوه مقدماتي نقشه وړاندې کړې وي نو به د ارواښاد احمد علي کهزاد د پورتني اثر د هغې مقالې لنډيز ته ور وګرځو چې د سکندري سار يا سکندري کلا تر عنوان لاندې يې ليکلې ده: نوموړي ددې کلا د موقعيت په باب په خپله ليکنه کې داسې زياتوي، دا ستره کلا او يا يې خرابې او پاتې شوونې د پخواني کاپيسا ، بګرام په سيمه ( او سني کوهدامن ) کې سرای خواجه ته په نږدې سيمه کې موجوده ده که چېرته پخواني د پښو لار په پام کې ونيول شي.
نو ويل کېدای شي چې دا کلا د کابل او سرای خواجه ترمنځ پرته ده او البته د کلا کنډواله له سرای خواجې سره ډېره نږدې ده او د جنوب ختيځ پلو ته د (۲) کيلومترو په واټن موقعيت لري، کوم کسان چې ددې زړې کلا د کنډوالو د ليدلو لپاره ورځې نو بايد چې د تګ را تګ په لاره بلدوي د سکندري د کلا لار همدغه له کابل ښخه د شمالي په استقامت اوسني لار ده او له کابل ښخه نږدې تر **۲۵** کيلومترو وروسته د ختيځ خواته د انګورو باغونه او کرنيزې ځمکې او يو شمېر غونډۍ تر سترګو کېږي.
له يو څو کورونو ښخه چې تېر شو ، يوه خاورينه غونډۍ مخې ته راځي او پر سر يې يوه کنډواله څرګندېږي، تر هغې چې يو وړوکي خوړ يا ويالـه را رسېږي که ددې خوړ په هغه خوا کې د يوې خاورينې او ډبرينې غونډۍ له پاسه د يوې کلا کنډوالې ښکاري، دهغې سيمې د نږديو کليو وګړي د خاورو دغې ډېري ته چې شواهد او اثار يې دننه په کلا کې معلومېږي. د معمول له مخې ( سار سکندري، وايي او دا له احتماله لېرې نه ده چې د سار د کلمې نه مقصد حصار، شار يا شهر دي، داسې باسواد خلک هم شته دي چې دې کنډوالې تـه( حصـار سـکندري ) وايـي او کـه چېرتـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستراتېژيکي او سوق الجشي اهميت له نظره وکتل شي نو په پريکونې ډول ويل کېداى شي چې دا کنډواله د پخوانيو کلکو کلاګانو پاتې شونې دي.

**د سکندري کلا ساختماني ځرنګوالي :**

د اروابناد احمد علي کهزاد د پورتني اثر ددې بحث په دوام د سارسکندري د وداني ساختماني ځرنګوالي داسې ښودل شوي دي.

همدغه رودګي چې دمخه ترې يادونه وشوه د کلا شمال او لويديځ پلو ته يې يوه ډول طبيعي خندق جوړ کړي دي، ددې کلا زياتې برخې کندي او ګودال شوى دي چې نښې نښانې يې موجودې دي، نو په همدغه ترتيب نوموړي کلا دنړېدلو ديوالونو د اوبو لارې او په چاپيريال کې طبيعي خندق او لار ده او په خپله کلا د يوې موړي دپاسه چې د ډبرو او خاورو لرونکي ده پرته ده د کلا ګرد چاپير يو ډير سورور ديوال له مستحکمو برجونو سره موجود و او نن يې ورانو شوو ديوالونو د ماهي د شاغوندي بڼه نيولي ده.

احتمال لري چې دې کلا ځلور دروازې درلودلې، د ختيځ او جنوبي برخو د دروازو موقعيت يې ښه تشخيصيدلاى شي، بې له شکه ويل کېداى شي چې ددې کلا عمومي لويه دورازه جنوب پلو ته ده، له دې دروازې نه چې کومه لار دننه تللې ده له لنډې دورې نه وروسته يو برج ته ورغلي وه چې دا کلا مرکزي او لوړه برخه ده.

**په سکندري کلا کې ترلاسه شوي اثار :**

د اروابناد احمد علي کهزاد په پورتني بحث کې په دې حصار کې د کيندنو او ترلاسه شوو اثارو په اړوند ليکلي شوي دي:

د سار سکندري په کنډوالو کې تراوسه پورې کومه علمي پلټڼه نه ده شوي او د هغه سيمې د ورنړدې کليو او کورونو خلک ددې کلا خاورې خپلې کرنيزو ځمکو ته د سرې (کود) په ډول وړي او ددې خاورو د وړلو په وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زیاتو برخو کې، د کلا په دهلیزونو کې رانښکاره شوي ښښتي چې د دیوالونو په جوړولو کې کار اخېستل شوي، ډیرې غټې، پخې او خامې دي د اندازې او لویوالي له مخې د بګرام له ښښتو سره دومره توپیر نه لري لکه څنګه چې څرګنده ده د بګرام د ودانۍ، د دوهمې قبل المیلادي، پېړۍ په نیمايي کې د یونانیانو پر وخت د لویو کوشانیانو په دوره کې جوړې شوي او له لومړې څخه تر دریمې مسیحي پېړۍ پورې یې د خپل عروج دوره تېره کړې ده او تر ۴۰ – ۲۲۰ میلادي کلونو پورې ودانه وه.
لکه څنګه یې د جوړولو استنباط د قبل المیلاد څخه کېږي نو بیا سار سکندري د مقدوني سکندر له خوا جوړه شوي ده نو باید چې هغه د پروان د سکندري ( سکندریه ققفاز ) سره په یو مهال کې وکتل شي.
دا کلا حتمی د کوشانیانو په دوره کې آباده او روغه پاتې وه چې د آبادي او جوړېدو د تحول تاریخ یې د کاپیسا ، بګرام له ښار سره په موازې ډول مطالعه کېداى شي.
لکه چې دمخه ورته اشاره وشوه، تر اوسه پورې په دې کنډوالو کې کیندنې نه دي ترسره شوي، خو د خلکو له خوا د خاورو د وړلو په وجه پخواني شواهد لکه سیکې، غمې، مرې
( مهرې ) اونور شیان چې د یونانیانو او کوشانیانو په دورو پورې اړه موندل شوي دي.
ددې دورې د سیکو شهادت د نوموړو دورو لپاره ددې تاریخي کنډوالو د ارتباط ښه نښانه ده او د تاریخي سنجش او موازینې له مخې په اساني سره سمون لري.
د بهرنیو پوهانو له ډلې څخه هغه چا چې دلته لنډه شان مطالعه کړې ده مشهور فرانسوي ختیځ پېژندونکي مسیو ګرشمن دي چې د دوهمې نړیوالې جګړې ( ۱۹۳۹ – ۱۹۴۵م ) په کلونو کې په افغانستان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسوي لرغون پيژندونكي هييت مدير و ، او په اتفاق سره مو يو ځاى د صدق آباد ، ريزه كوهستان، او د سارسكندري كنډوالو له پاتې شوونو ښخه لېدنه وكړه نومورې لرغون پوه ددې ليوالـه ؤ چې دا كنډوالي د اورتسپانا د ښار پاتې شوونې بولي چې معمولاً د هغو موقعيت د كابل سيمه ګڼي.

بل ختيځ پېژندونكي فرانسوي موسيو فوشه د اورتسپانا د ښار موقعيت د بودايي كابل مربوط د چكري او خورد كابل سيمه يادوي.

په هر حال دا ځانګړى بحث دي چې د هغې شرح دلته كېداى نه شي ( ۹۳-۹۲ مخونه ).

**په اوسمهال كې، د تپه حصار يا سار سكندرى يو كوچني انځور :**

له يوه وخته زما په پام كې و چې په يو مناسب وخت كې د يو راه بلد په مرسته له دې كلا ښخه كتنه وكړم او د اروا ښاد احمد علي كهزاد د نومورې اثر له لياري د ترلاسه شوو معلوماتو لمنه پراخه كړم.

دا وه چې د ۱۳۹۰ كال د ليندى د مياشتې په پنځمه نېټه د يو هنې وزارت د تعليمي اوتربيتي تلويزيون په بلنه د سارسكندري د كتنې لپاره هلته روان شو ، دا چې زما سره ددې ځاى پو ښه پته وه مګر د كابل - چاريكارو د عمومي واټ هغې برخې ته را ورسېدلو چې ښې لاس ته په يو ښه نږدې سيمه كې دغې تپې موقعيت درلود ، د واټ تر څنګ د يو دوكان په خوا كې څو سپين ږيري ناست و ، موټر مو ورته ودراوه ، له دوى مو وغوښتل چې سارسكندري راته وښيي ، د دوى له منځه يو سپين ږيري را پاڅېد او د راه بلد په توګه زمونږ سره ملګري شو ، ځان يې محمد صديق نومي ددې سيمې نماينده را معرفي كړ چې يو اوم سرك د يو څو كورونو له منځه تېر شو او له هغه رود له يو پل نه تير شو ، البته په پخوانيو وختونو دې رود پريمانه اوبه درلودلې او په رښتيني سره د كلا د شمالي او يو ښه ختيځې برخې طبيعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندق يې تشکيلاوه دلته څو تنه ولاړو د دوی له منځه يو تن ځان ددې سيمې معلم امير خان معرفي کړ هغه هم موږ سره ملګري شو.
ددې رودګي د پاسه د نږدې دوو مترو په لوړوالي د تپې د پاسني برخې په بيخ کې يو غار
( تونل ) و، کله چې ور ننوتلو دانسان له قده ډېر لوړ او په کماني شکل د هغې زمانې له پخوا خښتو څخه پوښل شوي و او لا نړيدلي نه و، څو ګامه يې خوله بيرته وه، خو بيا وروسته بنده شوي وه. محمد صديق خان او معلم صاحب له خولې ددې سيمې خلکو ورته ( غار اژدها ) وايه په رښتيا چې دا يو هيبتناک غار و.
په هېواد کې پريو شمېر استحکامي تاسيساتو کې دا ډول غارونه د امنيتي تدبيرونو د موخو له مخې پوره امکان لري چې د سارسکندري شارستان داوبو او نورو ضرروي موادو د خوندي رسولو په خاطر له دې غاره کار اخېستل کېده او دا د سکندري کلا هېڅ يوه دروازه نه وه.
د حصار سکندري يعنې ددې سکندري ساختماني شکل د تپې د توپوګرافي جوړښت له کبله غير منظم و نه يې مربع شکل درلود او نه مستطيل الشکله وه دا چې اروابناد کهزاد د حصار دکومو احاطي ديوالونو څخه يادونه کړي ده، زموږ د کتنو په مهال دهغوی هيڅ نښه نښانه پاتې نه وه، نو دا هېڅ معلوم نه شوه چې تهداب يې له څه ډول کلکو ساختماني توکو څخه جوړ شوي و، څرنګه چې د حصار ختيځې جنوبي او يو څه لويديځې خواته ځمکې ژورې وي نو دا په دې دلالت کوی دغه برخې د حصار خندقونه وو.
ددې حصار د پاسني عمومي تلي له مطالعې څخه څرګندېږي چې کلا په دود برخو وېشل کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښکتنۍ برخه چې هماغه غار ترې لاندې پروت دي، هوار تلې يې د لود او کيندنې په کې شوي وي.

دنوموړي محمد صديق خان او څو حاضرو سپين ږيرو له خولې چې يې وويل: په ۱۳۵۲ او ۱۳۵۳ کلونو کې دلته په کلا کې د يو جاپاني هييت له خوا کيندلې پيل شولې، دوی ورسره په ورځنۍ مزدورۍ کار کاوه، هغوی هر څه چې موندل لکه سکې، مهرې، نګينونه فراګمنتونه او داسې نور له ځانه سره وړل د دې کيندنو له امله چې د کلا په پاسنيو برخو کې ترسره شولې، قوتۍ او کندې يې په څرګنده توګه کېدل او د تيکرونو بېلا بېلې نمونې يې هرې خواته پرتې دي څرنګه چې د حصار د پاسه زياتې خاورې انبار شوي دي نو په کې د ودانيو د تهدابونو د را سپړلو کار نيمګړې پاتې وو.

د کلا دوهمه پاسنې برخه چې مخ په ختيځ او شمال او يو څه د جنوب خواته او لويديځه برخه يې د ښکتنۍ برخې د پاسه پرته ده او څومتره لوړوالې لري دلته هم يو هوار تلې شته دي، او د يو څو لويو برجونو کنډوالې چې منځونه يې خالې دي د ډېريو غونډې ښکارې چې په غربي، شمالي او جنوبي خوا وو کې په ټاکلي اندازې يو له بله لېرې دي.

د اټکل له مخې له احتماله لېرې نه ده چې د حصار سکندري دا برخه د کلا ارګ او يا شارستان به وو، او نوموړي لوی برجونه د دوی په بازوګانو جوړ شوي وو د شارستان يوازې د لويديځ ديوال د حصار د ښکتنۍ برخې ګډه دي او نورې درې خواوې يې د کهزاد صاحب وينا د پاخه ديوال د رود او د خندقونو په واسطه محاط شوي وي.

چې شارستان کې لکه چې د مخه وويل شول د نوموړي جاپاني هييت د کيندنو په نتيجه ژور قوتي او کندي په خپل حال پاتې دي، او هر پلو يې پر سر باندې ډول ډول تيکرونه پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قراینو له مخې د کلا دا شارستان د مقدوني سکندر د کورني لوړ پوړو پوځي او ملکي کسانو د استوګنې لپاره او ښکتنې بالاحصار د ټیټ رتبه او پوځیانو د اوسېدلو لپاره و.
همدا اوس چې د کلا د تلیو پر مخ کوم اثار په زیاته پیمانه لیدل کېږي هغه د پخو خښتو تیکرونه او فراګمنتونه دي او په ډېر تعجب سره ښایي وویل شي چې د هغې زمانې په هغسې مخصوصو کورو او داشونو کې د غه خښتې پخې شوي وي چې په کلکوالي کې له ډېرو کمې نه وي.
همدا رنګه د شیست د ډېرو ټوټې هلته په زیاته اندازه پرتې وي، د نوموړو سپین ږیرو په وینا په دې برخه کې د جاپانیانو د کیندنو په نتیجه کې یو بت ( مجسمه ) هم ترلاسه شوه خو د دې بت د کشف کېدو شتون چې دلته د یوې بودایي سیمې په موجودیت دلالت کوي د مقدوني سکندر د زمانې سره هیڅ تړاو نه لري او له امکانه لېرې نه ده چې په را وروسته زمانو کې کاپیسا – بګرام د کوشانیانو په تېره بیا د ستر کنیشکا د امپراتوري مرکز او په شاوخوا کې یې بودایي سیمې لکه پاتیاوه او د جانباز خان کلا موجودي دي، نو کېدای شي چې په دې حصار کې د بودایي آیین پیروانو مرکز درلودلې وي.
دا چې وایې: د دې تپې خاورې له نږدې ځمکو څخه په بیګارۍ ډول را وړل شوي او د یوه مصنوعي تپه ده، زه ورسره موافق نه یم دا ځکه چې که د تپې لاندنې برخه وکتل شي نو هغه ډېرینه ده نو که د پاسنې برخې د ودانیو د کنډوالو موارد نه وای نو دا هم له ډېرو څخه ده او ځای لري چې نیمه خاورینه تپه ورته وویل شي، که چېرته په دې سکندري حصار کې فني او مسلکي کیندنې ترسره شي نو به په محقق ډول به د هغه ساختماني څرنګوالي په ډاګه شي او دا به هم معلوم شي چې څو اساسي او څو فرعي دروازې یې په کومو بازوګانو کې درلودلې که څه هم کهزاد صاحب یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څلور دروازې ښودلي دي دا به هغه څرګند ه شي د حصار محاطوي ديوالونو څومره لوړوالي، سور او اوږدوالي درلود او په يادو شوو لويو برجونو يې نور څومره برجونه د حصار په کومو برخو کې درلودل او په همدې ډول به يې په د ننيو برخو کې د ودانيو څرنګوالي راته معلوم شي.
لنډه دا چې تر اوسه پورې پرته د څو قبرونو چې حضيري په شکل په دې وروستيو وختونو کې جوړه شوې ده، په تپه کې د سيمې د زورواکانو له خوا کوم تصاحب نه ليدل کېږي، او يوازې د جګړو په کلونو کې په کې ژور خندقونه او موضوعګانې ايستل شوي دي زما وړاندېز دا دی چې په راتلونکي دي دا تپه لاله تصاحبه په امن وساتل شي، او که امکانات مساعد شول علمي څېړنې او مسلکي کېندنې دې د يو لرغون پېژندونکي هيئت له خوا ترسره، او د هغوی د رپوټ له مخې دي د دې سکندري کلا په اړه لازم معلومات د څېړونکو په واک کې ورکړ شي.
(انيس ۲۳۸-۲۴۰ ګڼې، ۱۳۹۲کال، رازقي نړيوال).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سرای خواجه د سکندر له تپې یا حصار څخه ترلاسه شوي اثار

د اروانباد کهزاد د لیکنې له مخې چې وايي: د بهرنیو پوهاند له ډلې څخه هغه چا چې دلته لنډه شان کتنه کړې ده مشهور فرانسوي ختیځ پېژندونکي موسیو ګرشمن دي چې د دوهمې نړیوالې جګړې په کلونو کې په افغانستان کې د فرانسې د لرغون پېژندنې مدیر ؤ.(۱)
د اروانباد کهزاد په دې اثر کې چې یوازې د سکندري ساریا سکندري کلا د جوړېدو په نېټه او ساختماني ځرنګوالي یې لنډ بحث کړي خو ددې لرغوني سیمې پر لرغونو آثارو یې څه رڼا نه ده اچولې او د هغې سیمې د اوسیدونکو له خولې یې لیکلي چې له دې ځایه د خاورو اړولو په مهال یې ځینې اثار پیدا کړي دي.
تر حو چې سرمحقق میر عبدالرووف ذاکر د خپلې یوې علمی تحقیقي پروژې په لړ کې ددې سیمې دکشف شوو اثارو په اړه پوره معلومات وړاندې کړل او په دې باب یې لیکلي دي:
دا تپه په ۱۹۷۰م – ۱۳۴۹ هـ ل کال د جاپان د کیوتوي د پوهنتون د لرغون پېژندنې د هیبت له خوا تر څېړنې لاندې ونیول شوه چې په پایله کې د ودانیو او معبدونو پاتې شونې مرمرینې مجسمې، کلالي لوښې، سیکې، ډبرین، فلزي، عاجي او ښیښه ایز شیان په بېلا بېلو ډولونو تیراکوتا او داسې توکي ترلاسه کړل، پخوانیو پوهانو او لرغون پېژندونکو هم ددې تپې د بیا موندل شوو آثارو په اړه نظریې وړاندې کړې وې چې له دې منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر شاهي بای مستمندي دا تپه د دربېيم بګرام او مرنجان دغونډۍ سره تړاو ورکړي دي چې دغه آثار په دې ډول معرفي کېدای شي.
د څېړنو په ترڅ کې دلته یو معبد را ښکاره شو چې د پرچال د ډبرې د یوې جعبې د پاسه له اومو خښتو څخه ودان شوي وو ددې معبد د زینې لومړۍ پاړکي د ودانۍ د دیوار له سطحې څخه د ۳۰ سانتي مترو په شاوخوا کې تېټ دي او ددې ودانۍ په ختیځه برخه کې یو بې دروازې خونه ده چې لویدیځې د ننې برخې دیوال مخ یې د تور لوګي په واسطه پټ شوي او د پرچال د ډبرې او د اومو خښتو په ټوټو پرانه شوي او بیا په اومې خښتې په منظم ډول پوښل شوي دي. ددې لپاره چې دا برخه تراوسه پورې په منظم ډول نه ده سپړل شوي نو نوموړي هیبت ددې ودانۍ په تشریح کولو او ښې پوهېدنې لاسرسي نه دي موندلي، خو ددې ودانۍ پلان دتاکسلا د زندیال د معبد د بنا سره تړاو اوورته والي لري. یوازې دومره توپیر لري چې د زندیال د معبد له د ننیو برخو څخه چې مجسمې په کې پرتې دي د هغې په مخ کې احاطوي ستون پایې دي چې د سکندر تپه دا ډول جوړښت نه لري.
د استوګنې ودانۍ هم په دې غونډۍ کې له خاورو را ایستل شوي چې له ختې، اومې خښتې او زړې سنګ کاري لري او بعدونه یې ۴۲x ۲۷ متره د کوچنیو کوټو سره ضمیمه جوړه شوی دي ددې دیوالونو پنډوالي ۸۰ سانتي مترو دي خو د لویدیځې خوا احاطوي دیوالونو یې ۱۲۰ سانتي متر پنډوالي لري.
د لومړني دورې ودانۍ د طبیعي ډبرو د پاسه جوړې شوي چې له دغو ډبرو څخه د تهداب په توګه کار اخستل شوي دي دا دیوالونه منظم شکل لري او د پرچال له ډبرو اومو خښتو او اصیلو ساختماني توکو څخه جوړ شوي دي.
د سکندر له تپې څخه ختین لوښې هم ترلاسه شوي چې د بېلا بېلو رنګونو او د لعاب لرونکي سره او نصواري رنګ درلودونکي دي، د لوښو د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر مخونه صیقل شوي خو ځینې نور یې صیقل شوي نه دي او ځینې یې میده رنګ دي.
دا لوښې د نازک استر ( لایه ) لرونکي وو او له دې منځو زیاتو یې د ګل او حیوان، غرڅه، وزې، هیلۍ، اس په شکل او د سپوږمۍ، ګل او پاڼې، د تاکو د پاڼې شکلونو هندسي موازي او منکسر خطونه یې درلودل. هغه چې د مرنجان د تپې او دربیم بګرام د کشف شوو لوښو سره یې تړاو درلود او مهرونه یا ستمپ یې سره ورته و.
د سکندر د غونډۍ سیکې د معمول له مخې د سپینو زرو او مسې وې چې یوه نقره اي سیکه یې ساساني وه او د لومړني قشر له ښکتنې برخې ترلاسه شوې او د لومړي قباد پورې یې تړاو درلود چې وروسته یې څنډې غوڅې شوې او د اچولو لپاره کارول کېدلې.
دوه دانې مسې سیکې چې یوه یې د سوتر میګاس یا ویماتکتو ( ویماتکشا ) او یاد نورو په خروشتي داګاه داس متعلق دهندو پهلوی له پاچهانو وې.
پورتنې سیکې د سکندر د تپې پورې تړاو نه درلود، په داسې حال کې چې د سکندر د غونډۍ اصلي اثار چې د لومړني فرش څخه ترلاسه شوې د مرنجان دتپې او دربیم بګرام د آثارو سره چې (۱-۲ م) پېړۍ په شاوخوا کې یې نېټه وهل شوې، پوره ورته والي لري.
د سکندر د غونډۍ د سپړنو په ترڅ کې د سرو زرو یوه دانه غوږوالۍ د کړې په شکل چې پر مخ یې پنځه کړۍ چې ډېرې کوچنې او یوه د بلې سره په پیچل شوي شکل کار شوې و ترلاسه شوې چې د دې غوږوالې د پندک په بڼه یو صدف هم ولیدل شو چې ۳,۲ سانتي متر اوږد او ۲,۲ سانتي متر سور ورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د دیرشو ټوټو په شاوخوا کې د مرمرینې ډبرې ټوټې او د استوګنې د ساحې د لومړني دورې ( ښکتنې دورې ) له برخې څخه کشف او ترلاسه شوي چې د یوې پر مخ ساساني کم عمقه پروفیل ( نیم رخ ) حک شوي دي.
- هغه ډېر ګران بیه اثر چې له دې ځایه ترلاسه شوي هغه د ( اومه مهیشوارا ) مجسمه ده چې سکوه ( تخت ) یې درلود او ددې سکوې له لاندنې برخې د مجسمې تر پاسني برخې پورې چې ۸۱,۵ سانتي متر لوړه او په اعظمي ډول ۱۸ سانتي متر پیړه وه اندازه یې اخېستل شوي وه.
هغه تخت ( سکوه ) چې مجسمه پرې انتقالیده درې کرښې کتیبه یې هم درلوده چې د سانسکریت په ژبه د اکیو انګلا برهمي په الفبا نقر شوي او د ګوپتا د دورې پورې یې تړاو درلود او ددې مجسمې د ډېرلیک د متن له مخې د مهیشوارا ( اومه ) دوه همسر وه او د یو کوچني ماشوم مجسمه هم د اومه په ګېڼ اړخ کې چې ( سکندا ) وه هم لیدل کېږي.
دا مجسمه د ګاونندي د پاسه پرته ده او یو څه کیڼ مټ یې د خپلې ماندینې په ښې اوږه او د کیڼ مټ شانتې لاس یې درې نوکي ( تریتون ) نیزه نیولې ده او دا لاس په برجسته ډول د
( اومي ) د مجسمې تر شا ښکاري.
د ( مهیشوارا ) د ( اومي ) مجسمه پر سره یوه جوغه لري چې د مخې برخط تزیینات یې د نیم ګردي هلال دانه ښیي او ددې هلال په کونج کې د یوې ریښې په توګه غزیدلي چې د تزییناتو دا سبک د ( شیوه ) د مجسمې د تزییناتو سره چې له ګردیز څخه ترلاسه شوي ورته والي لري او شلو مبرژه مرمري سکوریتي په نامه او ( کوتیز ) د کشمیر د ( اباسیک ) سره ورته تړاو ورکړي دي.
ددې مجسمې کالي چینونه لري او د ښځې او مېړه د کالیو رنګ آبي دي چې وروستني برخه یې د (Y) شکل لري او ددې ډول لباس طرح د بامیانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ج) مغاري) د ولاړ بودا د مجسمې او د غزني د سردرا تپې د (۱۷) نمبر ويهاري سره اود (اور دهوالنګسا Urndhavalinga) د مجسمې سره ورته والی لري په دې مجسمه کې له بېلا بېلو رنګونو لکه سور، آبي، تور او داسې نورو څخه کار اخېستل شوي دي.
چې سور رنګ يې د معمول له مخې د مرۍ، ناف (نوم)، شونډو، د تيونو په څوکو، د ويښتانو په منځ او غوږونو کې کارولي شوي او له تور رنګ څخه په سترګو، د وريځو د څنډو د پاسه کار اخېستل شوي دي چې ځينې رنګونه يې لا تر اوسه پورې پاتې دي.
د مجسمې شاهواره نه ده بلکې د مجسمې د شا جوړښت او اندام چې دهغې د مخ سره په يو وخت کې جوړ شوي داسې ښيي لکه چې د سر شاته ويښتان يې او بدل شوي او تاو خوړلي په شکل او د مجسمې د سرخينه چې شاته ټېنګه شوي او دهغې سرونه ببرته او ځوړند دي. او د ځينو د پاسه نيمايي برخه او سرونه يې د منظمو خطونو په واسطه او ښکتنۍ نيمه برخه يې د ميخ غوندو خطونو په واسطه ښکلي کړي شوي چې د ځينو دا ډول تزيين او ساختمان تر يوه حده د سوريا د مجسمې سره چې د خير خانې له کوتله ترلاسه شوي او دهاګن له خوا کشف شوه ورته والي لري.
بې ځايه به نه وي د مجسمې د تخت د ډبرليک په باب لنډه کتنه وشي او دا ځکه چې دا ډبرليک د مهيشوارا او د نوم تاييدونکي ده.
دا ډبرليک ۲۲ سانتي سور او (۵) سانتي مترو لوړه په يو صيقل شوي تلي چې د مجسمې سکوه (تخت) دي ترلاسه شوي دي.
دا ډبرليک د هغو پر څنډو سرببره چې د ډبرليک ټول سور يې را نيولي دي او له ۸۴ کلمو او علامو څخه عبارت دي په دريو نامساوي کرښو حک شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې عالمان او لرغون پوهانو په دې ډول ژباړلي دي او پښتو ژباړه يې په دې ډول ده.

برهما، ويشنو، مهيشوارا

وشنو، عمل کوونکي

برهما، عمل

مهيشوارا، په مبدا پورې حقيقت دی

او اصل

او ستر مهاديوا، بيا نوونکي

د انسان لپاره رب النوع (مهيشوارا)

وشنو، برهما

هغه کسان چې د ناپاک زړه لرونکي وي

هغه چې لا سرسي پرې کېدای نه شي؟

زه لاړم

د سکندر په غونډۍ کې د هندوئيزم ډير لوړ روحانيت درې مهم اصلونه پراته دي، د هندوئيزم دا درې ګوني اصلونه يعنې برهما (پيدا کوونکي)، شيوا د نابود کوونکي، ووشنو (ساتندويه او ساتونکی) څرګندوي (العياذ بالله).

خو په پورتنې کتبيه کې دا درې واړه رب النوع په بېلا بېلو شکلونو ښودل شوي او دلته شيوا ځينې وخت د مهيشوارا په شکل... چې تر ټولو غښتلي دي او شيوا خپل اصل له مخې د ټولو نړۍ د رب النوع په توګه چې په بشپړ توګه پر ځان متکي معرفي شوي دي او دا صفتونه چې ممکن د شيوا يا ستر شيوا له ځانګړتياوو څخه وي دا دی چې:

چې دي رامنځ ته کوونکي، ساتونکي او ورکوونکي دي. (نعوذ بالله).

اخځونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ افغانستان د تاریخ په رڼا کې، احمد علي کهزاد ، پښتو ژباړه، اورنګ زیب ارشاد دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ ، دهکي نغلبندي پېښور ۹۴مخ. بازشناختی از ولایات پروان، کاپیسا و بامیان، در پرتو کاوش های باستانشناسی، متن تاریخ و روایات سرمحقق میر عبدالرووف ذاکر، اکادمی علوم ۱۳۹۱کال، ص ۱۱۲- ۱۲۲پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا در کشور باستانی ما صرف یک کافر کوت موجود است یا بیشتر از آن

به صورت معمول در قسمت های شمالی کشور ما از یک عده ساختمان ها با محوطه های آن ها حین حفریات یک سلسله بقایای عمرانی و آثار باستانی کشف شده اند که به دوره های قبل اسلام تعلق داشته و از زمان های قبلی تا اکنون از باشنده گان آن محلات نسل به نسل نقل و روایات به جا مانده اند و این نوع آبادی ها را به کافر قلعه ها ، کافر کوت ها و ازین قبیل نام ها یاد کرده اند.

چنانچه از آوان جوانی به یادم مانده، زمانی که از دامنه های کوهای نزدیک قریه ما چوب سوخت یا شاخچه های پر برگ درخت زیتون یا بلوط برای خوراک بز یا گوسفندان خویش می آوردیم، در سطوح بالای تپه های کوهی یکنوع ساختمانها که صرف از سنگ ساخته شده و برای ترصد و کارد بر تیرو کمان در مقابل نیروهای اسلامی در کنر از آن استفاده میکردند شکل سنگرها داشته پدران ما به آنها کافر کوت ها می گفتند.

ازینجا یی لزوم نخواهد بود تا قبل از همه در مورد وضاحت بیشتر این پدیده دیرینه به شکل فشرده نظر انداخته شود. سرمحقق نظر محمد عزیزی و سرمحقق عبدالواسع فیروزی در گزارش علمی خویش که در مورد چگونگی کافر کوت های... نگاشته است. کافر کوت ها را بدین شرح معرفی داشته است.

معمولاً در ساحات شمال و جنوب کشور آنعده ساختمانهای که از احاطه و یا گرد و نواحی آن بعضی از علایم و اثار غیر اسلامی به دست عام قرار میگیرد و در مورد آن بعضی روایات یا افسانه های از سلف تا خلف باقی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانده، باشنده گان این منطقه بوده که این نوع ساختمانها را به نام قلعه کافر ارگ کافر و بالاخره کافر کوت گفته اند.
چنانچه چنین ساختمانهای حصار مانند و بلند ارتفاع را در برخی از ساحات باستانی کشور معرفی کرده می توانیم.

**کافر کوت دشت ارچی کندز :**

این کافر کوت در قسمت مرکزی کندز به شکل بیضوی قرار دارد حصاری حصینی بوده که در هر چار زاویه آن شاه برجهای دفاعی احداث گردیده اند در بین این دژ استحکامی ساختمانهای مرکزی یعنی شارستان موجود است که از خشت خام و پخته ساخته شده است. دارای ستون های تیپ باختری بوده، در مدخل این کافر قلعه ساختمانهای به شکل کمان زنی مکمل و نیم قوسه به نظر می رسند.
ساحه کافر کوت در سال **۱۳۵۲** هـ ش توسط هییت باستان شناس مشترک افغان فرانسه سروی شده و از آن یک تعداد فراگمنت های سفالی منقوش دوره زوتر میگاس متعلق به کوشانی ها به دست آوردند.
از روی احتمال و قراین، چگونگی ساختمانی کافر کوت طوری که از نامش برمی آید یک قلعه تدافعی بوده که دارای حصار، برجها و مدخل ها بوده و با آنچنینی ساختمانها کافر کوت گفته می شوند که این نامگذاری قبل از اسلام و اعمار آنها مربوط دوره قبل از اسلام بوده است طوری که کشف اثار بودایی به این ادعا تحقق می بخشد.
چطوری که قبلاً نیز اشاره به عمل آمد ساحات زیاد باستانی کشور ما دارای این نوع ساختمانهای بالای تپه ها مشابه به حصار های مرتفع می باشد که کافر کوت دشت ارچی کندز نیز ازین نوع کافر قلعه ها شمرده میشود.

**کافر کوت میرزکه گردیز :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

حوادثی که در جنوب هندوکش در یک تعداد مناطق به وقوع پیوست است قبل از قرن سوم نبوده واز این که آغاز آنها با قرون چهارم و پنجم مطابقت می کند و آن نوع سکه هایی که ما را متیقن می سازد آن مربوط واسودیوا و از تیپ سوم می باشد و سکه های بعدی برای تحول، ساختار و کرونولوژی زمانی خزانه مسکوکات میزرکه کافر کوت می باشد. در یک سند دیگر در مورد مسکوکات میزرکه بدین شرح معلومات ارایه شده اند میزرکه دارای یک چشمه خوردی بود که در قسمت شمالی آن تپه قرار دارد که بزرگی، طول وعرض آن قابل دقت می باشد و باشند گان آن محل آنرا به نام کافر قلعه یاد میکند و بلندی آن به طور متوسط از ۲۰-۳۰ مترو وسعت آن تا ۳۵ متر یا به صورت متوسط به ۲۰ متر میرسد.

بین کافر قلعه و چشمه اش در حدود ۷۰ متر فاصله بوده و در حصه هموار قرار دارد منازل تیپیکی در گرد و نواحی آن ساخته شده اند.

جنوب چپ تپه در یک قسمت هوار اراضی مربع شکل موقعیت داشته و به روی آن پارچه های خشت پخته و سرامیک به مشاهده می رسند و چنین به نظر می رسد که این تپه و زمین مربع شکل آن درازمنه های قدیم، یعنی قبل از ظهور اسلام قسمتی از ساختمانهای نهایت مهم تاریخی بوده که هویت مکمل آن مشخص نمی باشد.

**کافر کوت خروار لوگر :**

در مورد کافر کوت خروار در عده از نبشته های نظر محمد عزیزی استشاراتی وجود دارد اما بگونه مشخص معلومات لازم به دسترسم قرار نداشت از این رو صرف به آن قسمت که در بخش دوم معابد بودایی، اثر تحت عنوان، «آثار و ساحات باستانی مناطق جنوب و جنوب شرق افغانستان» موصوف تذکر رفته است یاد آوری می شود که بدین صورت به کافر کوت خروار اشاره صورت گرفته است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چنانچه دربسیاری از ساختار های معابد و چیتاهای معابد مدور تیپ ستوپه های سیلندر یک با پلاتفورم های مربع و یا چهار کنج قابل دقت است یکی از ین معابد مدور یا دایروی را که ما نظیر آنرا در تپه توب کلان در شتر تپه نگاراها رو کافر یا آن مشاهده نموده ایم در پای بالاحصار خروار وجود دارد.

**تپه کافر یا یا کافریها یا کافر کوت نگاراهارا :**

از جمله عمرانات باستانی قبل از اسلام که مربوط آیین بودایی بودیکی هم تپه کافر یا کافری ها و کافر کوت نگاراهارا قدیم است که در زمره ساحه پچیرواکام، للمه وغیره اشارتاً از آن یاد آوری صورت گرفته است این تپه از شماری ساحات باستانی درونته ننگرهارای در روایت افاده نموده مفهوم شاه ماران – مارا آیی به نام تپه کافریها به این گونه تذکار یافته است. « جوان پوستین پوش از تپه کافریها ، این جوان محتملاً از مربوطات مارا – شاه ماران آیی است».

**کافر قلعه سرخ کوتل بغلان :**

به مطالعه ساحه سرخ کوتل از جمله ساختمان های باستانی از کافر قلعه تذکری به عمل آمده است چنانچه درین مورد سرمحقق نظر محمد عزیزی در مبحث محتویات عمرانی سرخ کوتل نوشته است.

در سال ۱۹۵۲م ممکن تاریخ درست ۱۹۵۰ م باشد ، درین ساحه از جانب شلومبرژه دانشمند فرانسوی حفریاتی به عمل آمد.

و در نتیجه آن درین تپه چار زینه، معبد آتش پرستی که دیوار های احاطوی داشته، همچنان مجسمه ها و مسکوکات شاهان کوشانی، ظروف مستظرفه سفالی و یک تعداد کتیبه ها با رسم الخط به دست آمدند و مردم محل آنرا به نام کافر قلعه می شناختند.

**کافر قلعه فراه :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

در یک سلسله کوه فراه که به کوه مقدسی شهرت و فعلاً به آن کوه خواجه غلطان می گوید ، از جانب باستانشناسان در آن کشفیات صورت گرفته، که در مورد محمد اعظم سیستانی در اثر خویش سیستان بعد از اسلام تفصیلات لازم ارایه داشته اند.

به حواله این اثر در یکی از شماره های مجله آریانا آمده است:

از جمله ساختمانهای حیرت ناک و بزرگ فراه یکی هم قلعه «کک کهزاد» بوده که به کافر قلعه شهرت داشته به مسافه ۱۰-۱۲ کیلومتری جنوب شرق فراه بالای سلطح یک کوه بچه از سنگ سیاه سخت ساخته شده است و در بین آن چاهی بس عمیق وجود دارد که اگر در آن سنگ انداخته شود بعد از ۲۵ دقیقه صدای آن شینده میشود.

**کافر قلعه هرات :**

کافر قلعه هرات که از جمله مربوطات هرات بوده و فعلاً به نام اسلام قلعه شهرت دارد ، قلعه باستانی بوده و بعد از این که مردم آنجا به دین اسلام مشرف شدند نامش به اسلام قلعه تعویض گردید.

**کافر کوت ساحه اسپیل نګاراهارا :**

این قلعه در ۳۰ کیلومتری شرق تپه شارکن به ارتفاع «۱۰۰» متر و به فاصله تخمیناً ۳۰۰ متر از تورغر ننگرهار موقعیت دارد.

سرمحقق عزیزی در مورد بدین شرح نگاشته است:

په یو شمېر سیکو کې هم لکه د سرو زرو ، سپینو زرو یا برونز، او سپني او یا نورو فلزاتو له جنسه وي د هغو په تزینکاریو کې د هنري معیارونو څخه کار اخېستل شوي او د پاچهانو او قهرمانانو د مماثلو لرونکي دي، او ډېرلیکونه هم د تېرو نسلونو د ژوندانه د بېلا بېلو ډګرونو د حماسو او کارنامو او پېښو په بیا بیا نونکي، په ودانیو او عمراني مظاهرو کې هم، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان د نوښتګر ذهن او فکر زېږونې په هنري په زړه پورې پیرایو کې تبلور موندلی دي.
که موضوع را ونغښتل شي زموږ د هېواد په هره هنري هستونه او بدیعو پدېدو کې که له یوې خوا لکه روم، یونان او یا له نورو مدني حوزو د هنري اغېزمنیو څرکونه په باختر کې ځلېږي له بلې خوا د هند او چین او د آمو د هغو غاړو د باختر په خاوره کې فرهنګي او کلتوري پلوشې د باختر په هنري پدیدو کې د یو نه انکار منوونکي واقعیت په توګه تلپاتې دي او لا مهمه داده چې ددغو هنري واردو پدېدو سره د باختر د سوچه هنري ارزښتونو خلطتوب داسې هنري وتلي اثار رامنځته کړي چې په نړیواله کچه بیخې بې ساري او کمیاب ګڼل کېدای شي.
ددې لپاره چې پر اصلي موضوع رڼا اچول شوې وي زموږ د لرغوني هېواد د دا ډول له فرهنګي خورا بډایو میراثونو لرونکي سیمه د جوزجان طلا تپه ده، او که د هغې له پوره پېژندنې صرف نظر وشي، مګر پوره اړینه ده چې د مثال د نمونې په توګه په کومه کچه چې د هنري نفیسو مظاهرو درلودونکي ده او هغه به هم ددې تپې له شپږ ګونو قبرونو څخه د کشف شوو آثارو په وجود کې تر څېړنیزې لیکنې ونیول شي، اما مخکې تردې چې دغه موضوع وڅېړل شي په کار دي چې دا پوښتنه ځواب شي چې د طلا تپې د قبرونو د خزانې د آثارو شتون لاملونه څه دي؟
د پوهانو په عقیده نه یوازې د باختر له طلا تپې او د هغې له شپږ ګونو قبرونو څخه ګران بیه لرغوني آثار ترلاسه شوي بلکې د هېواد په نورو سیمو کې یې هم مثالونه لیدلای شو او لاملونه یې په دې ډول دي.
- په تېرو زمانو کې د عقیدوي باورونو له مخې، مړي که له هرې ټولنیزې، طبقې څخه به و په تېره بیا پاچهان او یا د ټولنې لوړې طبقې ته منسوبو کورنیو غړیو، سره په دغسې آثار یو ځای ښخېدل، او د ځینو په عقیده، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوې د بیرته لاژوندي کېدو په وخت کې به یې ترې ګټه اخېستله او یا ممکن بله کومه موضوع هم به وه.
- یا دا چې د دغو سیمو خلکو د بهرنیو د تېریو، چور و چپاول نه د مخه خپلو استوګنځیو پرېښودلو ته مجبور شول نو څرنګه چې خپلې دغه ډول اړوندې شتمني یې له ځانه سره وړلای نشوی نو به یې په قبرونو کې ښخولې چې خپل ټاټوبې ته د بېرته را ستنیدلو په مهال پرې لاسرسي پیدا کړي شي.
خو لکه چې څرګنده ده د طلا تپې خزانه په قوي احتمال سره او د آثارو د نوعیت له مخې د لومړني لامل په وجه د پېژندلو وړ ده چې په دې توګه معرفي کېدای شي.

**۱.لومړي نمبر قبر :**

دا قبر په مستطیل شکل جوړ شوي دي چې ۱,۲۰ سانتي متر سور او ۲/۳۰ سانتي متره اوږدوالي لري او د طلا تپې په یوه مخ ځوړي شیله کې پروت دي. نو ځکه یې د جوي پېښو په سبب پوښنه او دیوالونه له منځه تللي او د ویجاړېدو بل لامل یې دا دی چې دغه دیوالونه له اومو خښتو په بېلا بېلو اندازو جوړ شوي وو کوم اثار چې له دې قبره ترلاسه شول برونزی او اوسپنیز او تر ۲۵۰۰ قلمونو څخه زیات شمېر یې د سرو زرو ووچې له ګاڼو، د کالیو د نزیینا تو او د سروزرو د پاڼو (پترو) څخه عبارت دي او په دې جمله کې زیاتره یې د سرو زرو پاولي یا بریکټ دي چې په عمومي ډول په باختري زمانه په تېره بیا یې د تخار په سیمو کې یې رواج درلود.
لکه چې د دې بریکټ یا پولې (پاولي) نمونې د آی خانم، تاشقرغان او د ختیځ ترکستان په ستو کې ولاړو مجسمو کې په څرګنده توګه ولیدل شول، چې په دې ګاڼو کې هغه غاړکي هم شاملې دي چې د حلقي په شکل ښکاري او په هغې کې د دلفین ماهي شکل تجسم موندلی چې د یوې ښځې په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ډیزاین شوي دي په داسې حال کې چې د غه ښځې د لرګې غونډې یو شي په لاس کې ټینګ نیولی دی.
په دې قبر کې پر نورو ټولو اثارو سربېره، د هډوکي، یوه پودر داني چې ممکن له عاجو او له سپینو زرو سرمه دانې او او سپنیز ایروجین کشف شونو له دې امله دا قبر د یوې میرمنې پورې اړه لري عمر یې له **۲۵-۳۵** کلونو اټکل کېدای شي.

**۲. دوهم قبر :**

دوهم قبر د **۱,۵** سانتي مترو په سور او **۲,۹۰** سانتي مترو په اوږدوالي مستطیل شکل دي د طلا تېپې تر کلا بهر پروت دي، د کلا لویدیځ کونج ته نږدې د یو متر په ژوروالي کیندل شوي دي.
ددې قبر بهرني برخه د پلاستري توکو د یو ډول دیوال د بهرني قشر په شکل ما له شوي او تابوت په کې د قبر له دیوالونو څخه په برابره مسافه ایښودل شوي دي او ددې پر ځای چې پر تابوت سرپوښ کېښودل شي د قبر دننې ټوله برخه یې را نیولې ده او بیا د لرګې په واسطه پوښتل شوي او د پاسه پرې اوبدل شوي توکي او نباتي پنبه لکه انډیري ( بوریا ) نیول شوي او بیا تر کومه ځایه چې کتنې ترسره شوي د پاسه پرې ختې او خاورې اچول شوي دي.
په دې قبر کې د انسان د وجود اسکلیت تقریباً به نیم پټې حالت کې لیدل شوي چې په لاسونو کې یې بنګړي ( غوټي ) پرتې دي او په سرونو کې یې د دهاني په شکل ببرته وي چې دی موهومي او تخیلي حیوان ښودونکي دي او په داسې ډول حکاکې شوي چې برجسته او د قالب په واسطه اچول شوي دي، د احتمال له مخې ممکن دا حیوان ګورګان یا ښامار وي چې په هغې کې د فیروزي په شان یو ګران بیه غمي و او ددې مړي په غاړه کې د سرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو دوه ګاڼې د دلفین کب له ډول لیدل شوي چې د یو چنګک په واسطه سره تړلي دي.
همدارنګه د مړي د کوپړۍ دواړو خواوو ته یو هغسې تزیین چې په هغه کې یو پاچا چې د سرو زرو جوغه یې پر سر ده ځلیدلي او هغه چې دوه ښاماران یې مهار کړي تر سترګو کېږي او ممکن د مړي د ټول بدن په منځنۍ برخه کې نصب کېده. دا ګاڼه د کوچنیو مرواریدو په واسطه ښکلې کړې شوې او د غوږونو د پاسه پرته وه.
په دې ډول ګاڼه کې د سیتي سکیت او د پارتي سړي چې د کوشاني ځانګړنو درلودونکي و ممیزه کتل کېدای شي، یعنې هغه څه چې د کالیو په توګه تبارز کوي په واقعیت کې دی و یالان دي چې هم د کوشانیانو په دوره کې او هم د پارتیانو په دوره کې او هم تر هغوی دمخه د سکیت په دوره کې لیدل شوي دي. لکه چې د مرصع فیتې سره د ( دیادیم غوندې دا مجسمه ایز تجسم د کوشانیانو د دلمسیانو اړوندو پاچهانو لکه هیراوس هیرکودیو ( هترودورا ایرویوس ) د سرتېرو په سرونو کې پوره څرګند دي.
په همدې ترتیب د لستوڼو په خولو کې د سرو زرو تزیینات لکه مهري یا ( پر امیدونه ) او د یو حیوان سر لکه د ایړي ( قوچ ) سرچې د غوږونو او ښکرونو برخه یې د فیروزه ایزې ډبرې، او سترګې یې له رڼې ډبرې صیقل شوي او په ګلابي شکل تعبیه شوي دي، په ښي لاس کې یې ګوتمې او د کیڼ لاس په ګوتو کې دوی لویې ګوتمې لیدل شوي چې د ښي لاس د ګوتمې غمۍ یې له شنې ډبرې چې په هغې کې یوه ښځه پر څوکۍ ناسته په یوه لاس کې یې هینداره او بل لاس کې یې د وینښتانو د سینګارولو په حالت کې دي چې د احتمال له مخې دا د
( افینا ) الهه چې مدیترانه ایزه د ښکلا او بر یا له الهو څخه شمېرل کېږي، په تېره بیا په دې قبر کې ددې اسکلیت د کالیو په لایو کې د مینې او ښکلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الهي په نورو تزيينانو او تجسماتو سربېره، د وزر لرونكي په شكل پر اس باندې سپره ده چې كېڼ اړخ كې يې ترسيم او تجسم شوي ده، ممكن هماغه پانسې الهه يعنې اناهيتا يه وي.

**۳. درېيم نمبر قبر :**

له هغه ځايه چې د كيندنو په ترڅ كې څرګنده شوه دا قبر د خاورو انبار او ډبرې په شكل ښوييدلي دي او څرنګه چې د تپې نه فرساى (د تراس) په مايله برخه پروت و نو زياته زيانمنې يې ليدلي ده.

ددې قبر اندازه د ۱,۵ سانتي مترو په سور او د ۲,۵۰ سانتي مترو په اوږدوالي او له شماله جنوب ته پروت دي، مګر د لمده بل او نورو زيانمنيو څخه خوندي نه دي پاتې شوي دا قبر سوري لري چې په عمومي ډول د خزندو په واسطه رامنځته شوي دي او دا سوري تر ۲,۵۰ سانتي مترو ژور والي پورې كېندل شوي او د هغو سرو زرو ښكلا ايز اثار چې ددې قبر د اسكليت په كاليو كې ګنډول شوي وو په تيت و پرک ډول او ځينې يې ټوټې ټوټې، د سرو زرو په نريو پاڼو كې ليدل كېدل په دې قبر كې د ننه، پروت اسكليت يوازې د پښو له دوو هډوكو او د سر له كوپړې نه په غير نور څه باقي پاتې نه و.

ددې قبر محتويات چې د سرو زرو د ښكلا ايزو اثارو او له نورو زياتو ظريفو آثارو څخه عبارت و چې په دايروي شكل وه او د يوه برخه يې وازه وه چې په غاړه كې دا اچولو په خاطر د غسې جوړه شوي ده.

خو قطر او دوه سرونه يې دومره پنډ او پراخ نه وو او د غاړكي قطر منځني برخې په اندازه و.

همدارنګه د سرو زرو اړخونه چې په دوو كړيو يا د سيخكو په واسطه سره نښلول شوي، او په دغه تجسم كې چې سرتېرې يا عسكري د نيزې او سپر سره ښودل شوي او د طلايي حلقو په واسطه په دوو پاسنيو او ښكتنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخو کې د نیم رخه استمریک او نهادي په شکل، چې د یوناني د ۳ او ۴ مجسمو غوندې په کې کار شوي تر سترګو کېږي په دې ترتیب یوه ګوتمي هم ترلاسه شوي چې په هغې کې د انینا د الهی تصویر ښکل و کلالي اثار هم له دې قبر څخه کشف شول چې د اسکلیت په پاسنۍ او ښکتنې برخه کې اینبودل شوي وو چې ممکن د اوبو او یا د نورو مشروباتو د څښلو لپاره به و.

دا کوزه د یونان رومن په تیپ چې د بیاباني جګړو ایزو اسانو د زینونو کېږ او یا ښې اړخ ته اینبودل کېدله په همدې توګه ددې کوزې مقطع پر مځکه اینبودل کېدله چې د کرېدو له امله یې له لوییدلو مخنیوي کاوه او یا دا چې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د خارویو په واسطه د اوبو د وړلو لپاره په آساني سره ترې کار اخېستل کېده، په دې هکله ښایي زیاته شي چې د لاستي لرونکو کوزو د تیپ امفور د تیپ د کاپي یو ډول دي چې د نیم قوسه دوو ډلګیو لرونکي دي او معمولاً لعاب لري.

په هر صورت د کوزي سیمه ایز صنعت دي او د یوناني، رومي د هنري اغیزو نمایندګي کوي.

**۴. څلورم نمبر قبر :**

له هغه ځایه چې د طلا تپې د قبرونو په برخه کې کتنې او څېړنې سرته رسیدلي دي، ټول قبرونه د یو د بل سره پوره ورته والي لري او څلورم نمبر قبر د لومړي قبر د ختیځ اړخ په ۲۰/۳ سانتي مترو مسافه کې د طلا تپې د کلا د دیوالونو دپاسه، د کلا د لویدیځ دیوال د پاسه او ددې دیوال د منځني برج د مدخل په حد کې د ۱/۳ سانتي مترو په اندازه له شمال څخه د جنوب په استقامت پروت دي، د قبر ژوروالي د تپې له تلې څخه یو متر دي. ددې قبر د کالبوت په سره رنګه پوستکي کې د سرو زرو په ګردیو تزئیناتو ښکلي کړي شوي او را تاو شوي او په قبر کې اینبودل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مړي د کالبوب ترکوپړۍ لاندې رخداره طلا يي کاسه چې د يوناني دورې د يروک يا (اتيک) د ساختمانانو په تيپ ښکلي کړي شوي او په هغه کې د (ستاما) کلمه نقر شوي پرته ده چې ممکن دا ستاما ددې قاب (کاسي) د هنرمند او يا صنعتګر نوم وي او يا دا چې دا کاسه له دې قبر څخه د کشف شوي کالبوب د شخص نوم و.

د سرو زرو کوچني هوسې (يا غرڅه) چې په عمومي ډول د پامير يا بدخشان يا بندوبن د مشهور غرڅه ښکارندويه وي او د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې د (مارکوپولو) دغرڅه په نوم يې شهرت درلود، په سمبوليک ډول تيار شوي دي، ددې غرڅه د تصوير لاندې حلقي ليدل کېږي چې ممکن په ډبرينو او يا لرګينو صفحو ټينګېده او دا ددې اسکليت پورې د مربوطو تزئيني شيونو يوه برخه وه چې د هغه مهال د سړيو سره په قبر کې ايښودل شوي دي.

حلقوي ځنځير چې په منځ کې يې يوه طلا يي پنجره، سره وزمه او سپين وزمه ډبره چې ممکن سور ياقوت او روڼ مرمر وي، د يوناني سرتېري، سرتمثيل شوي وي او ممکن دا غاړکي هم د تزئيناتو او طلايي اثر يوه برخه وي چې له يوناني نيکونو په ميراث پاتې او يا د جګړې او يرغل په مهال په غنيمت د نيولو شوو اثارو يه برخه وي.

له دې نه به غير د مذهبي او عقيدوي لامل له مخې يې په غاړه کې اچولي دي.

خنجر او پيش قبضه چې لاستي او پوښ يې په موهومي او افسانوني شکل ښکلي کړي شوي او يا امکان لري د دراګون يعني ښامار وي چې د فيروزي په ګران بيه ډبره ورته تبارز ورکړ شوي وي او په خپله چړه چې زياتره پولاد او يا هفت جوشه او سپنه وي په پوره زنګ وهلي بڼه وليدل شوه د سرو زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کمربند چې په هر تامپون کې یې د یو سړي مجسمه لیدل کېدله چې په زمري سپور دي.
ښایي وویل شي چې پر زمري سپربېدل زیاتره د منځني اسیا او د مدیترانې د ختیځو سبیل دالهی پورې تړاو لري. د ویلو وړ ده چې د جګړه مارنارینه سواري ددې نقش او صحنې په اسطوري بدلون کې یوه بله وجه لري.
د ځینو په عقیده دا اثر یا طلایي کمربند چې پر زمري د سپرو انسانانو نهه برجسته نقشونه یې د سرو زرو د یو لړ نورو تزئیناتو د هم مهالې یا هم دورې ساخت په ردیف کې وکتل شي او د انسان د اناتومي او د مجسمې د برجستګي د کار طرز او تناسب یې بیخې د یوناني سوفیکل او پولي کلیت د ښوونځي د برویفونو په تیپ دي چې اغیزې یې درومن په هنري، صنعت کې پرتې دي او همدارنګه ددې لپاره چې په دې برخه کې دا ادعا په اثبات رسیدلي وی ددې زماني د ځانګړتیاوو په تړاو په دې شرح معلومات وړاندې کېدای شي.
هغه الهه چې پر زمري سپره ده کله یې په کېڼ لاس او کله یې په ښي لاس کې، لاستي لرونکي لوښې ساتلي دي، د ظرافت او ښکلي توب له مخې یو کوچني خو ډېر ستونزمن کار دي چې د هغې د تجسم په څرنګوالي کې بیخې زیات اهمیت لري.
ددغې الهي په ولو پروت یالان هغه شهزادګان او یا افراد لکه سپاهیان او سالار ښیي چې په روستنې درجې دبدبې یا اتلولې یې لاسرسي موندلي، کتل کېږي. په کوشاني هنر کې د یالان کارول د استیانو او پارتیانو په منځ کې رواج نه درلود؛ بیا وروسته د پارت د حکومت په وروستیو کې د رومیانو سره په جګړه کې د سالار او سپاهي لپاره، جګړه ایز یالان ومنل شو ویل کېدای شي، چې ممکن په دغه کې دې لرونکي یالان د یونانیانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې دورې پورې تړاو ولري، چې په هغې کې زمريو د ښېرې درې پر څلورو هنري اغېزې د زمري مجسمه وه.
د آس قيضي او د پونډيو پوښونه چې د پالميت د پاڼو غوندې د آی خانم د ښار له کشف شوو فيل پايو ځخه او د زوس د بالا پوشونو جګړه ايز ځانګړې تزئين چې په متقابل ډول يې په پښو کې تيارز مونډلي، په هيڅ ډول ويل کېدای نه شي چې د کوشاني دورې تزئيني هنر سره به ورته والي ولري بلکې په باختر کې د يونانيانو د زمانې پورې يې تړاو درلود او يا دا چې ممکن په باختر کې د مسلطو يونانيانو د دورو د کمربندونو غوندې يې بيا له سره کاپي کړي شوي وي.
له بلې خوا نه که چېرته دا ومنل شي، دا اثر د کمربند په برجسته ګرديو تامپونونو کې چې د اسکيت يا کوشاني دورې پورې اړه ولري بې له شکه ددی جنګياليو فرهنګي ځانګړنه، د اسکيتيانو او د کوشاني جنګياليو د لړې د دورې سره د کاليو اغوستلو د عنعنې له پلوه به په تخليق کې نه واقع کېده او ښايي وويل شي هغه څه چې ددې لامل ګرځېدلي چې د کوشاني جنګياليو دا سمبوليکه يوناني مجسمه په خپل کمربند کې کارولي ده.
**پنځم نمبر قبر :**
دا قبر اساساً شرقاً او غرباً پروت دي چې سور يې ۸۰/۱ سانتي متر او اوږدوالي يې ۳۰/۲ سانتي متر دي او په دقيق ډول د کلا د شمالي اړخ د لويې لارې په مقابل کې پروت دي او د نورو يادو شوو قبرونو په پرتله دومره زيات اثار نه لري.
په دې قبر کې د اسکليت سر د لويديځ خواته او پښې يې د ختيځ خواته دې د احتمال له مخې يې د مړينې په مهال پښې قات شوي دي او په همدغه حالت کې په قبر کې ايښودل شوي دي ددې اسکليت لرګين تابوت د يوې ټوټې او لوی ټادر په منځ کې راتاوه شوي چې دا ټادر د تاک د پاڼې په نقره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایزو تزئیناتو لکه په ګردیو پاڼو ښکلي کړي شوي و دا قبر له ښښتو جوړ شوي او په پاسني برخه کې یې کړکۍ درلوده.

هغه آثار چې له دې قبر څخه ترلاسه شوی دي د سرو زرو یوه جوړه غوږوالي ده چې د زړه غوندې د غمیو لرونکي او مربع شکل وه او یو غمۍ لرونکی ګلوبند ورسره و او ممکن چې په کالیو کې ګنډل شوي او یا په تارکي امیل شوي و.

همدارنګه یوه نرۍ کره چې په کیڼ لاس کې ده او دوه چورې (کري) چې یې په پښو کې پرتې وې او زیاتې ډبرینې مهرې یې درلودلې چې یو شمېر یې بندک او ځینې یې د سرو زرو د کمربند لرونکي دي.

د تزئیناتو یو بل ډول یې یوه برونزي هینداره ده چې د سپینو زرو پښې یې درلودلې او د اتنوګرافي له پلوه د یادونې وړ ده.

**۲.شپږم نمبر قبر :**

دا قبر په عمومي دهلیز کې د کلا د کوچني هال یا لویدیځ خواته پروت دي او ابعاد یې ۲۰/۱ سانتي متر او ۵۰/۲ سانتي متر دي، شرقاً او غرباً پروت دي او مستطیل شکل دي، له خشتي موادو جوړ او بهرني مخ یې پلاستر شوي دي او نسبتاً ارت دي.

په دې قبر کې د انسان کالبوت موجود دي چې د سر کوپړۍ یې درې پاڼیزه د سرو زرو جوغه، په لاسونو او پښو کې یې طلا یي کړۍ او په کالیو کې یې د سرو زرو ګاڼې ګنډل شوي دي لکه د ګلونو غوندي مهري او داسې نورې په کې لیدل کېږي.

ددې قبر د اسکلیت پر مخ چې څه لیدل شوی، یوه برونزي هینداره وه چې چینایي ګردې لیکنه یې درلوده، ایښودل شوي ده.

ددې هیندارې د کشف په پاملرنې سره چې زیاتره توکي یې د چینایي لیک دود درلودل دي. دا څرګند واقعیت دي چې د کوشاني کورنۍ اړیکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګري او د سیاسي لیارې ټېنګې شویوي په تېره وخت کې ویل کېدای شي چې د دوو امپراتوریو پراختیا او د کوشانیانو واکمنې نه یوازې د چین په جنوبي پولو کې ټینګه وه، بلکې ددې کورني فرهنګي او سیاسي اغېزمنې د چین په جنوبي پولو کې ټېنګه وه، بلکې ددې کورني فرهنګي او سیاسي اغېزمنې د چین تر (لان شي) پورې پراخې وي او ددې هینداري موجودیت په ختیځ اسیا، د شرقي ترکستان نه د (ګوبي) تر سارا پورې ددې طایفې او د کورني عادي او نورمال روابط ګڼل کېږي.

په دې سربېره په دې قبر کې یو طلایي پلیت کشف شو چې دوه تنه نارینه او ښځه په کوشاني سیستي لباس ملبس وو، پر یو حیوان سپاره لیدل کېدل چې خدمتګار یا نوکران یې وو. د سروزرو ددې قالب کار ممکن د دوو رب النـــوع د هســـتونې ښـــکارندویه وي او د پروفیســـور ســـریابندي او پوګاچینکوا د نظریو له مخې ښايي (دیونیزوس) او (اردیانا) وي او ویده سړي ممکن هماغه سیالتي وي چې د شرابو جام ورته ورکوي او دهغه په شاوخوا کې د (نیکي) الهه په کېڼ اړخ کې چې د فتح او بریالیتوب سمبول دي د حلقو او د خرما د پاڼو سره ښکاري.

که چېرته د طلا تپې د سرو زرو د موندل شوو اثارو د هر یو دیکور او له پسوللو سره تماس حاصل شي نو اوږد بحث غواړي او یوازې دومره ویل کېدای شي چې له ۲۴۰۰ څخه زیاتې پارچې له دې قبرونو څخه ترلاسه شوي دي، د جواهر سازي زرګري او د سرو زرو د صنعتګري له مخې نه یوازې په باختر کې بلکې په اوسني لړۍ یعنې څه په یونان روم او څه په چین کې بیخې بې ساري ګڼل کېږي، او همدا سبب دي چې د باختر د بډایه خزانې په نوم یې شهرت موندلی دي.

اخځونه:

۱ـ ګنجینه های کوشاني های باختر، کابل، ۱۳۶۱کال، ۱۰-۱۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ طلا تپه، زمري کال، ۱۳۸۳کال، ۷۰ مخ.
۳ـ همدا اثر، ۷۷مخ.
۴ـ همدا اثر، ۹۱مخ.
۵ـ پورتني اثر، ۱۰۲مخ.
۶ـ همدا اثر، ۱۰۵مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زمونږ د هېواد څو لرغونې کتيبې

تاريخي کتيبې يا ډبرين ليکونه هغه تغيير نه منونکي معتبر تلپاتې سندونه دي چې د ابد لپاره د يوې تاريخي او واقعي پدېدې په باره کې چې نقر شوی دي د بشريت د قيمتي وديعې په توګه د هغوی د بيانولو په هماغو عبارتونو خوندي ساتي او څوک په کې لاسوهنه کولای نه شي، معمولاً کتيبې د خپلو تاريخي دورو د ژبې په شکلونو او رسم الخطونو د سترو خلکو د تاريخي او خلاقانه پېښو، د فرهنګي او هنري ارزښتونو څرګندونکي او يادګارونو، د عقيدتي، مذهبي او اخلاقي د لارښوونو او سپارښتنو ويانده ببلګې دي، همدارنګه کتيبې هغه زيان نه منونکي ثقه اسناد دي چې د هغو له مخې د زماني او د سترو شخصيتونو د کارنامو، تاريخي نېټو او دورو پته ترې لګيدای شي.

زمونږ په لرغوني هېواد کې هم يو زيات شمېر داسې کتيبې شته دي چې حتی په غير معمولي محلونو کې کيندل شوي دي او د تاريخي قدامت له مخې خورا ارزښتناکې دي له کومه ځايه چې ددې کتيبو يو شمېر د غرونو په لاښونو او يا د لويو تېږو پر مخ نقر شوي نو دهغوي بيځايه کول او انتقالول دومره آسانه کار نه دي، چې دادی د هغو څو کتيبو په هکله چې يو څه مدارک يې په لاس کې شته په لاندې ډول معلومات وړاندې کېږي.

**۱. د آی خانم کتيبه :**

مخکې تردې چې دا کتيبه معرفي شي لازمه ده چې پخپله د آی خانم په اړه يو څه معلومات وړاندې شي:

آی خانم چې په ترکي ورته «مه بانو» ويل کېږي او د تسميې وجه يې د آی خانم په نوم يوې ښځېٔ ته منسوبه ده چې په دې سيمه کې يې واکمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلودلـه خـو د یـو شـمېر نـورو ماخـذونو پـه اسـتناد د دې ښـار بنسټ ایښودونکي مقدوني سکندر او لومړي سلوکوس ښودل شوي دي او وایـي چې مقدوني سکندر دوه کاله ( ۳۲۷ - ۳۲۹ ) تر میلاده دمخه دلتـه استوګنه غوره کړې وه او په اتفاقي ډول دا نظریـه موجوده ده چې دا ښـار او کسـایان سکندریه ( د آمو د سین سکندریه ) په نوم د مقدوني سـکندر لـه سـکندریو څخه یوه مهمه سکندریه ده.(۱ )

د آی خانم تاریخي کلا ، ښار ، حصار ، بالاحصار ، ارګ لوبغـالي ، جاده او ... اړوندې ودانۍ چې په مجموعي ډول د آمو د کوکچې د سیندونو د مخـامخ کېدو د مثلث الشکله (۲۰ ) مترو د لوړې تپې پـه مهمـه نقطه کې زمـوږ د لرغونې هېواد د لرغوني تاریخي اثارو له ډلې څخه د یو لرغونې ، تـاریخي ، ستراتیژیکي ، مذهبي ، اداري او کلتوري ښـار پـه توګـه د باختر پـه ختیځـه څنډه کې پروت دی.

د تاریخي روایتونو له مخې آی خانم د مسیحي پېړۍ د پېل په شـاوخوا کـې یو یوناني ښار وو او په دې سربېره په ۱۹۶۱م یـو لرغـون پېژندونکي هییـات ددغـه ښـار پـه بقایـاوو کـې د یونـانو بـاختري مـدنیت ډیـر بډایـه اثـار چـې د ګریکو بودیک د ځانګړي مدنیت نماینده ګي یې کوله وموندل.(۲ )

(۱ـ عبدالحي حبیبي ، تـاریخ مختصـر افغانسـتان ، انجمـن تـاریخ ، مطبعـه دولتی ، ۱۳۴۶ ، کابل ص ۵۶.

- مجله کابل ، شماره ۴ ، ۱۳۵۵ ، ص ۱۱-۱۲

۲ـ عبدالحي حبیبي ، تاریخ مختصر ، ص ۵۶. )

په دې ښار کې چې آمو ته د نږدې شمـالي برخو د تعمیراتـي سبک لـه مخې جوړ شوي وو او د ځانګړي ستراتیژیکي اهمیت درلـودونکي و پـه واقعیـت کې د یو زیات شمېر محلقاتو یوه مجتمع ده چې د وروسـتنیو څېړنـو پـر بنـا په لاندنې ډول ښودل شوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښکتنې ښار
- پاسني ښار
- ارګ ( کروپول )
- اوسني کلي
- د کرنې سيمې
- هغه محل چې په ښکتنې ښار کې د تيکر او کودړو د موندنې او د ژوروالي د ټاکلي په خاطر کيندل شوي.
- هغه محل چې د استوګنې په سيمه کې کيندل شوي.
- په ستاد ( ودريدنې ) کې د کېندنې محل
- په چهلستون ( پرويله ) کې د کيندنې محل
- په تياتر کې د کيندنې محل
- له شمالي دروازې تر جنوبي دروازې څخه ۱۲۰۰ متره اوږده جاده.
- د ښکتنې ښار شمال لويديځ حصار او د پاسني ښار حصار د ښار لويه دروازه او د ښار فرعي دروازه
- خندق
- د ښکتنې ښار د حصار پاتې شوونې
- پخوانۍ لار
- د ګاډي هغه لار چې د پاسني او ښکتنې ښار تر منځه پرته ده
- ديوال
- پخوانۍ وياله چې اوبه يې د کوڅو برخې حتي بالاحصار ته رسيدلې.
- بارو ، برجونه او د تپې د پاسه پاخه استحکامات چې له بالاحصار څخه عبارت وو(۱).

د آی خانم د معماري د ډېر لوړ کيفيت له مخې وو چې له پخو خښتو او ډبرينو ستنو څخه يې د مرکزي ماڼې لويې ودانۍ چې د مستطيل شکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـولي لرونكـي وو جـوړ او شـنې، ژيـړي، سـري او تـوري رنـګ آميـزي
څرګندويـه دي او هـره خښـتـه يـې د ۴۵ سـانتي متـر ضـلعي او لـه ۱۲-۱۵
پنډوالي لرونكي وه(۲).
د آی خانم د ښار په جنوبي او لويديځه برخه كې د خلكو استوګنځای، يو
شمېر ودانۍ، ورزش ځايونه (لوبغالي) او بازارونه موجود وو، او له دې
لوبغالي څخه د پهلواني د رب النوع «هرمس» مجسمه ترلاسه شوي ده او
د كشفي شوي كتيبې له مخې هغه يوناني «تير يباه كوس» «ولاسترا ستون»
هرمس او هر كول ته وقف كړي دي.
او يوه بله ډېره مهمه كتيبه چې د دې ښار د هغې زمانې د خلكو د فكرا و د
فلسفي ډېره وياند ه او څرګندويه بلل كېږي هغه د يو تن يوناني «كي نه آس»
د قبر د مستطيل شكله صندوق د كتيبې محتويات دي چې هغه «كلارک»
«دابي فراديوس» زوی پـه آی خانم كې د ده پـه آرامګاه باندې نقر او نصب
كړي ده او د هغې ليكنې د اخلاقي مميزاتو لرونكی دی.
(ـ اريانا مجله، ۱۱-۱۲ ګڼه، ۱۳۴۵ كال، ۲۸۴ مخ.
ـ عبد الحی حبيبی، تـاريخ مختصـر افغانسـتان، ص ۵۲) لكـه عقيـد تي
سپارښتنو د عبارتونو مفهوم په دې ډول دي:
«په ماشوم توب كې ښه روزنه واخله، په ځوانۍ كې خپلې غوښتنې سرته
ورسوه، په پوخ عمر كې درست كار اوسه، په بوډا توب كې ښه ناصح اوسه
او د عمر په وروستيو ختونو كې پوه شو چې څنګه پرته له افسوس څخه
مړ شي».
محقق نظر محمد عزيـزي پـه عقيـده د دې كتيبـي رسم الخط يونـاني او د
تالميد تبعه كيلير خوست د اتيک د دورې مربوط پـه يونـاني ژبـه دي تيـري
پالوس (تيـري يـالوس) چې د يونـان د دولـف مشـهورو محتويـاتو لرونكـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي پـه لانـدنې ډول ډول دي، لـومړي کتیبـه: تیـري باسـوس (Tribalas) ۸۹x۴۸،۵x۴۳،۵cm

**دوهمه کتیبه :**

۲۵،۵-x۴۲،۵x۲۸cm::strao

**۲**-د اشوکا (**۲۵۲** تر میلاده دمخه) کتیبې:

اشوکا په لومړي سر کې یوه جګړه مار او وینې تویونکي سړی وو چې د بنګال د خلیج د سواحلو د کالنګه په جګړه کې یې یو لک تنه ووژل او **۱۵۰** تنه یې بندیان ونیول او هغه ناورینونه چې یې په دې جګړه کې ولیدل چې تر سلو زرو پورې انسانان له لوږې مړه شول نو یې په ژوره توګه دده په روحیې او شخصیت اغېزه وکړه او نوموړي یې د سولې، سلامتیا فلسفي او د بودایي آیین منلو ته وهڅاوو تر څو چې په **۲۶۰** ق م کې یې په رسمي ډول بودایي آیین ومانه او دهغه د بیخې سختې اغېزمنې لاندې راغي نو د پخوا په خلاف دده په کړو وړو او اخلاقو کې(۱) د روحاني تنور د منځ ته راتلو وروسته یې د بودايي آیین د خپرولو او تبلیغولو په لارو چارو کې د یادونې وړ کارنامې پرېښودلې دده په عصر کې د بودایي آیین د سپارښتنو د مجموعې د لیکنو سربېره یې یو شمېر کتیبې په بېلا بېلو رسم الخطونو او ژبو د خپلې واکمنۍ په سیمو کې نقر کړې لکه چې د تکسیلا د دود ډبر لیکونو تر کتیبو وروسته چې یوه یې په «مانسهره» د پکھلي د ناوي د لویې د «ایبټ اباد» د شمال په (۱۰) میلي کې او بله یې د صوابي د پولې لارې پر سر د هویي مردان د ختیځ د ۸۰ میلي په «شهباز ګړهي» کې پرتې دي او دا دواړه په خرو شتهي (خروشتي) رسم الخط او پراکریت ژبې

---

۱- عبدالحي، حبیبي، تاریخ مختصر افغانستان، ص **۵۷**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي پــه داسـې حـال کـې چـې د اشـوکا نـورې کتيبـې پـه هـنـد کـې د براهمـو (براهمي) په رسم الخط ښکل شوي دي چې د لرغوني هند د مقامي رسم الخطونو بله مبدا ده.
داشوکا د اخلاقي فرمانونو بله کتيبه د درونتهې په سيمه کې منصوبې دي او په آرامي ژبه ليکل شوي دي او کومې کرښې چې ترې باقي پاتې دي د حيواناتو د وژلو د مخنيوي په اړه دي چې مثلث وزمه شکل لري او اوس د کابل په موزيم کې شته.

## ۳.د کندهار د اشوکا کتيبه :

داکتيبه د کندهار د زاړه ښار د دروازې د سرپوزي د کلي په سل متري کې د يوې سختې تيږې د پوزې د بيخ کې حک شوي ده، چې د چهل زيني مخکې د دوو غرګوټو په منځ کې پرته ده، دا کتيبه هغې لارې ته ډېره نږدې ده چې د قندهار له ښار څخه د ارغنداب په استقامت غزيدلي ده او هغه نرۍ لار چې له عمومي سرک څخه د قندهار د زاړه ښار د کنډوالو خواته ځي غزيدلي ده او هغه تيږه چې پر مخ يې دا کتيبه نقر شوي ده مستطيل شکل لري **۲,۵۰** متره اوږدوالي او ۱,۸۰ متر پسور لري، د غره ددې لاښ په منځ کې په غير منظمه مربع الشکله سطح چې **۵۵** سانتي متره اوږده او **۵۴** سانتي متره پسور وره يعني تقريباً مربع شکله ده، **۵۰** سانتي متره د پاسه او **۵۰** سانتي متره د لاندې هواره او صافه شوي ده.
دکتيبې متن پـه دوو رسـم الخطونـو يونـاني او ارامـي ليکـل شـوي دي دا کتيبـه (۳ق م) د هنـدي موريـا د کـورني د پاچـا اشـوکا تـه منسـوب ده او پـه ۱۳۳۷ هـ‌ل کې پـه تصـادفي ډول هغـه مهـال ومونـدل شـوه چـې لـه مخـې يـې بزګرانو خاورې او ختې وړې وې.
مواسـيو روبـرت د فرانسـې د کتيبـو او ادبـي متنونـو د اکـادمي غـړي او د اروپا د ختيځ او لويديځ د مجلې مدير د کتيبې د متن په باب دې نتيجې تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسیدلي وو چې اشوکا پاچا د قندهار په کتیبه کې خپل مستعار نوم «بیوداسي» یاد کړي او همدا شان لکه چې په خپله نوموړي د ټولو موجوداتو له آزارولو څخه بیزار وو نو یې د هېواد ټولو ښکاریانو ته توصیه کړې چې د حیواناتو له وژلو او د کبانو له ښکار کولو څخه لاس واخلي، تر څو چې لا زیاته آرامي او نیکبختي د مځکې پر سر خپره شي، همدا شان سپارښتنه شوې ده چې د مور و پلار او بوډایانو په نسبت زیات اطاعت وشي او له نفساني خواهشاتو څخه مخنیوي وشي په خاصه توګه د هر ژوندي شی له آزارولو څخه مخنیوي وشي.

ښایي هماغه د یوناني رسم الخط متن په دې لهجه لیکل شوي وي.

ددې کتیبې تاریخي اهمیت په دې کې دی چې د اشوکا او د قندهار د سر پوزي دا لومړنۍ یوناني کتیبه ده چې دا مهال په افغانستان کې کشف شوې ده او تردې دمخه د سرخ کوتل کتیبه ده چې یوازې په یوناني رسم الخط ښکل ده، له بلې خوانه دا کتیبه په لرغوني افغانستان کې د تاریخ له پلوه د ژبپېژندنې له مخې او د ژبو او ادبیاتو د تاریخ له نقطه نظره په یوناني رسم الخط دافغانستان په خاوره کې پیدا شوې ده.(۱)

(۱) تاریخ مختصر افغانستان، حبیبی، ص ۴۸-۵۰).

باید زیاته شي چې د قندهار د سر پوزي په غره کې هم یو ډېره مشهوره کتیبه شته دي چې د چهل زینې په ایوان (طاق) شهرت لري او دلته د موضوع له اوږدېدو څخه د مخنیوي په خاطر ترې صرف نظر کېږي.

**۴.د کلوم کتیبه :**

دا کتیبه چې په تاریخي اسنادو کې د کلوم، حکوم کلم او کالم، په شکلونو هم ضبط ده د مرکزي نورستان په وروستني برخه کې دکتور (تور پوشانو) د بچاو د کلي د یوه غره په ډېره لوړه څوکه باندې ښکل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تـاريخي کتيبـه د دوو تـاريخي شخصـيتونو پـه تـړاو او هـم د هغـوي د واکمنـي د دورې د نښـې پـه ښـوودلو سـره د هغـوی د دوو زمـانو او د دوو پېښنو پورې تړاو لري چې عبارتونه يې په لاندې ډول دي.

الف: کله چې امير تيمور (گوډ تيمور) په ډېرو سختو او زيار گالني سره د نورستان ددې برخې د صعب العبورو ليارو او لارښوونو تر تېرېدلو او لـه خطر ناکو مزلونو او د زانگو ګانو په واسطه تر کوزېدو وروسته تر يوه حده په نورستان کې ددې پخي کلا په فتح کولو بريالي او يو څه وخت لپاره يې دهغې او سيدونکي تابع کړل.

مګر بيا يې هم هغه ونه ساتلای شوه، خو کله چې ترې په پوره ناهيليو بيرتـه راستون شو نو په ډېر قهر او غصه يې دهغې سيمې د فصلونو د تباه کولـو امر ورکړ او په حکوم کې دده په نوم يوه کتيبه نقر شوه چې دده د کاميابي تـر څنګه دده د ناکامي يادګار هم دلتـه کښلي پاتې شو او مـتن يې پـه لانـدې ډول دي.

«امير تيمور بادشاه مغول اولين فـاتح مسـلمانی بـود کـه ولايـت ايـن طايفـه سرکشـی را تـا ايـن نقطـه تسـخير نمـود، ولـی حکـوم را از سـبب اسـتحکام نتوانست متصرف شود».(۱)

(۱) ريشه های تاريخی نورستان، نازه ص ۸۱.

څرنګه چې ددې کتيبي ساحوي ريسرچ شوي نـه دي نـو د ابعـادو او د رسـم الخط د دري ليکنې څرنګوالي يې ښودل کېدای نه شي.

ب: تر پورتني پېښې څو کلونه وروسته امير عبد الرحمان خان د سلطنت پـه دوره کې چې کافرستان (اوسني نورستان) باندې له څو خواوو څخـه لښـکر کشـي وشـوه او ددې اسـتقامت د جبهـې قومانـدانان محمـد علـي خـان د پنجشير حاکم او محمد صديق خان د تګاب حاکم و، هغوی تر ډېرو سـختو

(c) ketabton.com: The Digital Library

رقابتي بريدونو وروسته کلوم ته ورسېدل او کتور ددغې پخې کلا خلک يې کلا بند کړل تر څو چې په ۱۳۱۳ هـ ق ۱۸۹۲م.

کې يې درمګل د خلکو سره تر سختي جګړې وروسته د کلوم کلا ونيوله د امير عبدالرحمان خان د تاج التواريخ په قول محمد علي خان د امير تيمور د هغې کتيبې لاندې دا عبارتونه حک کړل:

«در عهد امير عبدالرحمان خان غازي در سنه هزار و سه صد سيزده هجري تمام کافرستان با حکوم مسخر گرديد و اهالی آنجا دين مبين پاک اسلام را قبول نمودند».(۱)

(۱) سيمع الله تازه، ريشه های تاريخی نورستان فرهنگ مردم مطبعه دولتی ۱۳۴۵، ص۸۱.

- نړيوال لرغوني او اوسني کونړ

## ۵.د باد پيچ د باد پښ کتيبه :

کله چې محمد ظهيرالدين بابر په ۹۱۴ هـ ق د خپلو لښکريانو سره د باد پښ له غاښې ( د لغمان د شيطان گمک په تقريباً جنوب غرب کې ) څخه تېريده نو د حافظ جرګه، په خط يو عبارت وليکل شو او د سنګتراش استاد محمد له خوا نقره کړي شو(۲).

(۲) احمد علي کهزاد، از سروبي تا اسمار، مطبعه دولتي ۱۳۳۳ کابل ص ۲-۴.

متاسفانه ددې کتيبې متن مې ترلاسه نه شو کړاي.

اخستليکونه:

۱.آريانا مجله، ۱۱-۱۲ ګڼه، ۱۳۴۵ کال، کابل، انجمن تاريخ، دولتي مطبعه کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ تازه سیمع الله ، ریشه های تاریخي و فرهنګي نورستان، فرهنګ مردم، مطبعه دولتي، ۱۳۴۷، کابل.
۳ـ حبیبي، عبدالحي، تاریخ مختصر افغانستان، انجمن تاریخ، مطبعه دولتی، ۱۳۴۶کال، کابل.
۴ـ کابل مجله، ۴ ګڼه، ۱۳۵۵ کال، پښتو ټولنه.
۵ـ کهزاد ، احمد علي، از سروبې تا اسمار، مطبعه دولتي، ۱۳۳۳کال، کابل.
۶ـ نړیوال، لرغوني او اوسني کونړ.
۷ـ نړیوال، روزنامه انیس، شماره ۲۲۸ ، ۱۳۸۲کال.
۸ـ مجله صبا ، شماره ۲۰/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چین تاریخي دېوال

د چین تاریخي، ډېر اوږد او تدافعي یو لړ تاسیساتو درلودونکي دیوال، دنړۍ له اوو ګونو عجایبو پدېدو څخه شمېرل کېږي او دا ځکه چې په ډېره زیاته اوږده زمانه کې جوړ شوي او په پخواني زمانه کې د پوځي تدافعي مهندسي بیخې زیاته لویه بېلګه ده.

دا دیوال د چین د جغرافیې په نقشه کې (۷۰۰۰) کلیومتره اوږدوالي لري مګر ځینې پوهاند او لرغون پېژندونکي دا واټن (۳۰۰۰) کیلومترو ته راکموي دا آبده په ۱۹۸۷م (د نړیوالو میراثونو په فهرست) کې ثبت شوي دي(۱).

ددې دیوال له برجستګي څخه داده چې پرته له دوربین څخه پر مځکه باندې د سپوږمۍ له کرې څخه په سترګو لیدل کېدای شي او که د ساختماني ځانګړتیاوو له مخې وویل شي نو د سمندر د تل له ډېرې ټېټې برخې څخه پیل شوي او په تدریجي سره په کږو وږو غرونو کې تر ۴۰۰۰ مترو لوړوالي مخ پورته غځېدلي دي، په داسې حال کې چې چین له مغولستان (منګولیا) څخه جلا کوي او د تبت په مرموزه پولو پای ته رسېږي.

ددې دیوال د جوړولو کال چې تر میلاده دمخه ۲۴۶ کال کې پیل شوي، ۱۸ کلونو پرله پسې زیار ګاللو او د شاقه چارو وروسته ۲۲۸ کال تر میلاده دمخه بشپړ شو.

د دیوال ساختماني توکي چې د کااولن له خاورو، خښتو او تیږو څخه عبارت دي له پیل څخه تر وروستني نقطې پورې په مستقیم خط ۴۰۰۰ کیلومتره اوږد دي او له دې جملې څخه یې ۵۰۰ کیلومتره په غرني برخه کې غځول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا يوه طبيعي خبره ده چې په هر بشري نوبت او په بې ساري شهكاري كې د كـار ګرانـو، زيـار ايسـتونكو خلكـو او كارپوهـانو خـولې تـويې شـوي او لاسونه يې ټټناكي شوي دي. چې د ( هند د تاج محل ) غوندې د معماري د فـن او ظريفانـه هنـر يـو تلپـاتې يادګـار او شـهكار پـاتې شـوي دي او د تـاريخي خورا ممتاز او اهميت درلودونكي ګرځيدلي دي نو ددې ديوال د جوړښت د پروسې پـه تـړاو دا چينـي متـل پـه ځـاى ارزښت لـري: ( د چيـن ديـوال كـه يونسـل وواژه خو نسـل نسـلونه يـې لـه مړينې څخه وژغـورل ) د چيـن دا لـه عجايبو ډك ديـوال د چين د وخت د حكومت پـر مهـال د شمالي مليتونو د بريدونو د يرغلونو د مخنيـوي پـه خاطر يعنې د چين د ديارلس كلن ځوان پاچا ( چين شي هوانګ ) يا ( چين شي خوان ) او د ( مانچو ) د قبيلي لـه خوا په دې موخه بنا شو چې يې د امپراطوري خاوره د شمالي د ( هيوانګتـو ) د وحشـي قبيلـو لـه يرغلـونو څخـه پـه امـان كـې پـاتې شـي او رښـتيا چـې تـر جوړېدو وروسته يې ددې امپراتوري پولې څوارلس پېړۍ د دښمن له تېريو څخه خوندي وساتلې.(۲)

يا د يو بل اثر د ليكنې په حواله:

او پـه جګړه كې ښكيل هېوادونو د سرحدي غرونو څخـه پـه ګټـې اخيسـتنې سره د ديـوال پـه جوړولـو پيـل وكـړ، تـر و پـه (۲۲۱) تـر مـيلاده د مخـه د چيـن امپراتور ( چين شي ځوان ) هغه مهال چې يې د چين يـو والي تـامين كړنـو د واك ديوالونـه يـې سره ونښـول، تـر څو چې پـه شـمالي پولـو كـې د يـو سـتر ديـوال پـه بڼـه د غرونـو پـر سر رامنځتـه شـو، پـه دې وخـت كـې ددې ديـوال اوږدوالي (۵۰۰۰ كيلومترو ته رسېده، د خـان پـه لـړۍ كـې او د چيـن تـر لـړۍ وروسته د ديوال اوږدوالي (۱۰۰۰۰) كيلومتره تـه وغځيـد، د چيـن د دوه زرن او څو زره كلـن تـاريخ پـه بهيـر كـې د چيـن د بـېلا بېلـو دورو واكمنـانو ددې ديوال جوړولو ته دوام وركـړ تـر څو چې يې اوږدوالـي ۵۰ زرو كيلـومترو تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسېده او دا اندازه د مځکې له کړې نه د چورليدلو سره برابره ده او د چين په جغرافيايي نقشه کې دا ديوال ۷۰۰۰ کيلومتره اوږدوالي لري. هغه ديوال چې اوس يې خلک ګوري د مينګ (۱۳۶۸-۱۶۴۴م) د لړۍ پورې تړاو لري چې له لويديځه د چين د کانسو په ايالت کې د (جايو ګوان) په دروازې او له ختيځه د (لياڼونينګ) په ايالت کې د (ريالوجيان) د رود په غاړه او وروسته د چين په شمالي ختيځه برخه پای ته رسېږي.
ددې به منځ کې نه ايالته، ښارونه او خپلواکې ناحيې د ۷۳۰۰ کيلومترو په اوږدوالي موجودي دي او خلک يې داوږد ديوال په نامه يادېږي(۳).
که ددې ديوال د معماري د سبک او نورو مشخصاتو په اړه وويل شي: نو کله چې دا ديوال جوړ شو نو يې د ديوال برجونو چې يو له بله يې ۱۲۰۰ متره واټن درلود نهه زره سرتېري په ساتنې وګومارل شو.
په کال ۱۷۱۹م کې يو انګليسي عالم په دې عقيده و هغه ښتې او تيږې چې په دې ستر ديوال کې لګېدلي وي له هغو ښتو څخه زياتې دي چې دانګلستان د اسکاتلند او ويلز د کورونو په جوړولو کې کارول شوي دي(۴).
د چين ديوال د يوې تدافعي پروژې په نامه چې د غرونو پر سرونو جوړ شوي دي له دښتونو، څړځايونو او جبه زارونو څخه تېرېده، کارګرانو د ځمکنيو عوارضو سره سم د ديوالونو په جوړولو کې بېلا بېل جوړښتونه په پام کې نيول هغه چې د چين د دغو نسلونو د درايت او عقل ښکارندويه دي. دا چې ديوال د غرونو د مسير په لوړو او ژورو کې جوړ شوي دي نو د ديوال بهرنۍ خواته يې ډېره ژوره ښکاري په واقعيت کې غر او ديوال سره نښلول شوي دي، نو ځکه دښمن پرې په هيڅ ډول نفوذ کولای نه شي.
دا ديوال په عمومي ډول له لويو اجرونو او مستطيل شکلو ډبرو څخه جوړ شوي دي که د ديوال ساختماني شکل يو څه لا توضيح شي دا ديوال چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه څنډې لري او منځ يې د خاورو او کا ، ( سنګ پارچه ) څخه ډک شوي چې لس متره لوړ دي او د يو هغسې سرک بنه لري چې په يو رديف کې يې سور ( ۴-۵ ) متره دي او ځلور آسان ديو او بل تر څنګه په کې تللاي شي ، د غلو او وسلو او مهماتو د وړلو راوړلو په مهال په کې هيڅ ډول ستونزه نه رامنځته کېدله.

د ديوال دننې برخه يوه ډېرينه پرده او دروازه لري هغه چې په آساني سره بېرته کېداى شي په يوه ټاکلي واټن کې د ديوال څوکه او يا د انداخت برج او ترصد اود خبر رساني ( الارم ) لپاره لياره جوړه شوي و د ديوال په لوړه څوکه کې يوې لوړي کلا ته ورته ودانۍ د وسلو ، غلو دانو او مهماتو د ذخيري او د سربازانو د استراحت لپاره جوړه شوي ده.

او په مخفيانه جګړه کې ترې کار اخېستل کېده ، هغه وخت چې په دښمن بريد وکړ د اور برجونه په رڼا کېدل او تول هيواد به له دې حملې څخه خبرېده که څه هم په او سمهال کې د چين ديوال د مقاومت موضوع د يوې پوځي موانع په توګه له منځه تللي ده. خو بيا هم د چين د فرهنګي ميراثونو د ساتنې کار پوهانو ددې ديوال زياتره برخې له سره جوړې کړي او بيارغولي دي او د ښنتو لايې يې پخې کړي دي.

که د چين ديوال د دورنما او منظرې او نورو برخو په اړه وويل شي نو که ددې ديوال د ځانګړې معماري ښکلا ايز مظاهر وليدل شي ، نو خورا په زړه پورې دي.

ددې ديوال دا مظاهر ارزښتناک او له برمه ډک دي ، له ليرې واټنونو څخه د غرونو پر څوکو دا ډير لوړ ، کوږ وږ ديوال د يو داسې ښامار په شکل ښکاري لکه چې د حرکت په حال کې وي او يوه پرتمينه صحنه تر سترګو کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دیوال له نږدې څخه وکتل شي نو د هغه له برمه ډکې دروازې او دیوالونه د یووالي لوړې څوکې، د څارنې او انداخت برجونه، د اور بلوني برجونه د مځکې د عوارضو سره یو ځای خورا په زړه پورې هنري پدیدې دي.
د چینایانو په وینا : ( هغه څوک چې د چین په دیوال ختلي نه وي اتل نه دي )(۵) د چین دا تاریخي او بې ساري لوړ او اوږد دیوال چې له پیګنګ څخه د ۹۰ کیلومتر په واټن لیرې پروت دی، بالاخره په ۱۳ میلادي پېړۍ کې د مغلي چنګیز وحشي لښکري له دې دیوال څخه تیري شوي او چین یې تر خپلې ولکې لاندې راووست، او په همدې ډول په کال ۱۲۴۴م کې د شمالي تیري کوونکي ځواکونو تر د برش کلني جګړې وروسته هم را تېر شول(۶).
د بشري فتنو او د یرغلګرو د بریدونو په پایله کې څه هم ددې ستر دیوال یو شمېر برخې ویجاړې شوي خو بیا هم زیاتره برخې یې په امان پاتې او خوندي شوي دي. لکه ( بیجنګ ) ته نږدې د ( بارلینګ دیوال ) د سي ماتې دیوال، د ( موتیان یو ) دیوال او د چین د دیوال په وروستني ختیځه برخه کې د ( شان های ګوان ) دروازې چې د چین لومړنې دروازه شمېرل کېږي.
د ( درګان سو ) په وروستني لویدیځه برخه کې د ( جایو ګوان ) دروازه. چې البته د دیوال دا برخې ډېرې مشهورې او د لید لوړ، برخې دي او په دې وجه هر کال د نړۍ بیخې زیات شمېر سیلانیان ترې لید نه کتنه کوي.
که په پایله کې وویل شي دا دیوال چې څو ځلې او بیا په یو ځلې پړاو کې جوړ شوي دي د لرغوني چین په یوه دوره کې د چین په ملیونونو انسانانو د زیار ایستنو او رنځ ګاللو د درایت تسجم دي، د زرګونو کلونو تر تېرېدلو وروسته هم له منځه تللي نه دي او تر اوسه یې خپله ښکلا او برم ساتلي او د چین د ملیت د روحیې ویانده سمبول پاتې دي(۷).
اخیستلیکونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. سیستم های مهندسي در آبدات باستاني، نظر محمد عزیزي او مجتبې عارفي، انتشارات یوسف زاد، ۱۳۹۱، ۸۲مخ.
۲ـ د افغانستان تاریخي او فرهنګي ویاړونه، رازقي نړیوال، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۲، کال ۳۶۷مخ.
۳. سیستم های مهندسي ... اثر، ۸۲مخ.
۴. د افغانستان تاریخي ... اثر، ۳۶۷مخ.
۵. سیستم های مهندسی.... ۸۸مخ.
۶. د افغانستان تاریخي ... ۳۶۷مخ.
۷. سیستم های... ۸۹مخ.
۸. ګزینه از عجایب جهان، سید محمد نعیم بهار، انتشارات خاور، ۱۳۸۴.
۹. آریانا دایرة المعارف، ۵ ټوک، د ایرة المعارف ټولنه، ۱۳۵۴کال.
۱۰ـ د افغانستان استحکامي کلاوې، حصارونه او بالاحصارونه، رازقي نړیوال، ۱۳۸۳کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ د هېواد يو شمېر لرغوني غارونه

دنورو اسيايي هېوادونو غوندې زموږ په هېواد کې هم يو شمېر غارونه تعميراتي ژور کوهي او ژورې سمڅې شته چې د بشري ژوندانه د دورو څرګند شواهد بلل کېږي.
د افسانو له مخې غارونه د نړۍ د زياترو سيمو د خارق العاده او خارق الطبيعه مخلوقاتو د استوګنې ځايونه وو او له دې کبله يې د يو شمېر غارونو اسطورو ته د سپېڅلتوب جنبه ورکړې ده د ډېرو د لرغونو دورو د ژوندانه په لومړيو مرحلو کې يوه مرحله هم چې پوهانو ورته « په لوړو غارونو کې د بشري ژوند دوره» ويلې ده: په لوړو غارونو کې ژوند طبعاً د لوړو غرونو په لمنو کې مناسب ځايونه غوښتل او زموږ د هېواد اقليمي او جغرافيوي وضعيت هم ښيي، چې د هغه وخت انسانانو د غرونو په لمنو او ځنګو کمرونو کې ډېرې پناهګاوې درلودلې.
په غارونو کې استوګنه له (۵۰۰۰ ) کلونو راهيسې په اسيا کې معموله ده له (۴۵۰ ) کلونو راهيسې په پنځو سوو زرو وروستنيو کلونو کې په غارونو کې د استوګنو ښکاريانو د ژوند په باب معلومات په اسيا کې او له دې جملې څخه په چين، افغانستان او ايران کې را پېل کولای شو.
د غارونو کيندنې چې په هغې دوره کې يې توليدي افزار په لومړۍ مرحله کې وو د بشر لپاره فوق العاده ستونزمن کار شمېرل کېده او دوی دا ډېر سخت کار د ژوندانه د مهم ضرورت په حيث د دې موخو او مقصدونو په خاطر ترسره کړې دي.
- د ځېرونکو حيواناتو له ډاره چې په غافله توګه پرې حملې ونه کړې يعنې د هغوی له زيان رسونې څخه د خوندې ساتنې په غرض.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د دې لپاره چې له لاندینو سیمو څخه په پراخ نظر څارنه وکړای شي.
- د ښکار کولو لپاره د یوې مناسبې مورچې په توګه ښایي وویل شي چې له ډېرې پخوانۍ اوږدې مودې او کلونو را په دې خوا په افغانستان کې دغارونو په هکله څېړنې پیل شوې او داغارونه په دې ډول معرفي کېدای شي.

**۱. د قره کمر غار :**

د سمنګانو د ایبکو د شمال په ۸ میلۍ کې د پلخمري او تاشقرغان ترمنځ یو کلي ته چې د
« سرکار» په نامه یادېږي او د یوه غره په جنوب ختیځو لمنو کې چې د ایبکو په شمال کې په پورتني کلي حاکمیت لري، نږدې پروت دي.
دا غار د سمندر له تل څخه ۲۳۰۰ فټه او له جلګې څخه یې لوړوالي (۱۵۰) متره (۴۵۰ فټه) دي، په دې توګه جلګې څخه دغار د جګوالي په وجه په ډېره ښه توګه په جګو غارونو کې د بشري ژوند موجودیت څرګندېږي.
د قبل التاریخ عصر نه دمخه څېړونکی امریکایي « ډاکتر کارلتن کون» په دې باب څېړنې او کتنې سرته رسولې وي او « تر غار لاندې پرتې سیمې» ترسرلیک لاندې لیکي:
له دې ځایه څو میله وړاندې دره لیدل کېږي او د ښکاریانو لپاره ډېر مناسب محل دي، دغار خوله د جنوب په استقامت ده او ټوله ورځ دلمر له رڼا او تودوخې څخه برخمنه وي، نږدې ورته او به شته او زیات شمېر حیوانات هلته ګرځي را ګرځي پرې دې ښېګڼو سربېره په پخوانیو زمانو کې چې په غارونو کې استوګنه معموله وه د سون مواد هم دهغو په شاوخوا کې شتون درلود.
د امریکایي پوهانو د څېړنو له مخې څرګندېږي چې د قره کمر غار د نیمې کاسې په شکل دي د غار ځمکه په بېلا بېلو قشرونو پوښل شوې وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښتنه زياتې ژورې برخې يې نصواري رنګ درلود او لږ تر لږه د هغې پر مخ درې پاړکيز رسوبات ليدل کېږي او بيا په خاورين رنګ يو قشر پروت و.
دا غار د فلز په دوره کې هم استوګنځی و او په دې دوره کې يې او سيدونکي په شپونتوب بوخت وو.
د غار د خاورې په ټولو طبقاتو کې د ژوند اثار ليدل کېږي، د حيواناتو هډوکي او چقماق افزار پراته وو نو ادعا کېدای شي چې د ډبرې په دوره کې هلته هميشنۍ استوګنه موجوده وه، خو د تيږې په نوې دوره کې هلته د ژوند نښه نښانه نشته پوهان عقيده لري چې په دې غار کې ۷۰۵۷ کاله دمخه د ښاريانو ژوند موجود و.
(افغانستان در پرتو تاريخ، احمد علي کهزاد، ۳۱مخ).

**۳.شمشير غار :**

زموږ د هېواد له لرغونو غارونو څخه يو هم د شمشير غار دي چې د کندهار د لويديځ او جنوب لويديځ په «۱۵» ميلۍ کې د شمال او شمالي ختيځ په نږدې درې نيم ميلۍ کې چې د پنجوائې په کلی کې پروت دی او د غه کلي ته نږدې استوګن کلي «بادروان» نومېږي چې د ارغنداب په ختيځه غاړه کې موقعيت لري.
د شمشير غار پنجوايي ته نږدې او د ګاونډيو غارونو په جمله کې ډېر مهم تاريخي غار دي چې دعمومي جغرافيا دموقعيت له مخې د افغانستان د جنوب لويديځ د پراخې دښتې د سيمې په څنډه کې چې ريګستان ورته وايي پروت دي «دوری سيند» چې د پنجوائي جنوب لويديځ ته نږدې د (۳۰) ميلو په واټن د ارغنداب په سيند کې ورګډېږي شمشير غار دد غه سيند له غاړو څخه د (۱۰۰) مترو په شاوخوا کې لوړوالي لري، د غره له بيخه د غار تر خولې پورې له (۳ - ۱۵) دقيقو پورې واټن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمشیر غار په اصل کې درې مجوفې برخې لري او که ورته ښه وکتل شي، په عمومي ډول پنځه محوطې او په اصطلاح سره پنځه پناه ګاوې هلته تشخصیدای شي.

- لومړۍ پناه ګاه (۲) متره اوږده او سوریې په بېلا بېلو برخو کې (۱۱) مترو ته رسېږي او جګوالي یې د غار له خولې نه په استثنایي ډول ډېر تنګ دی چې دوه نیم مترو ته رسېږي.
- دوهمه پناه ګاه (۷) متره اوږدوالی او (۱۳) متره سور لري او لوړوالی یې د (۲) مترو په شاوخوا کې دي، وروسته تر یوه دهلیزه له (۱۱) مترو اوږدوالي ځخه دریمه پناه ګاه ده.
- دریمه پناه ګاه، ددغه غار ډېره لویه پناه ګاه ده چې (۳۵) متره اوږده او لوړوالي یې (۱۰) متره دي.
- څلورمه پناه ګاه، د دریمې پناه ګاه غوندې ساختمان او بعدونه لري.
- پنځمه پناه ګاه: د څلورمې پناه ګان له محوطي څخه (۴) متره جګه ده خو خوله یې ډېره تنګه او تېریدل ترې ګران دي.
- د هغو څېړنو له مخې چې ۱۹۵۱م کې د نیویارک د طبیعي تاریخ دموزیم د لرغون پېژندونکي هییت غړي مستر لویې د وپری چي په شمشیر غار کې کړي، ثابته شوه چې دا غار د طبقات ... « پیلوس» په دورو کې جوړ شوي او د قبل التاریخ له دورې نه دمخه ترې ګټه نه ده اخېستل شوې او یو تاریخي غار ورته ویل کېدای شي، ځکه چې د هغو شواهدو له مخې چې ترلاسه شوي د مسیحي پیړۍ له پیل نه نږدې (۱۳) کاله وروسته د مغلو تر عصره پورې یعنې تر ۱۲۲۱م کال پورې د بشر د استوګنې نښې نښانې په کې لیدلی شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاریخي کرونولوژۍ له مخې ددې دورو شواهد په شمشیر غار کې لیدلی شوي دي.

**۱.لومړنۍ کوشاني دوره :**

دا دوره له ۱۰۰ قبل المیلاد څخه، تر میلاده ۳۰۰ کاله وروسته یعنې ۴۰۰ کاله موده رانیسي اوهغه کودوړي چې په ټاپو ښکلی کړای شوی وو ددې دورې ښکارندوی دي.

**۲.وروستنۍ کوشاني دوره :**

له ۱۰۰ تر ۳۰۰ کلونو له مسیحي پیړۍ وروسته معمولاً د کودوړو ټوټې یې سور وزمه دي د تېر سر یې درې فلزي څنډې لري چې زیاتره یې پر « سیتي» قومونو پورې تړاو لري هم له دې قشر سره ښکاري.

**۳. کوشاني ساساني دوره :**

دا دوره لـه ۳۰۰ – ۷۰۰ کلونو پورې موده رانیسي، ددې دورې مخصوص کودوړي یعنې فراګمنتونه لـه هغې ترقۍ سره چې د ساساني دورې د مخصوصو ښارونو په نقشونو کې دي ددې دورې شکمن توب له منځه وړي.

**۴.لومړنۍ اسلامي دوره :**

دا دوره له ۷۰۰ میلادي تر ۱۲۲۱ میلادي پورې ځینې مخصوص کودوړي د سلجوقي دورې شتون ښیي چې د مغولو تر دورې پورې د استوګنې وړ و او بیا وروسته یې، د استوګنې دومره اوږده دوره نه درلوده او کودوړو یې رنګه لعاب لرونکي، د اسلامي پیړۍ د مخصوصو نقشونو لرونکی وو، چې په دې حساب شمشیر غار له مسیحي زمانې څخه تر ۱۲۲۱ میلادي یعنې د (۱۴- ۱۵ پیړیو ) په اوږدو کې د استوګنې ځای و او کندهار ته نږدې یو تاریخي غار شمېرل کېږي چې له لومړۍ کوشاني دورې تر مغلي وروستنۍ دورې پورې مشخصات معرفي کوي( افغانستان در پرتو تاریخ، کهزاد ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳.دارزګان غار :**

په هېواد کې د تاریخي ښارونو په جمله کې یو غار هم په ارزګان کې د « دایرپولاد» د لمر خاته لور ته د سمندان په غره کې شته چې خوله یې **۵** متره لوړه او د ننني منځ یې (**۵۰** ) متره ارتوالی لري.

د غار له چت څخه اوبه را څاځي، د دوبی په دریو میاشتو کې ( چنګاښ، زمری او اوړي» کې دغه اوبه کنګل وي او د بلور په څېر صفا معلومېږي، د سیمې خلک دایخونه ماتوي او استفاده ترې کوي طبعاً د کال په نورو موسمونو کې هم دغه اوبه را څاځي او کنګل کېږي.

ددغه غار تر وروستنۍ برخې پورې تر او سه پورې څوک تللی نه دي.

( پښو اریانا دایرم المعارف، ۲ ټوک، **۸۰۵**مخ ).

**۴.دلاش د کلا غار :**

دا غار له هغو عجایبو څخه ډک دی چې له نوموړي کلا چې یوه پخه کلا ده ایستل شوی دی او دا مشهور خبره ده چې یو وخت ددې کلا دوه غویان هغې ته ورننوتلي وو، یو یې د سمور کلي ته نږدې ( د لاش کلا د جنوب لویدیځ په ۲۰ کیلومترۍ کې ) تر ځمکې لاندې راووت، ددې غار په دننه کې انسان کولای شي په ولاړې لاړ شي خو د زیات تورتم په وجه وړاندې تلای نه شي او که څراغ ولګوی نو دومره زیات پتنګان او شب پرکان یې پر مخ او وجود را توېږي چې دهغوئ د اذیت په وجه وړاندې تګ ممکن نه دي ( سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه ها، محمد اعظم سیستانی، ج ۲، ص ۳۲۷ ) ښایي وویل شي چې زموږ په هېواد کې له پورتنیو یادو شویو غارونو پرته نور غارونه هم شته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پکتیا د میرزکې او د جوزجان د طلاتپې د اثارو پر تله کول

پکتیا د تاریخ په اوږدو کې علمي څېړنیز سیمینار د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په نوښت او دغه راز د افغانستان د علومو اکاډمۍ، د کابل پوهنتون او د ښوونې او روزنې پوهنتون د پوهانو او د هېواد د لیکوالو، ادیبانو، مورخینو او د قلم د نورو خاوندانو په ګډون د تلې میاشتې له ۲۲ مې تر ۲ مې نېټې پورې جوړېږي او په هغه کې به د پوهانو له خوا د موضوع په اړه علمي څېړنیزز مقالې ولوستل شي راځي چې په دې اړه دا لاندې څېړنیزه مقاله په ګډه سره ولولو.

زموږ د لرغونې هېواد له لرغونو بډایو او بې سارو اثارو څخه یو هم د میرزکې او طلا تپې بډای اثار دي چې نن سبا له نړیوال شهرت څخه برخمن دي.

میرزکه د ګردیز د مرکز د شمال ختیځ د ۳۰ کیلومترۍ او یا ۳۵ کیلومترۍ په واټن د تسیو کیوتا Tsiu – Kuta یعنې غزني او د ګندهارا، سوات، پېښور یعنې پوراشاپوار او د پخواني هیدولیانا Hedolyana یا او دیانا Uddyana د کاروانې لارو پر سر موقعیت لري.

د جغرافیوي بعدونو له مخې میرزکه د شمالي عرض البلد د ۳۳ درجو او ۴۲ دقیقو او د ختیځ طول البلد د ۶۹ درجو او د ۲۹ دقیقو پر کرښو باندې پرته ده.

خو طلا تپه یا لتین تپه د شبرغان (اسه پورګان) یعنې جوزجانان په ۵ کیلومترۍ د مزارشریف د لویې لارې په کینه خوا کې پرته ده او د توپو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرافۍ له مخې له مځکې ۴ متره لوړوالي لري دا غونډۍ د يوې بلې غونډۍ په خوا کې چې ايميشي تپه ورته ويل کېږي واقع ده.
د ميرزکې د نومونې وجه لکه چې دګرديز د بالاحصار د باني په باب وويل شوي دي چې د زمرد سيمې او قبيلې د يو واکمن د خورچې زکه پا په ميرزکه ياديدله او په حقيقت کې د يوې واکمنې مفهوم افاده کوي او ممکن د مير دغه کلمه روحاني مفهوم هم ورکړي خو بيا د طلا تپې د تسميې وجه په دې ډول ښودل شوي ده.
طلا تپه چې اصلي نوم يې التين تپه ده او التين په ازبکي ژبه د سرو زرو ( طلا ) معنا لري چې د التين په غونډۍ او يا په طلا تپې يې شهرت پيدا کړي دي دا چې ولې يې په دې مفهوم شهرت موندلی دی علت يې دادی چې ددې غونډۍ د ځينو برخو د ويجاړتوب او د زمانې په تېريدلو سره د لرغونې زمانې د زيات شمېر طلا يي فراګمنتونو د کشفيدلو له کبله پرې ددې سيمې خلک دې ته وګومارل چې د طلا تپې نوم پرې کېږدي.
که چېرته د ميرزکې د اثارو د کشفيدلو او تنوع په اړه وويل شي همدومره به کافي وي چې په دې باب بيا هم د سرمحقق د مرستيال ښاغلي نظر محمد عزيزي اثر، ۲۴ مخ ته مراجعه وشي چې په کې راغلي دي.
دميرزکې دمسکوکاتو د مجموعې د سکو د موندنې پيل لکه دهېواد په يو لړ سيمو کې د تاريخي اثارو د موندنې او کشفيدلو غونډې په ناڅاپي او تصادفي ډول يوه پېښه وه چې د ۱۳۲۲المريز کال په پسرلی کې د سيد کرم ولسوالۍ منګليو ښځو کله چې يې دميرزکې له چينې څخه اوبه وړلې نو يې له اوبو د منګيو د ډکولو پر مهال يوه د سرو زرو سکه وموندله، ددې پېښې د خپريدلو له مخې د کابل موزيم يو هييت هلته سفر وکړ او وضعه يې له نږدې څخه وکتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دچيني په پاسنۍ برخه کې يې مقدماتي څېړنې وکړې او پـه نتيجه کې يې هغې چيني څخه برونزي او مسي زنګ وهلې سکې او يـو شمېر د سرو زرو سکې ترلاسه کړې او د مطالعې لپاره يې د کابل موزيم ته يوړولې.

ارو اښاد کهزاد د ميرزکې په اړه پراخې ليکنې کړې دي لکه چې وايي:

... له يو لړ کيندنو او عمراني مطالعې وروسته څرګنده شوه چې پـه اصـل کې دغه چينه د دې غونډۍ د نورو چينو په شکل چې اوبه ترې را بهېږي د يـوې مستطيل شکلي کوټې محوطه چې اوږدوالي يې له ختيځ څخه لويديځ تـه د پنځو مترو او لـه شمال څخه جنوب تـه د څلورو مـترو پـه شاوخوا کې دي ښکاره شوه د کيندنې د دې مرحلې په لومړۍ سر کې يـو شمېر سکي لـه دې چينې څخه ترلاسه شوې.

د دغې محوطې پـه منځ کې يـوه کوټـه چې د مخـه وويـل شـول ښـکاره شـوه د سنګ کـارۍ څلور پاخـه او مـنظم ديوالونـه يـې درلـودل او دغـې کـوټې تـه ضرابخانه ويلای شو او د معلوماتو له مخې يو وخت دلته مهرونه جوړېدل، زرګري او آهنګري کيدلې چې سرنيزې، غشي او داسې نورشيان پـه کې جوړېدل او چې کله پـه دې ځای کې علمـي اوعملي څېړنې پيـل شـولې ورو ورو دلتـه نهه زره سـکې ترلاسـه شـولې چې زيـاتره برخـه يـې د سـپينو زرو او مسي وې وروسته په کې خپلسرې کيندنې او لـويې لوټـونې پيـل شـوې چې له ۱۳۷۱ – ۱۳۷۳ کلونو سره يې سمون درلود.

خو پـه ۱۳۲۵- ۱۳۳۲ کلونو کې چې د مخـه ورتـه اشاره وشوه د لـومړۍ پـړاو پـه کيندنو کې د لسو زرو سکو په شاوخوا کې اټکل کېدای شي. او کـه پـه دې باب د زيات بحث څخه تېر شو نو پـه کـوټلي او نتيجوي ډول د کرونولـوژۍ په اعتبار د واکمنيو پورې پـه ارتباط کې د ميرزکې د سکو د کلکسيون پـه ډول معرفي کېدای شي.

- د انتي ماکوس په دوره کې ۲۰۰ – ۲۳۰ تر ميلاده د مخه کلونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د پانتالتون په دوره کې ۱۹۰ تر میلاده دمخه کلونه.
- دایودوت د دورې متعلق (۱۸۰) کاله تر میلاده دمخه.
- د تاګانو کلس د دورې متعلق (۱۸۵) تر میلاده دمخه.
- دایو کراتید په دوره کې: (۱۷۵) کاله تر میلاده دمخه.
- دمناندر د دورې متعلق: (۱۲۵) کاله تر میلاده دمخه.
- د هیلوکلس د دورې: (۱۵۹) کاله تر میلاده دمخه.
- دلیزیوس د دورې متعلق: (۱۵۰) کاله تر میلاده دمخه.
- د انتیال کیلاس د دورې متعلق: (۱۴۵) کاله تر میلاده دمخه.
- دارکه بیوس په دوره کې (۱۴۰–۱۳۰) کلونه تر میلاده دمخه.
- د دیو مدوس د دورې متعلق (۱۴۰–۱۰۰) کلونو تر میلاده دمخه.
- د فیلوګزنوس په دوره کې (۱۲۴) کاله تر میلاده دمخه.
- د دوپلوس د دورې متعلق: (۴۰) کاله تر میلاده دمخه.
- دآزس د دورې په تړاو (۵۸) کاله تر میلاده دومخه.
- د آزبیزس د دورې: (۴۰–۴۵) کلونه تر میلاده دمخه.
- د اسپاری لیزس د دورې: (۱۱۰) کاله تر میلاده دمخه.
- دکندو فارس د دورې متعلق: (۱۹–۴۸) کاله تر میلاده دمخه.

او دا چې طلا تپه ځنګه کشف او څېړنې په کې وشوې او څه ډول اثار په کې ترلاسه شول په زیاتو مدارکو کې په دې باب څېړنیزې لیکنې او په دې باب یو لړ نظریې وړاندې شوي دي خو موثق او باوري هغه معلومات دي چې ددې سرشارې خزانې د معرفۍ په ترڅ کې ښاغلي ډاکټر لطیف بهاند په یوه اوږده مقاله کې بیان کړي او د هېواد ورځپاڼې د ۱۳۸۹ل کال د لیندۍ د ۲۷ مې نېټې په ګڼه کې چاپ شوې ده چې لنډیز یې په دې ډول دي.

ددې خزانې د سپړلو چارې په ۱۹۷۸ میلادي کال د پخواني شوروي اتحاد او د افغانستان ترمنځ د دولتي پریکړې پر بنسټ د دواړو هېوادونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغون پوهانو په ګډو هڅو او پرله پسې زیار ترسره شوي، په پایله کې د میلادي دوو زرو کلونو دمخه لرغوني اثار را څرګند شول داکیندني د شوروي اتحاد د لرغون پوهان چې مشر یې «و . ا. سریانیدی» او د افغاني لرغون پوهانو مشري د ښاغلي «حبیب اعظمی» په غاړه وه له خوا ترسره شوې.

سپړنې په پرله پسې توګه له ۱۹۷۸- ۱۹۷۹م کال پورې د همدې تپې په بېلا بېلو برخو کې ترسره شوي نوموړي هییت هلته د سیمه ییزو واکمنانو، پاچهانو او شهزادګانو (۷) مهم قبرونه او هدیرې وڅېړلې او (۲۱۲۱۸) د سرو زرو، تهوتې، نقره ایز او برونزي اثار د یو شمېر رومي، پارتې او هنري سبکونو سره یو ځای ترلاسه شول.

طلا تپه د ساختماني سبک او پلان د ترلاسه شویو اثارو له مخې د منځنۍ آسیا د جنوبي سیمو له اثارو سره ورته والي لري دایمیشي (ایمشیک) په غونډۍ کې هم کیندنې وشوې ددې غونډۍ لومړنۍ سطحه له پورته څخه لاندنۍ خواته په کوشاني دورې پورې اړه لري.

دالتین تپې څخه څه لېرې «یمپیک gemehik-tapa تپه پرته ده دموجوده سندونو په بنیاد د ښامارانو (Grief- fon) سمبول د طلا تپې په کشف شویو اثارو کې شته د چاقو او پیش قبضې په لاستو کې په برجسته ډول سره زراچول شوي دي.

دهنري جوړښت له پلوه دا ښاماران چې لکۍ او سر یې په متناظر ډول دي په واقعیت کې د پاچاه د حشمت او هیبت انعکاس ورکوونکی دی (ښایي وویل شي چې د ننګرهار د درونټې په لرغونو سیمو کې د مارانو په نوم یوه تپه شته چې په بودایي آثارو پورې تړاو لري) وروسته تر هغې چې د تزئیناتو او جوړښت له نظره د طلا تپې په اثارو کې لیدل کېږي، زیاتره ورته والي یې د ګندهارا په دیکوراتیف کې په څرګنده توګه ترسره کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېره بیا د ښامار تبلور، د طلايي پاڼې برجستګۍ لکه طلا يي تزئينات له دې جملې نه د کرې، غوږوالۍ، په طلا يي کمربندکې طلايي ټامپونه ورته والي لري دا چې د طلا تپې د غه ګران بیه خزانه د لرغونو اثارو د مافیایي قاچاقبرانو څخه څنګه خوندي پاتې ده جلا بحث غواړي.

که د میرزکې د مسکوکاتو د کلکسیون څرنګوالي د طلا تپې د خزانې سره پرتله شي نو په پایله کې ویل کېدای شي.

۱.د میرزکې د مسکوکاتو کلکسیون په لومړۍ کې په ناڅاپي او تصادفي ډول ترلاسه شوی، حال دا چې د طلا تپې اثار د علمي څېړنو په پایله کې ترلاسه شویدی.

۲.دمیرزکې د مسکوکاتو په اثاروکې د یو څه او سپنیزو افزارو په شمول یوازې سیکې ترلاسه شوی دی حال دا چې له طلا تپې څخه د سکو په شمول نورنادر اثار لکه طلايي مار ترلاسه شوی دی.

۳.د میرزکې د کلکسیون سیکې تر میلاده له دوو زرو تر میلاده ۱۹ کاله دمخه زمانې او د بېلا بېلو پاچهانو او واکمنانو په دورو پورې تړاو لري خو بیا په طلا تپه کې دکوشانی دورې په شمول د سیمه ایزو واکمنانو، پاچهانو او شهزادګانو پورې تړاو لري او د قبرونو او له تپو څخه ترلاسه شوی دی.

۴.دمیرزکې د سکو کلکسیون د لسو زرو په شاوخوا کې سکې یې رانیولی ډېرې کمې کابل موزیم ته سپارل شوي اونورې د لرغونو اثارو د مافیایي قاچاقبرانو له خوا لوټ شوی دی خوله نیکه مرغه په ډېرو ناوړو شرایطو کې د طلا تپې اثارو چې له سلو زرو زیات دی خوندي پاتې شوي دی.

۵.ډېره مهمه موضوع داده، چې دمیرزکې د سکو کلکسیون چې زموږ دخلکو ملي شتمنۍ وه د قاچاقبرانو او زموږ دملي شتمنیو د غاصبانو په ګټه تمامه شوې ده حال دا چې د طلا تپې ګران بیه خزانه زموږ د خلکو د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي او تاريخي امانت په توګه پاتې او د ملي موزيم د رئيس محترم عمرا خان مسعودي د راپور له مخې چې وايي:
د طلا تپې اثار چې ۲۳۱ قلمه دي د هېواد ځلورو لرغونو حوزو او د برونزو په د دورې پورې اړه لري، د آی خانم د تپې اړوند اثار چې تر ميلاده دوه درې پيړۍ د مخه دي ۱۱۱ قلمه، د طلا تپې يا د باختر د خزانې اثار او ۸۵ قلمه اثار د بګرام د لرغونې حوزې اثار رانيسي.
دا اثار چې د ۲۰۰۶ ميلادي کال راهيسې نړيوالې ننداريې ته وړاندې شوي دي په فرانسه، ايتاليا، هالند، امريکا، کانادا او المان کې تر يې له يو ميليون زيات و کسانو ليدنې کتنې کړې دي او له دې لارې تر سلو ميليونو زياتې افغانۍ د افغانستان د دولت د وارداتو په حساب کې تحويل شوي دي او همدارنګه به په انګلستان، دنمارک، هسپانيه، سويس، اتريش او روسيې کې هم ننداريې ته وړاندې شي.
اخځونه:
۱ـ اثارو ساحات مناطق جنوب و جنوب شرق افغانستان، نظر محمد عزيزي، اکادمی علوم، مطبعه بهير، کابل، ۱۳۸۷، ص ۲۱.
۲ـ اصلاح ورځپاڼه د ۱۳۷۷کال د ثور ۵مه نېټه او د بې سيم مجله د ۱۳۸۹کال ۱۹مه ګڼه د رازقي نړيوال مقالې.
۳.د تاريخي پکتيا او لوګر لرغونی سيمې او اثار، رازقي نړيوال، د بهيقي د کتاب خپرولو رياست، ۱۳۹۰ کال.
ازادي مطبعه، ۳۷مخ د اثارو ساحات مناطق، د اثر په حواله.
۴.د اصلاح ورځپاڼې او د بيسيم مجلې پورتني ګڼې.
۵.اثارو ساحات باستانی او افغانستان در پرتو تاريخ، کهزاد.
۶.د بې سيم مجله پورتنۍ ګڼه او هېواد ورځپاڼه او په همدې ډول طلا تپه د محقق زمری کمال اثر د ۱۳۸۳کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تخت جمشید او تخت رستم، تخت ظفر او تخت سلیمان

زموږ د هېواد د لرغونو اثارو په لړ کې یو شمېر ابدې او سیمې لکه کافر کوټونه او تپې د محلاتو په تفاوت سره شتون لري چې زما له خوا څه ناڅه پرې بحث شوی او همدارنګه یو شمېر آبدې هم لکه تخت رستم (نقش رجب) او د تخت جمشید (د جمشید تخت) او داسې نورو څخه دهېواد په ځینو لرغونو سیمو کې یادونې راغلې دي چې دلته به د جمشید تخت او تخت رستم او نور تختونه معرفي شي.

**۱. تخت جمشید :**

کله چې د لوګر د لرغونو سیمو او د هغو د اثارو په باب بحث کېږي یوه لرغوني سیمه یې د «جمشید تخت» سیمه ده او که د جمشید د تسیمې وجه معرفي شي نو دا کلمه له دوو برخو څخه جوړه شوې ده جم چې د بلخ د پیشدادیانو د کورنۍ ستر پاچا یما او یاما څخه عبارت دی، او شید د ځلیدلو معنا ورکوي نو کله چې دده پر تاج باندې د لمر شغلې وځلیدلې نو تردې وروسته ورته د جمشید توصیفي لقب ورکړ شو، دا چې دا سیمه د خپل تاریخي برم له مخې یوه لرغوني شتمنه سیمه ده نو ځکه ورته د جمشید تخت نوم ورکړ شوی دی.

دا لرغوني او تاریخي سیمه د لوګر د برکی برک ولسوالۍ په سجاوند کې چې دا هم یوه لرغوني او د اثارو د شتون له مخې بډایه سیمه ده لکه څنګه چې یې د نوم له قراینو څخه څرګندېږي نو لرغونتیا یې د آریانا د دربیم او ستر افسانوي پاچاه د جمشید زمانو ته ورغځېږي چې ۲۵۰۰ کاله تر میلاده دمخه زمانې پورې تړاو لري څرنګه چې دا یوه لرغونې سیمه ده، نو د لوګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يو شمېر نورو لرغونو سيمو غونډې د کيندنو په ترڅ کې تر يې د سرو زرو او سپينو زرو د نارينه او ښځې دوې مجسمې ترلاسه شولې، چې متاسفانه د هېواد لرغونو اثارو د قاچاقبرانو له خوا يوړول شوې له تخت جمشيد څخه يو شمېر ډېرليکونه هم لاس ته راغلي دي چې د دې سيمې د پېړيو پېړيو لرغونتوب په وثبات رسوي.

**۲. تخت رستم :**

زما په عقيده دا نوم د رستم زال له افسانوي قهرمان او غورديوې پخې کلا دکک يو ياغي په کې ياد شوي دي او دا چې ساختماني شکل يې د لوړتيا له مخې يو تخت ته پاتې کېږي نو د تخت رستم نوم ورکړ شوی دی.

دا د سمنګانو دوهمه آبده او له هغو سمڅو څخه عبارت ده چې دقيق موقعيت يې په پښتو آريانا دايرة المعارف کې داسې ښودل شوي دی:

تخت رستم يو کلی دی چې د ايبک (سمنګان) په ۱۴,۵ کيلومترۍ کې د عمومي سرک تر څنګ مخ په جنوب لويديځ د ختيځ طول البلد د ۵۸ درجو او ۳۸ دقيقو او د شمالي عرض البلد د ۳۲ درجو ۱۰ دقيقو او ۱۲ ثانيو پر کرښو باندې پروت دي، تخت رستم چې په توپ رستم يعنې ستو په رستم باندې هم شهرت لري له يوه ستر بودايي معبد څخه عبارت دي او هزارسم دهغه يوه بله ځانګړي سيمه ده چې په هغې کې يوازې معبد نه بلکې سمڅې او هغه هم دتاريخ تر دورو دمخه دزيات اهميت لرونکي دي.

اروابناد احمد علي کهزاد په خپل اثر (افغانستان در پرتو تاريخ) کې دتوپ رستم د پېژندنې په باب داسې مستندې ليکنې لري:

لکه څنګه چې څرګنده ده هغه څه چې د تاريخي اثارو له مخې د سمنګانو د زيات شهرت لامل ګرځېدلي دي له يوې لويې ډبرې څخه ددې سمڅې چې د نيلوفر د ګل (په بودايي آيين کې يو مبرک ګل) په پاڼو تزئينکاري شوی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې کوټې د لوړې او سترې طاقچې په وره کې يوه لويه ستوپه ايښودل شوې ده چې له مخامخ کړکۍ څخه ورته روښنايي راتلله.
دوهمه کوټه هم يوه ګردۍ سمڅه وه چې په اصل کې له دوو د هليزونو جوړه شوې او درې حجرې په کې کيندلې شوې وې او په دې وروستيو کې د سيمې خلکو د دوکانداريۍ لپاره کارولې.
دريمه خونه: چې د پراختيا او شکل له مخې د لومړنۍ خونې غوندې وه خو د طاقچو شمېر يې څلورو، ددې خونې مخې ته يوه بله مربع شکله خونه ده او دا دواړه کوټې د يو لس متره اوږد دهليز په واسطه يو ځای کېدلې.
څلورمه خونه: چې ويل کېږي د سمڅې په يوه ګوښه کې ده له يوې پنځه متريزې حجرې څخه عبارت ده چې د سيمې خلک يې حمام ګڼي. احتمال لري چې د يادو شويو ځايونو د کيندلو او توږلو مفکوره يې په څلورمه ميلادي پيړۍ کې رامنځته شوې وي.
چيني زاير هيوان تسانګ ددې ځای له لسو بودايي معبدونو څخه يادونه کړې ده چې بې له شکه د سمنګانو معبد او ډبرينه ستوپه هم له دې ډلې څخه شمېرل کېږي. هغه لومړني شخص چې د اروپايي سيلانيانو په دله کې يې ددې بودايي آبدې د سمنګانو د ايبک د تخت رستم په باب يو لړ څرګندونې وړاندې کړې انګليس، ميجربات و نوموړي خپله څېړنه په ۱۸۸۸م کال په خپل کتاب (شمالي افغانستان) کې خپره کړه او د لومړي ځل لپاره د عامو خلکو له دود او دستور سره سم يې دهغه ځای دا ستوپه په تخت رستم ونوموله، په بودايي دوره کې ايتالوي لرغون پېژندونکی هييت په ۱۹۶۱م کې هزار سم (چې جلا بحث غواړي د يو نوی ښار په توګه پېژانده چې د فرعي درو په شمول يې ۳۵۰۰۰ مربع متره ستوپه ده چې د سيمې خلکو د عرف له مخې يې په توب رستم شهرت پيدا کړي دي بې له شکه هغه ډېر مهم لامل چې يې د بودايي پيروانو پاملرنه ځانته راوړوله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمې د طبیعي جوړښت او د ځمکو شکل و لکه چې په بامیانو او د هند په «ماجاشا» کې د غرونو په لاښونو او کمرونو کې یې خپل معبدونه او ستوپې په داسې ځایونو کې جوړې کړي نو بودایي پیروانو د ما قبل التاریخ د مغارو د جوړولو یعنې د هزار سم په تقلید اراده وکړه چې د غرونو په نوموړو برخو کې توږنې ترسره کړي، چې د سمنګانو په تخت رستم مشهوره بودایي ستوپه دا ډول طبیعي او قدرتي لوړو پشتو ځخه شمېرل کېږي.

د تخت رستم انګړ په یو قول ۸۰ مترو او په دې لیکنه کې ۸۰ متره دی.

د بودایي آئین د دود له مخې په ستوپو کې ځینې یادګارونه لکه سیکې اونور مذهبي شیان ایښودل کېدل نو ځکه په تخت رستم کې د یادګار په توګه یوه کوچنۍ خونه هم د ستوپې د ډیرې د بدني د تخت په ډېره لوړه څوکه کې کېندل شوی چې مخه یې د ختیځ خواته او تر اوسه پورې په خپل حال پاتې ده او د ځمکې پر مخ یې قطر ۱,۷۵متره دي.

موسیو فوشه د دغه کوچنۍ کوټې تر کیندنې وروسته په دې عقیده و چې د ستوپې د کار بهیر د کوم نامعلوم علت په وجه ځنډول شوی او یا دا چې بشپړ شوی نه دی، نوموړي دا ځنډیدنه په ۴۲۵ م کال کې د یفتلیانو رامنځ ته کېدو ته نسب ورکوي، که څه هم یفتلیانو له بودایي دین سره مخالفت درلود خو وروسته یې دا دین منلی دی.

له تخت رستم سره نښتې یو غرګوټی دی چې د بودا پیروانو د هغه په دننه کې یو شمیر لویې او کوچنۍ سمڅې او یو پراخ دهلیز و کنیده چې د ختیځ او لویدیځ خواته په یوه لیکه پروت و او وریې د غرګوټې په بیخ کې د جنوب خواته کیندل شوی و په تپه کې دننه د سمڅو شمېر پنځو ته رسېږي خو پنځمه سمڅه نیمګړې پاتې ده او د غونډۍ له اهکي ډېرې څخه جوړه شوې ده دومره محکمه نه ده او دوخت په تېرېدلو سره یې د ننني برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سولیدلې او را لویدلي او د غونډۍ د ننني رنګمالي یې له منځه تللې ده همدا رنګه د دې پراخ دهلیز په دننه کې یادې شوې څلور سمڅې او د مجسمو د درولو ځایونه لیدل کېږي چې له بشري افتونو څخه په امن کې پاتې نه دي.

**۳. د سیستان د کوه سپند تخت رستم :**

د کوه سپند د غره د پاسه د څلورو سترو ودانیو اثارو او کنډوالې په متروک ډول ښکاري چې د تماشې او لیدلو وړ دي، د دې غره (چې کوه خواجه هم ورته ویل کېږي) له دې شړو خرابو او کنډوالو څخه تخت رستم، کوشک، چهل کنجه او قلعه چهل دختران یې پوره مشهور دی.

څرنګه چې د دې تخت او کلا ګانو د ساختماني اونورو حالتونو په اړه معلومات ترلاسه نه شول خو همدومره ویل کېدای شي چې دا څلور واړو ځایونو خورا پاخه محلات و او له تخت رستم څخه څرګندیږي چې یو لوړ ځای د تخت غونډې جوړه شوی وه.

**۴. تخت صفر (سفر، ظفر) :**

له دې تخت ځایونو څخه یو هم تخت صفر دی په پښتو آریانا دایرة المعارف کې د دې تخت په هکله په دې ډول معلومات ورکړ شوی دی.

دا یو بڼ او د سیل ځای دی چې د هرات ښار په (۴) کیلومترۍ کې اټکلی مسافه د عمومي پارک شمال پلو د هغه غرګوټي په بیخ کې چې په همدې نامه شهرت لري د یوې غونډۍ پر سر پروت دی، دا ځای د هرات ښار د چاپیریال په سمسوره او شالیزه جلګه باندې له لېرې وا کمنه نقطه ده او ننداره کوونکو ته په زړه پورې او خوشالوونکي لیدنځی چمتو کوي. د غه بڼ سم او منظم خیابانونه او زیاتره د ناجو او ژیړ ارغوان او اکاسۍ ښکلې ونې لري دلته دوه ښکلي ودانۍ هم جوړې شوي دي چې یوه یې د کافي په حیث ده او د لامبو یو حوض هم ورته نږدې شته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه پارک د نوم په اړه دري نظرونه شته که چېرته د سفر تخت په (ص) ولیکل شي په دې معنا دي چې مراد هغه صفر دی چې د سلطان حسین بایقرا ، خسرو او دغه پارک د هغه په نامه نومول شوی دی، که چېرته په ( س ) ولیکل شي تخت سفر په دې معنی دي چې نوموړي سلطان خپل سفر له دغه ځایه پیل کړی دی او که چیرته د ( ظ ) په توري ولیکل شي نو تخت ظفر په دې مفهوم دی چې هغه سلطان د خپلو کامیابیو مراسم په دغه ځای کې نمانځل باید وویل شي چې په بېلا بېلو دورو کې دغه یو لړ ورانې ویجاړې او بیا رغاونې هم لیدلی دي.

**۵. تخت سلیمان :**

د اشکائیانو په زمانه کې د فراسپا Fraaspas په نامه مشهور شوی و.

د سلیمان تخت د هغې غونډۍ پر مخ د یو شمېر ودانیو کنډوالې او د ویجاړو شوو مجموعه ده چې شاوخوا یې یو ژور رودګي بهېږي د ښار پخواني حصار لا تر اوسه په خپل ځای پاتې دي او محیط یې ۱۲۰۰ مترو ته رسېږي، نوموړي دیوال د لرغون پېژندنې د څېړنو له مخې پنځه متره پنډوالی لري، د دیوال جګوالي تر پاسنۍ برخې پورې له ۱۴ مترو زیاتوالي کوي، برجونه او بارو لري چې د برجونو شمېر یې ۲۷ ترصدي برجونو ته رسېږي او دوی عمومي دروازې لري.

چې په واقعیت کې یو بالاحصار دي د ښار په مرکزي برخه کې اتشکده او مانۍ شته چې د سپاهیانو او لښکریانو استوګنځی و او داسې څرګندېږي چې ښایي په ساماني دورې پورې اړه ولري، پردې سربېره یو شمېر څېړونکی تخت سلیمان یو کنډواله شوی ځای بولي. د ( ارومیه Aromya ) درودګي په پنځه ویشت کیلومترۍ کې ( ۲۵ فرسخه ) یو شمېر مورخان د سلیمان تخت د اذربایجان پایتخت بولي چې هلته هغه مهال پارتیان واکمن وو دوی عقیده درلودله چې دا ذرګشپ اتشکده هم دلته وه. د رومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سردار «انتینونیوس» د جکسن عالم په نظر دا اتشکده هماغه داذرګشب اتشکده وه چې د سلیمان پر تخت شهرت لري چې واتن یې له ارومیه او همدان سره یو شان دی. ځینې د سلیمان تخت د (تروپات Atropat) پاچاه استوګنځی بولي.

همدارنګه د سلیمان تخت په کشمیر کې د هغه غره نوم دي چې حضرت سلیمان (ع) هلته را کوز شو، او خلک تر اوسه پورې د نیتونو او حاجتونو لپاره هلته ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مارکو پولو

په نړیواله کچه زموږ د ګران هېواد افغانستان په معرفي کولو کې تر هر څه دمخه نړیوال سیلانیان او جهان ګرځېدونکی لا چې د سوداګرۍ د شغل لرونکی وو او یا ددې خاورې د لرغونو مذهبي اثارو د لیدلو کتلو لپاره خورا اغېزمنه ونډه لري. لکه چې ویل کېږي که دا سیلانیان په تېره بیا چینایي زایرین نه وای نو د پخواني افغانستان او د هغو د لرغونو سیمو او تاریخي اثارو په باب به اوس هېڅ معلومات د لرغون پوهانو او مورخانو او جغرافیه لیکونکو په واک کې نه وای. او په دې لړ کې مارکوپولو هغه سیلاني سوداګر دی چې د افغانستان د وتلي موقعیت په باب یې دخپرو شوو یاددا شتونو په وجه دا لرغونې خاورې له نړیوال شهرت څخه برخمنه شوه نو پوره اړینه ده چې نوموړي معرفي شي.

پولو (مارکو) یو ایتالوی سیاح دی، د وینز په ښار کې زیږېدلی دی دده سیاحتونه دنړۍ د ډېرو برخو په اکتشاف کې پوره اغېزه لري.

دده پلار او تره «نیکولو پولو» او «سامتو پولو» د وینز د ښار له مخورو او اشرافو څخه وو، د جواهراتو، وریښمو او ګران بیو شیونو سوداګري یې کوله، یو کرت یې اسیا ته هم سفر وکړ او په چین کې یې قوبلای قاآن چې د چنګیز د کورنۍ شپږم امپراتور ؤ حضور ته ورغلل او له هغه څخه یې ډېر مینه ولیدله.

د مارکوپولو پلار او تره لومړني اروپائیان دي چې چین ته یې سفر کړی دی او کله چې نیکولوپولو په ۱۲۷۱م کال د دوهم ځل لپاره چین ته لاړ خپل زوی (مارکوپولو) یې هم له ځان سره بوت او نوموړی هم لومړی هلک ؤ چې چین یې ولید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷کلن مارکوپولو د خپل پلار او تره سره دامپراتور دربار ته لاړل، کله چې دې خان ولید د نوم او ځای پوښتنه یې ترینه وکړه دده پلار ځواب ورکړ:
ستاسې مریې او زما زوی.
په خاقاآن باندې دا ځواب ښه ولګید او امر یې وکړ چې د دولت په ملازمانو کې یې شامل کړي او دده په درناوی شاهانه جشن جوړ کړي.
مارکوپولو په خپله سفرنامه کې ددې جشن او خاقان د دربار د نورو جشنونو پوره صفت کړی دی.
په دې توګه مارکوپولو او تره یې د قوبلای خان په دربار کې پاتې شول او هغه ته د زیاتو خدمتونو د سرته رسولو سبب شول.
د مارکوپولو په سفرنامه کې د دوی د مسافرت جریان داسې تصریح شوی دی:
مارکوپولو او دده ملګرې په یوه کوچنۍ بادي بېړۍ کې له مدیترانې څخه پوره وتل او د کوچنۍ اسیا په یو بندر کې ښکته شول. ارمنستان ته راغلل هلته یې دنفتو روانه چینه ولیدله چې د باکو په ښار کې موجوده وه، له هغه ځایه هرمز ته راغلل او کله چې له کرمان څخه را تېر شول د افغانستان خاورې ته راننوتل او له یو داسې ښار څخه چې د نړۍ خوږې خربوزې یې درلودلې یعنې د بلخ له شان او شوکت ډک ښار ته راورسېدل هلته د مغولو د چپاوونو اثار یې ولیدل چې دا ښار یې له خاورو سره خاورې کړی ؤ.
نو بیا هم ددې ښار د مرمرینو ماڼیو، پراخو دښتونو او لوړو سطحو کې خپل منزل ته دوام ورکړ، تر څو چې د نړۍ بام (پامیر) ته ور پورته شول، تر ۱۲ ورځو مزل وروسته له پامیره تېر شول او مارکوپولو لومړنی جهان ګرځېدونکی دی چې د نړۍ له بام پامیر څخه یې یادونه کړې ده. مارکوپولو هلته یو ډول پسونه ولیدل چې جګه ونه او تاو را تاو ښکرونه یې درلودل او د سیمې خلکو له دوی څخه د لیوانو په مقابل کې د مدافعې د الاتو او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیانو لپاره استفاده کوله اروپایي حیوان پېژندونکی په لاتینه ژبه دغه پسونه «اولیس بلی» نوم ورکړ.

مارکوپولو د ۹۲ ورځو په شاوخوا کې او د دوی د سفر په مسیر کې له یو شمېر ښارونو تر لیدلو او د مې او د چین د لوی دیوال له لیدلو وروسته تبت له لارې د قوبلای خان د دربار خواته خپل سفر ته دوام ورکړ، خان خو تنه د دوی د لارښوونې په خاطر د دوی مخې ته ور ولېږل.

مارکوپولو دهغه زیرکۍ او هوښیار توب په وجه چې یې درلود د قوبلای خان له ډېرو باوري درباریانو څخه ؤ او هغه ته یې د یادونې خدمتونه سرته ورسول او کله چې د قوبلای خان په دربار کې د ځانګړې مقام د لرلو له امله د یو لړ درباریانو رخه او کینه را پورته کړه نو یې خپل هېواد ته د ورستنیدلو په خاطر له قوبلای خان څخه اجازه وغوښتله، خو هغه ورسره ونه منله ترڅو چې د خاقانی شهزاده ګۍ، د ایران شهزاده ته د ور رسولو د ماموریت په وجه ایران ته او په ۱۲۹۵م کال وینز ته په رسیدلو سره دده سفر پای ته ورسېد او بیا د جنیوایي سوداګرو سره یې په جګړه کې ماته وخوړله.

وروسته مارکوپولو د «اوسچیلو» نومي یو زنداني لیکوال سره آشنا شو او د خپل سفر یادداشتونه یې له کوره را وغوښتل او هغه ته یې ورکړل او په ۱۲۹۵م کال په زندان کې دده سفرنامه ترتیب شوه او نړۍ د سیلانیانو د پوره پاملرنې او استفادې وړ وګرځېدله.

دده دې سفر نامې د افغانستان تاریخي موقعیت او له برمه ډک مشخصات نړیوالو ته معرفي کړل او دې لرغونې هېواد ته یې د وریښمو د لار په معرفي کولو سره د هر چا پام را وګرځاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د افغانستان په باب د مارکوپولو د سفرنامې یادداشتونه او د چینایي سیلانیانو د سفرلیکونو یادداشتونه وای لرغونې افغانستان او د هغه نړیوال اهمیت به په دې او سني کچه چا نه پېژندلای.

**هزار شهر د باختر د لرغونو ښارونو د مجتمع په توګه :**

لکه چې څرګنده ده د روان کال د چنګاښ په پنځلسمه نېټه د باختر د هزار شهر ننداړتون په داسې حال کې په ملي موزیم کې د اطلاعاتو او فرهنګ د وزیر سید مخدوم رین په وینا د یو لړ شاندارو مراسمو په ترڅ کې پرانستل شو چې یو شمېر لویو شخصیتونو په کې ګډون کړي وو.

دا چې ( هزار شهر ) زموږ د لرغوني هېواد دعمراناتو په تاریخ کې ځانګړې ځای لري نو اړینه ده چې د پوره پېژندنې په خاطر پرې څېړنیز بحث وشي.

زموږ لرغوني هېواد له باختر، اریانا، خراسان او د ګندهارا د حوزې له زمانې څخه رانیولې تر اسلامي حتی د میلادي پېړۍ دمخه زمانې پورې د څو زره کلن تاریخ په اوږدو کې، ددې پر فیضي خاورې په لویشت لویشت کې چې د خورا بې سارو لرغونو بډایو اثارو لرونکي ده او دا فرهنګي شتمني زموږ د ملي هویت او ملي مفاخرو بیخې زیاتې ویاندې بېلګې ګڼل کېږي او دا هغه سرشاري شتمني دي چې دهغوي په هستولو کې د تېرو نسلونو دخلاقانه ذهني وړتیا او مبتکرانه استعدادونو او له سترپاوو د ډکو تخلیقونو ثمري دي او هغه چې ددې خاورې د سوچه او اصیلو هنري شهکارونو سره، د بهرنیو ایجادیتونو د غورو برخو د راخستلو او سره د خلطولو په نتیجه کې رامنځته شوي دي، چې یې په ټولو فرهنګي او هنري برخو کې ویاندي بېلګې وړاندې کېدای شي او له دې منځه پخواني ودانې او معماري، چې دمذهبي او مدني مرکزونو په اعتبار وداني او ډول ډول آثار استحکامي تاسیسات لکه پخې کلاوې، حصارونه او بالاحصارونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوی اړوند تحکیماتي عناصر یې د یادونې وړ دي او د تاریخي مدارکو له مخې یې شمېر تر زرګونو هم زیاد ښت کوي او له همدې کبله په یو شمېر اثارو کې د پخوانیو ساختامنونو او د معماري د سبکونو په اړه لیکنې شوي دي چې یو له دغو ودانیو څخه د یو مجتمع په توګه د (هزار شهر) ودانۍ دي دلته پوره اړینه ده چې د (هزار شهر) د مجتمع په باب معلومات وړاندې شي.

ښاغلي څېړنپوه میر عبدالرووف ذاکر د (شیوه معماري د هنر ظریفه یونانی کوشاني) اثر څخه د هزار شهر د برخې لنډیز را اخېستل کېږي:

د تاریخي مدارکو له مخې هغه څه چې تر اوسه پورې د پوهانو او محققانو د بحث وړ دی هغه د باختر د (هزار شهر) د شتون له موضوع څخه عبارت دي.

هزار شهر چې په پښتو کې د (زر ښارونه) مفهوم افاده کوي یوه ډېره پراخه سیمه رانیسي چې د یونانیانو له خوا په کې د یو لړ ودانیو تهدابونه ایښودل شوي دي او د ودانیو دا پروسه د راتلونکو ودانیو د ښاري پراختیا لپاره یوه ارزښتناکه نمونه ګرځېدلي ده.

د ښتلي اوربانیزم (کارتوته ورته ښار ګوټې یا مجتمع) دانما خوا په خوا د کارتو د ویشني له خوا جوړېده، د ودانۍ او معماري تشکیلات یې د یوناني ټولنو د شتون سره اړیکې لرلې.

د چاکین یو عالم، د رپوټونو له مخې په باختر او د (اکسوس) په سرحدي برخو کې هغه طایفو او ګړو استوګنه درلودله چې د ټاکلیو پولو، حصارونو او کلاګانو درلودونکي ښارونه یې درلودل:

هغه چې د سور درو او جګو دیوالونو په واسطه احاطه شوي وو او په هغوی کې به بېلا بېلې طبقې، حاکمان او پاچهان اوسېدل، داودانۍ او د هغو د معماري ډول بعدونه د هزار شهر پورې تړاو درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هزار شهر د جوړولو دوره هغه یوازینۍ دوره ده چې د آمو دریا یعنې اوکسوس د هغې خوا د قومونو او قبیلو ترمنځه یرغلونه او نښتې روایې وي.
خو یوناني واکمنانو او د چینایانو ترمنځه سوله ایزې اړیکې موجودې دي د چاکین د لیکنو پر بنا د باختر د هزار شهر او سیدونکي د (تاهیا) او فرغاني په خاوره تر (تایوان) پورې ساحه رانیوله چې د باختر د هزار شهر څخه عبارت ده هغه مهال چې مقدومي سکندر له مرکزي اسیا څخه جنوب او له هغه ځایه (نینوا) ته ورستون شو (۳۳۰ – ۳۲۲ تر میلاد ده دمخه) دده تر مړینې وروسته د سلوکیانو او پارتیانو ترمنځه د دریم (انتیوخوس) تر واکمنۍ پورې د غو نښتو دوام درلود، مګر د هزار شهر د ودانیو جوړونه د (دیودوتوس) (ایوتدموس) (۱۸۰ کاله تر میلاده دمخه) او (ایوکراتلیسان) یا ایوکراتید (۱۷۵ کله تر میلاده دمخه) په دورو کې د باختر د هزار شهر جوړونه له سره د باختر د هزار شهر جوړونه پیل کېږي، خو دومره وخت لا نه تېرېږي چې د اکسوس د هغې خوا د شمالي برخو د (تارم) د قومونو د یرغلونو په نتیجه کې د هزار شهر زیاتې ودانې سوزول کېږي او له منځه ځي.
د ویلیام ترن د نظریې له مخې ددې ښار زیاتره اوسیدونکي د زردشتي دین پیروان وو، د یو دوتوس په وخت کې د هزار شهر اداري او د معماري تشکیلات د پارتیانو غوندې وو نایب الحکومګان چې په حقیقت کې د هخامشیانو او یونانیانو د دورې (ستراپان) و او په بېلا بېلو ستراپي نومونو یادېدل اوو روسته د (بندوبین) یا اوسني بدخشان په نامه ونومول شو.
چې د (پاراپامیزاد) (هندوکش) پورې یې تړاو درلود او د هزار شهر ستراپان ورته ویل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې ویل کېږي د یو لړ مدارکو له مخې هغه ښارونه چې د یونانیانو او د هغو ترمخه زمانو کې ودان شوي وو ممکن د هزار شهر له ودانیو او ښارونو څخه وي، هغه شمېر ښارونه چې یو شمېر یې دمقدوني سکندر په زمانه کې او بیا د هغو د ځای ناستي سلو سي پاچهانو تر واکمني وروسته ودان شوي دي لکه بکتریا ، ایوکراتید یا په سغدیا ناکي والیسانا د خجند رود په غاړو کې انتونیا په فرغانه کې ( مرو هتریا ) یا ( دهر مامیترا ) چې په سانسکریت کې ورته ترمینا ( اوسني ترمز ) وایي او آی خانم دا ټول له دې جملې څخه دي.

همدارنګه هغه شمېر ښارونه او کلي چې په تخارستانونو ( پاسني او ښکتني تخارستان ) د تایوان او فرغاني په خاوره کې او یا د بکترا ( اوسني بلخ ) په سیمه کې جوړ شوي وو.

مګر د افغان – فرانسې د لرغون پېژندونکي هییت د څېړنو له مخې په ۱۳۲۶ - ۱۳۲۷هـ ل کال کې د هیواد په شمالي سیمو کې لکه په بلخ، کندوز، ( دراسپاکا ) او تخارستانونو کې ترسره شولي ددې ودانیو په کنډوالو کې هغسې وداني ولیدل شولي چې د یوناني مهندسي د قواعدو او سبکونو له مخې آبادي شوي او د وروستنیو واکمنیو، له دې جملې نه د کوشانیانو په دوره کې په کې زیاتګي جوړېدنې رامنځته شوي وي.

په یو شمېر مدارکو کې کوچنی کلي هم د ښارونو په نامه یاد شوي دي. خو هغه څه چې ښودل شوي دي د هزار شهر زیاتره ښارونه د یو دوتوس په وخت کې تر میلاده ۱۸۰ کاله دمخه د بلخ په شمال، اوسني ازبکستان او تاجکستان کې اباد شوي دي.

چې له سغدیا ( مرو ) څخه د تاشکنت ( تاشکند ) زیاتې برخې دهزار شهر پورې تړاو درلود د هزار شهر له ښارونو څخه یو هم د بلخ د زړې کلا چاپېریال دي چې د ښار مرکز و او د ۱۹۵۳- ۱۹۵۴ م کال د ( وخش ) رود په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږه غاړه کې پرته ده او بل پراخ لرغوني ښار د خیر آباد تپه او سرخان دریا ښار و چې ۳۵۰ هکتاره پراختیا یې درلوده.
د روسي عالم بلنسکي د اثر په حواله د ( تورینو جکین ) د لیکنې له مخې د قرمزي او خاکستري رنګه کودړو د کشفیدلو پر بنا دا د یونانو، باختري ښارونو له جملې څخه دي چې دوهم او دریېم افراسیاب له مربوطاتو څخه دي او خوارزم د ښار په خوا کې د هیلنیزم د دورې او بل هغه ښار چې د کوشانیانو د استفادې وړ وګرځېد هغه ( کوی ګریګان قلعه ) ښار دی چې په منځني آسیا کې له ډېرو لویو او سوچه لرغونو ښارونو څخه شمېرل کېږي.
د ( نیسا ) ښار هم د هزار شهر د ښارونو له جملې څخه دي چې د هیلنیستیک د دورې پورې تړاو لري او په ۱۹۳۰ م کال کې د مارشیدو روسي عالم له خوا په کې کیندنې ترسره شولې.
دهزار شهر د ودانیو ترڅنګه تر میلاده دوه پیړۍ وروسته یې هم خپل رونق وساته دهزار شهر بل ډېر مشهور ښار د توپرک یا توپراک قلعه ده.
همدارنګه د هزار شهر د ښارونو په لړ کې بل ډېر مشهور ښار د یونانیانو او کوشانیانو د معیارونو په معیار برابر او ډېر مستحکم ښار ( خالچایان ) دي ( تاییي برزو ) هم د هزار شهر د ښارونو له جملې څخه دي چې د هیلنیستیک او د کوشاني د معماري د هنرونو د اغېزمنو پورې تړاو لري، دا ښار ګوتې د ژ. و. ګریکو ګوریکو روسي لرغونپوه له خوا په ۱۹۳۰ م ۱۹۳۹ م کلونو په موده کې کشف شو لکه چې څرګنده ده مقدوني سکندر او یا ښارونه آباد کړي دي چې یو یې هم ارتاکابان او یا ارتاکانا ښار په اریه مشهور یعنې لرغوني هرات دي ( دا چې تر مقدوني سکندر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخه او په هرات د هغه د يرغل په وخت کې دا ښار په دې نامه موجود ونو له دې امله هغه ته منسوب دي چې ممکن بيا رغاونه يې په کې کړې او ورته نږدې يې سکندريه جوړه کړې ده) او بل ښار اريوس چې د هرات په سرحدي برخه کې يوه سکندريه ده.

د دلبرژين يا دلبر جان غونډۍ او داسې نورې زياتې وداني د هزار شهر له ښارونو څخه شميرل کېږي.

لنډه دا چې د (دي يا کونوف) د ليکنې له مخې شهر هاي هزاره يا هزار شهر په واقعيت کې هماغه کوچني کلي او ښار ګوټي هم دي چې د حصارونو او مستحکمو کلاګانو لرونکي دي، او د مقدوني سکندر په زمانه کې يې جوړولو رواج درلود او بيا وروسته دا ښار يا پوليس او که بالاحصار په ونو د اکرو پوليس په نامه ياد شول.

په همدې ترتيب د دې ښارونو په منځ کې هغه شمېر ښارونه هم شامل دي چې پوره پراخوالي يې درلود او د مقدوني سکندر له هماغو او يا ښارونو څخه عبارت دي.

ترده وروسته د سلوسيانو په زمانه کې دا ښارونه د اداري تشکيلاتو له مخې د داخلي خپلواکي لرونکي او د مرکزي حکومتونو پورې تړلې وو، سيکي يې وهلاي شوي او مرکزي پاچا يعنې (فورس) ته يې باج ورکاوه.

نو ځکه د باختر هزار شهر نه يوازې د باختر په چاپيريال کې موقعيت درلود بلکې يو زيات شمېر ښارونه د اليشک کول او د هندوکش په لمنو کې پراته وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یونانیانو په زمانه کې د باختر تر واکمني لاندې وو. بیا وروسته د دې کورني تر انقراض راهیسې د ښارونه د خپلواکي واحدونو په تکل او په بېلا بېلو نومونو رامنځته شو.

نو اوس ځای لري چې د اطلاعاتو او فرهنګ په نوښت د باختر دا هزار شهر د هغو د ودانیو د سبک، سیکو او داسې نورو لرغونو اړوندو اثارو د معرفي کولو په ترڅ کې د کابل په ملي موزیم کې د ننداري لپاره کیښنودل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آی خانم د هزار شهر د یو پر تمین ښار په توګه

زموږ د لرغوني هېواد د (هزار شهر) له تاریخي او د مقدوني سکندر له خوا د (اویاوو) جوړ شوو ښارونو له جملې څخه یو خورا مهم ښار آی خانم دي. او د دې لپاره چې تر ممکنه حده تر پېژندنې لاندې ونیول شي اړینه ده چې په دې موضوعګانو څېړنیز بحث وشي.

۱. د آي خانم جغرافیوي موقعیت
۲. د آی خانم د نومونې وجه او د مورخانو په آثارو کې او د هغه ضبط
۳. د آي خانم بنسټ ایښودونکي
۴. د آي خانم اړوندي ودانۍ
۵. د آی خانم تاریخي اثار

**۱. د آی خانم جغرافیوی موقعیت :**

دا ښار د امو او کوکچې د مخامخ کېدو په نقطه کې چې د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد د (تاجکستان) په پولو کې پروت دي چې یوې خواته یې لوړه غونډۍ پرته چې د جنوب له خوا د کوکچې پر سین حاکمیت لري او له بلې خوا یې د ځومترو په جګوالي یوه بله غونډۍ شته چې د آمو سین په غاړه موقعیت لري، د دې غونډۍ د پاسه د آی خانم استحکامي تاسیسات لکه (حصار) بالاحصار، بارو او د برجونو په شکل دي، او د تخار پورې مربوط دي.

**۲. د آی خانم د نومونې وجه او د مورخانو په آثارو کې د هغه یادونې :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آي خانم نوم د (آی) یعنې مهتاب ( سپوږمۍ ) چې د یوناني هلیوي او د خانم له کلمو جوړ شوي دي او د ماه خانم محل یا سیمې ته په ازبکي ددغه نوم معنا افاده کوي خو بیا د مورخانو او د جغرافیه لیکونکو په اثارو کې د هغه مفاهیمو له مخې په بېلا بېلو شکلونو یې یادونې راغلي دي.

- بطلیموس یوناني مورخ د آی خانم ښار او کسایان سکندریه ( اموسین سکندریه ) په نامه یاده کړي چې یې موقعیت د آی خانم د ښار سره پوره سمون لري.

- هیرودت ( د تاریخ پلار ) له مقدوني سکندر نه را وروسته هغه تاریخي سندونه او ټوکي د شواهدو له پلوه چې لاسرسي یې پرې درلود ، تدوین او ترتیب کړي دي او د آی خانم ښار یې د ( اوکسایانا سکندریه ) په نامه یاده کړې ده، چې د بطلیموس د نظر سره ورته دي او بیا د اوکسایان یا اوکسایان معنا په لاتینه ژبه او کسوس یعنې اموسین دي.

- د آي خانم بنسټ ایښودونه:

د آي خانم د بنسټ ایښودلو د مبدا په هکله موثق معلومات په لاس کې نشته او همدارنګه دا ښار د کومې نقشې له مخې هم نه دي جوړ شوي، خو وایي چې پخوا په دې سیمه کې یوې ښځې د آی خانم په نوم حکومت کړي دي.

- ځینې بیا وایي: مقدوني سکندر ( ۳۲۷ - ۳۲۹ ) تر میلاد دمخه ددې ښار موسس بلل شوي دي چې دلته یې دوه کاله استوګنه کړې ده.

- همدا راز لومړي سلوکوس چې ۳۰۵ تر میلاده دمخه یې په سوریه او بین النهرین کې یوناني پوځونه ځای پر ځای کړل خو بیا هم ددې ښار موسس سکندر ښودل شوي دي.

- په یو بل روایت ددې ښار په ودانولو کې سلوکوس او دهغه زوی ( انیتوکوس ) سیاست چلاوه هم برخه اخیستلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د انګلستان د پولیسو د نامتو او نابغه رومان لیکونکي (تاون) د تاریخي سندونو له مخې څرګندېږي چې د سکندر نه وروسته د اغتشاش په کلونو کې (۳۰۵ ق. م) چې دا ښار د سلوسیانو تر مستقیم واک لاندې و، سکندر او سلوکوس په شخصي ډول دد ې ښار په ودانولو کې برخه اخیستي وه او دا ښار (کیني اس) له خوا ودان شوی دی (کابل مجله ۱۳۵۵ کال، ګڼه ۱۱-۱۲ مخونه).

- د څېړنپوه نظر محمد عزیزي، د لیکنې له مخې آی خانم د اوکسیان یا اوکسوس د سکندریې په نامه د احتمال له مخې د سلوکوس نیکاتورر یا انتیوخوس اول له خوا بنسټ ایښودل شوی دی.

**۴. ساختماني سبک او اړوندې ودانۍ :**

د آی خانم ښار چې د استوګنو یونانیانو د ښار ګوټې په توګه پېژندل شوی دی نو د هغه په جوړولو کې د یوناني مهندسي او معماري له سبکه کار اخېستل شوی دی.

ښاغلي نظر محمد عزیزي د خپل (معماري و هنر های ظریفه ګندارا و باختر در عصر کوشانی ها) په یوه ساختماني جوړښت د مهندسي له پلوه داسې ښودلی دی:

- د ښار مرکزي ماڼۍ
- د مرکزي ماڼۍ خزانه
- کتابتون یعنې د یوناني اسنادو او اسطوروي کتابونو د راټولو ځای
- ورزش ګاه جمنازیون
- معبد یا تیمپل
- تیاتر یا د فرهنګي نمایشونو محل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابل مجلې د پورتني ګڼې د لیکنې له مخې له دې ښار نه یو لوړ او سور ور دیوال را چاپیر شوی و چې جګوالي یې ۱۰ متره او سپور یې (۱۱) متره اټکل شوي و.
دا ښار په عمومي ډول له دو برخو څخه تشکیل شوي دي.
الف: اصلي ښار چې مستطیل شکل لري د آمو سین سره د (۸۰) مترو په امتداد د ښار له بالاحصار څخه واټن لري موازي پروت وي او د یوې مثلث شکلي غونډۍ پر سر چې د ښار مهمه نقطه ګڼل کېږي ودان شوي دي.
د ښار په منځني برخه کې سرکاري دفترونه او لوي عمارتونه دي چې د ښار حکمرانان او یوناني خبریالان به په کې اوسېدل او له دې ځایه یې ښار اداره کاوه.
ب: د ښار دوهمه برخه د شخصي کورونو، د ښار عمومي حمام او له نورو ودانیو څخه عبارت و ددې ښار د ودانیو په جوړولو کې له پخو خښتو، آهکي پستو ډبرو، ګجو، عاجو، او نورو ساختماني توکو څخه استفاده شوي وه.
د آی خانم د ښار د ښارسرکاري ماڼۍ، بلاکونه او شخصي کورونه دهغې زمانې دمعمارانو او ختګرانو یو لوي شهکار او ابتکار دا وي چې په (پرسیپولیس) کې دا داریوش د ماڼۍ (د جمشید د تخت) سره پرتله کېدای شي او هم یې په جوړولو او تنظیمولو کې د قایمي زاویې په اساس مراعات په نظر کې نیول شوي دي چې بیا هم د انسان د فکر او ذهن د بین النهرین او هخامنشیانو د لرغونو ماڼیو د جوړلو سبک ته بیا یې (کابل مجله ۴ ګڼه، ۱۳ مخه).
د آي خانم کلا چې مستطیل شکل لري یو نیم کیلومتر په یو کیلومتر کې ده، هغه کیندنې چې په ۱۹۲۵م د فرانسوي لرغون پېژندونکي هییت له خوا د آي خانم په کنډوالو کې سرته ورسیدلې دا سې نتیجه ترې واخېستل شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د آی خانم کنډوالو یو ښار، بالاحصار او ښکتنۍ برخه درلودله، دا ځای پخوا د سیلو سید د امپراتورۍ یو ولایت و او له میلاده ترمخه په دریمه پېړۍ کې یو خپلواک دولت و.
د ښار په منځ کې یوه مرکزي جاده وه چې له شمال څخه د جنوبي دروازې په استقامت ۱۷۰۰ متره اوږدوالي لري، دلته دغه کوڅه هم تر سترګو کېږي.
د یوې بلې لیکنې په حواله د آی خانم ښار له دریو برخو تشکیل شوی و.
- بالاحصار
- د حصار ښکتنۍ برخه
- ارګ
د آي خانم د ښار په جنوبي او لویدیځه برخه کې د خلکو د هستوګنې ځایونه، ودانۍ ورزشګاوي او بازارونو دي چې له دې لوبغالو څخه د پهلواني د رب النوع (هرمس) مجسمه ترلاسه شوې ده چې هغه د یوناني (تیر سباکوس) اوداسترابون د کشف شوي کتیبې له مخې هرمس او هر کول ته وقف کړې و.
د ښاغلي نظر محمد عزیزي په پورته یاد شوي اثر کې د آی خانم ښار چې د مهندسۍ له مخې په کوم ترتیب طرح شوی و هغه برخه یې په دې ډول څېړل کېدای شي.
د آي خانم ښار په شپږو پړاوونو کې په باختري ځمکه کې ودان شوي دي او دا هغه قاعدې دي چې د یوناني یوربانیک د ودانیو مجتمع په مهندسۍ کې له دې منځه په پیرګامون او د اتن په اکرو پولیس (بالاحصار) لیدل شوي دي.
**د ښار د مرکزي ماڼۍ مهندسي :**
دا ماڼۍ د ښار په مرکز او یا منځنۍ برخه کې د یوناني نقشو د پلان له مخې جوړه شوې ده چې د څلور ضلعې مجموعې لرونکې او هره ضلعه یې ۳۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

متر اوږدوالي لري، د پراخ غولي لرونکي او په (۱۰۸+۱۳۸) مترو کې دي په چاپېریال کې یې ۱۱۸ عمودي او رواقونه لري.
مدخل یا پراخه تالار یې د ۱۷/۳۲+۵ مترو په شاوخوا کې دي، د معماري او مهندسي له مخې د آی خانم عمارت درې برجونه لري، لومړي برج یې مربع دي هر ضلعه یې (۵۲,۵) مربع متر ده او په څلورو بازوګانو کې یې یو سر تا سري دهلیز او په دننه کې یې دو متقاطع دهلیزونه شته چې په قایمه زاویې رامنځته شوي وو.
د معمول له مخې دا خونې د هر کلي او یا د اداري دفترونو لپاره کاریدلي.
یو بل برج په شمال لویدیځه برخه کې موجود دي او ممکن د استوګنې لپاره و چې حمام د اوبو د تشخصیولو یا تودولو، د کالیو د اغوستلو لپاره و.
د فرانسوي څېړونکو له نظره دا ماڼۍ دوه مهندسي طریقې لري چې یوه یې د یوناني مهندسي په طریقه او بله یې د باختري حوزې د سیمه ایزې او بومي شیوي له مخې وي چې د یوناني د مهندسي په شیوه کې له پوره دقت او ظرافت څخه کار اخېستل شوي دي، په تېره بیا د زیردلو پیدستلونو، او بلوستراتونو د ډبرو په توږلو او صیقل کولو کې چې د ضروري تزئینکاري، تجهیزولو او د سنبالښت تر څنګه په کې پوره زیار ایستل شوی دی.

**- د مرکزي ماڼۍ د خزانې مهندسي :**

د مرکزي ماڼۍ دخزانې د مهندسي دا برخه چې په ۱۹۷۷ کې کشف شوه په اصل کې یونانیانو د ګران بیو مالونو او شیونو د خوندي ساتلو لپاره ځانګړې پاملرنه درلودله، د مهندسي او پلان یو له بله او کوچني حجرې او کوټې په نظر کې درلودلې لکه د مرکزي ماڼي په خوا کې یې په یوه داسې محوطه کې چې لومړي غولي او یا حویلي درلوده د خزانې نقشه طراحي کوله، دحویلي په محوطه یا د غولې په یوه څنډه کې غرفې ایښودل شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خزانې هرې غرفې يا حجرې دروازه درلوده، خو کړکۍ په کې نه کېښودل کېدلې په همدې ترتيب په آی خانم کې د ودانيو نقشه په همدې طرحه وه.
د کيندنو په مهال هلته د خزانې او ه غرفې له خاورو را وايستل شوې چې د غرفو نورې برخې له منځه تللې وې، دا غرفې د حويلۍ په منځ کې جوړې شوې وې او محوطه يې پراخه وه، د هغې په شمال ختيځه برخه کې يو لوی هال موجود و چې د وريکي ستون پايې يې درلودلې او محوطې يې د ماڼيو ديوالونه چې خزانه يې له لوی هال څخه د يو اوږد دهليز دارند ببلاوه په پام کې نيول شوي و د دهليز په منځ کې يوه کوچنۍ کوټه وه چې ورسره جوخت د دهليز ته د راننوتلو ددې دروازې، هغه د هال او خزانې سره نښلاوه، ددې خزانې تر څنګه کېڼې خوا يعنې شمال لويديځ اړخ ته يو بل دهليز موجود و په يوه لار د خزانې خواته رسېدلو او بله لار يې لوی هال ته چې دواړه يو ځای د مرکزي ماڼۍ سره نښتلې د خزانې غرفو په منځ کې د خزانې د لاجوردو د ځينو ذخيرو او کوزړګيو سربېره چې په بهرنۍ مخ يې د شي اوخزانه دار نوم ليکلي شوي و تر سترګو کېده.
د يوې کوزړګۍ پر مخ دعودو يا (لبان) نوم چې يو خوشبويه لرګي دي او له عربستان او د احتمال له مخې له هند څخه وارديده هم ليدل کېده، د غرفو لرونکو په کوزړګيو کې داوبو تحويلي هم په دې ليک دودونو چې د هغوی په بهرنۍ برخه په يوناني ليکلي شوي، موجود وو.
په دې سربېره له کوزړګيو او د کوټو له صحن څخه په ډېرو بر علاوه لاجورد، فيروزه، سنګ نمک يا کوارتز، غرنی لعل، پيازي لعل نيلم، عقيق، کورناګينا، کلسيت او داسې نور ترلاسه شول، هغه د هندوکش، نورستان، بدخشان او ممکن له هند او نيشاپور څخه ترلاسه کېدل.
**کتابتون:** د آی خانم د ښار د ودانيو په لړ کې يوه هم د کتابتون ودانۍ وه، چې مهندسي يې د يونان د دوريک له سبکه په يو ډول دي چې په عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول يې ديوالونه پنډ او مربع ډوله و ، دووخواوو ته يې د ننوتلو لارې د مرکزي ماڼۍ غولي ته درلودلې او په عمومي توګه په دې کوټه کې هغه آثار او ليکنې چې د پاپيروس کاغذ پر مخ ښکل شوي وي او په ګل کې يې عکس کوټلي شوي و د يونان د فيلسوف ارسطو او د نورو د ويناوو پورې يې تړاو درلود ، په ګومان سره دا کتابتون د ښار د واکمني پورې مربوط و ، ديوالونه يې په عمومي ډول پنډ او په هره ودانۍ کې يې ۹۰ درجې کونجونه په نظر کې نيول شوي وو هغه د معمول له مخې يوناني مهندسي وه او د خزانې د غرفو غوندې خوندي او رابند وو.

- **لوبغالي يا د يوناني بدني روزنې ورزشګاه او يا روزنتون :**

ددې لوبغالي د موندلې لپاره په ۱۹۷۲ م کال څېړنې او کيندنې پيل شولې چې تر ۱۹۷۷ م کال پورې يې دوام پيدا کړ ، دهغو څېړنو له مخې چې په دې لوبغالي کې ترسره شوي دهغې په دوهمه مهندسي کې د ودانولو درې پړاوونه راښکاره شول.

دا لوبغالي ( جمنازيوم ) په حقيقت کې د يونان په نقشه او طرحي ودان شوي و دهغسې پرخې حويلي لرونکي و چې په څلورو اړخونو کې يې ستني ليدل کيدلې ، دا ستنې يا فيل پايي په عمومي ډول د ( دوريک ) په سبک وې او د جمنازيوم د پراخې د هر بازو اندازه (۹۰ ) متره وه ، ديوالونه يې له اومې خښتې او د احتمال له مخې هغه مهال چې ابادو کاګل او پلاستر شوی وو چې اوس يې نښې ښکاري ددې ورزشګاه د ديوالونو زياتره برخې سوري وي او ممکن د ورزشي کاليو د ايښودلو لپاره به وو.

**د آی خانم يوناني معبد :**

دا معبد د ساختماني قواعدو او مهندسي په اصولو د پاچهي له ودانيو جلاوو د عامو خلکو او اوسيدونکو له محضر لېرې و ، کله کله هم د غونډيو او د ودانيو پر سر څه لېرې جوړېده لکه چې د څلورمې پيړۍ د آتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

( پارتینون ) او په لرغوني یونان کې د زوس له معبده یادونه کېدای شي. معبد په آی خانم کې د ښار د اصلي او لویې جادې په څنډه کې پروت و. د هرې څنډې اوږدوالی یې ۲۰ متره رانیوه د معبد په دننه کې یو تالار او د عبادت حجرې جوړې شوې وې چې دګندهارا د ویهارې د حجرو غوندې وې.

د فرانسوي پوهانو له نظره دا معبد د پارت معبدونو او هغه معبدونو ته ورته والی درلود ، دې معبد یو څه د آسیایي معبدونو ځانګړنې درلودلې، دمعبد په دننه کې یوه مجسمه وه چې د انسان د لوېوالي غوندې ښکارېدله، د ساکانو او پوچیانو د ببلا ببلو پړاوونو دحملو له امله د رب النوع مجسمه بیخې له منځه تللې وه او یوازې یوه پښه او څپلۍ یې پاتې وه، د تزئیناتو او علامو له مخې د زوس معبد بلل کېدای شو.

د معمول له مخې د آي خانم دا مفي تیاتر زینې او د ننې ودانې په دوو برخو کې جوړې شوې وې، د زینو برخه چې مخ په کمیدو ده په منځ کې د یو دایروي دهلیز په واسطه بېلېږي، په مقابل کې د آی خانم امفي تیاتر یو بل ډول جوړښت وموند چې د ښار د حاکم او دهغه د کورنۍ د لیدلو ځای و او په پخوا وختونو کې ددې ساختمان دهلیزونه په موازي شکل وو او په منځني برخه کې یې د دولت د اراکینو او حاکم د ناستې لپاره یوه کوټه په پام کې نیول شوې وه د وروستنیو څېړنو له مخې دا تیاتر د آمو د هغې خوا د یرغلګرانو له خوا ویجاړ کړې شو چې بیا یې رغاونه شوې وه او زیاتره جنګي مړي په کې ښخ شوي وو.

که د کابل کلنۍ د ۱۳۴۵ کال د ۲۵۲ - ۲۵۲ مخونو په حواله په نتیجوي ډول د آی خانم د ښار د ساختماني سبک او نورو ځانګړنو په باب وویل شي نو ددې ښار د معماري سبک د نړدې ختیځ په حوزه او مرکزي اسیا کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

معمول و خو بنسټ يې د جمشيد د تخت سره تو پير درلود ، لکه چې له يوناني سبک او طرز څخه په کې استفاده شوي وه.
د کورنتين د مجللو ستنو سرونه يې د قينتول په پاڼو ښکلي کړي شوي وو او د ستنو بيخونه ( زيردلي ) يې په دوو رديفو کې تو ږل شوي وي.
دا پوره او نيمکله ستني د کانت په ګلانو او پاڼو ښکلي کړي شوي وي، د ( انتس ) د دو ستنو ترمنځه له معماري نه پرته نوري برخې زياتره په کلاسيک سبک جوړې شوي دي په دغو آثارو کې لوېې آهکي ډبرې د دوه سرو ميخونو او د برنجي اتصالي لولو په واسطه نږدې او نښلول شوي دي په يوناني سبک په نيسه پارت کې د ډبرو د کار چې د دغو کنډوالو هم عصره دي هم بې ساري ګڼل کېږي.

**د آی خانم امفي تياتر :**

د آي خانم امفي تياتر د يونان د ښاري ودانيو په مجتمع کې د شاملو ودانيو غوندې جوړ شوي و ، عموماً دا تياتر نيم قوسه و چې ډبريني، د پخو خښتو زينې يې درلودلې د زينو د هر کتار په منځ کې له ښکته نه مخ په پورته د منځني او مايل شکل درلود د تيربدنې او ننوتنې يو دهليز يې درلود ، د زينې په ورستنيو برخو کې د دې تياتر غولې دايري ته ورته و چې له مخامخې وداني څخه يې ورته لوبغاړي راننوتل.
دآي خانم د تياتر جوړښت د مهندسي له مخې ۵۰+۵۰ سانتي مترو کې پخې خښتې وي او د ښار د حاکم او د ښار د مشرتابه لپاره په کې يو ځانګړې ځاى جوړ شوى و د آی خانم امفي تياتر په واقعيت کې ۳۶۰ درجې يوه دايره وه د هغې په نقشه کې د قوس پراخوالي ۲۱۲ درجې ښودلې، د تياتر په منځ کې د ننوتلو پر هغه سربېره چې ښار يې د اکروپوليس او تياتر سره نښلاوه يوه سور وره جاده را ښکاره شوه ، د آی خانم د ښکتنې برخې او د ودانيو په پراختيا کې د کوکچې له اوبو څخه استفاده کېدله چې دا اوبه د آی خانم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوناني تیاتر له مسیر څخه تیریدلي، دې تیاتر تقریباً د شپږو زرو تنو لپاره ګنجایش درلود چې د ننداړو د ښودلو په وخت ددې ښار او سیدونکي هلته ورتلل البته په هغه وخت کې چې په باختر کې د استوګنو یونانیانو واکمني پای ته ورسېدله د آی خانم دا تیاتر په خپل لومړني حالت پاتې نه شو دا چې یونانیانو د امفي تیاتر په سبک رواج کړ، حتی هندي تیاترونه هم ددې سبک په تقلید جوړ شوي وو او کله چې یونانیان هلته ورسېدل ددې تیاتر جوړېدل بشپړ شوي وو.

د سنګ کاري دغه صنعت د کوشاني عصر په معماري کې چې له هغو څخه وروسته رواج لري هم نه دې لیدل شوي.

- د ښار ښکتنې برخه په مرکز کې پرته ده چې یو مهم سیاسي او ادارې مرکز د حکمران د ماڼۍ او یا کوم لوی بازار به و.

یو لوی پراخ مستطیل ښار ۱۰۰ په ۱۴۰ مترو کې، چاپیر ترې د ننوتلو دروازې او کورنتین ستني راتاوي شوي وي، داسې ښکاري چې دلته یوه لویه دروازه وه چې په دواړو خواوو کې یې کوچني کوچني خونې وي خلک ورننوتل او هغه د ګارد دعسکرو لپاره وي، ددغې دروازې د ننې دیوال د کورنتین دوي ستني درلودلې. دغه دروازه بیا په منځني برخه کې یو لوی دهلیز ۱۸-۱۷ مترو کې ببرته کېدو. په دهلیز کې د کورنتین ۱۸ ستني په دریو کتارونو کې چې هر یو یې ۱۲ ستني وي ویشل شوي وي ددغه دهلیز تر شا یوه لویه خونه وه او ددې خوني شاته یو بله مستطیله خونه موجوده وه ددې دیوالونو د لومړي حویلي دجنوبي دروازې غونډې د ډبرو او په نیمکله ستنو باندې و درول شوي وي چې سرونه یې په ګلونو او پاڼو ښکلي شوي وو، چې شنه، سره، تور او ژیړ رنګونه یې درلودل د ښکتنې ښار په بالاحصار کې پوره استحکامې عظمت شتون درلود، د بالاحصار مستطیل برجونه له اوو خښتو څخه جوړ شوي وو او پراخوالي یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلو مترو زيات و. كومه موضوع چې د آی خانم د ښار د خورا مهمه کتيبو څخه ده، او حبيبي صاحب ترې د افغانستان په لنډ تاريخ کې يادونه کړې ده ددې ښار د فکر او فلسفي ډېر ښه مظهر کېدلای شي، هغه د يو تن يوناني ( کي ته اس ) د قبر د مستطيل صندوق د کتيبې ليکنه ده چې ( کلارک ) د ( اپي فراديوس ) زوی په آی خانم کې دده په آرامګاه نقر او نصب کړې او دهغې متن او مفهوم په دې ډول دی. ( په ماشوم توب کې ښه تربيه واخله، په ځواني کې خپلې غوښتنې سرته ورسوه، په پوخ عمر کې د رستکار اوسه، په بوډاتوب کې ښه ناصح اوسه او د ژوند په وروستنيو ورځو کې پوه شه چې پرته له افسوس څخه مړ شې.
( انيس ورځپاڼه، له ۸۷ ګڼې، ۱۳۹۲/۵/۱ څخه تر ۹۱ ګڼې پورې – رازقي نړيوال ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سنې او د سنو يو پر بل اړونه

**سنې :**
د تاريخي مدارکو په اعتبار په نړۍ کې ګڼ شمېر تقويمونه موجود وو، چې تر ټولو مخکني لمريز تقويم تر ميلاده ۲۷۰۰ کاله پخوا تقويم دي چې تر اوسه پورې د کارولو وړ دي، خو هغه تقويمونه چې تر ننه پورې او په راتلونکي کې ور څخه کار اخېستل کېږي ميلادي او د هجري سني تقويمونه دي.

**۱.د ميلادي تقويم :** مبداد حضرت عيسي روح الله د زيږيدنې له اټکلي نېټې څخه را پېل شوي ده يا په بل عبارت د تاريخ پېل يې د اشکايي پنځم پاچا چې په پنځلسم اشک يې هم شهرت درلود او د روم د امپراتور اکتساورګوست په زمانه کې د حضرت عيسي (ع) د زوکړې له نېټې څخه اخېستل شوی دی، چې ۱۲ مياشتې در بر نيسي.

د فبرورۍ مياشت يې ۲۸ يا ۲۹ ورځې، اپريل، جون، سپتامبر او نومبر يې ۳۰ ورځې، جنوري،مارچ، مې، جولای، اګست، اکتوبر او دسامبر يې ۳۱ ورځې دي، چې ټولې (۳۶۵) ورځې کېږي او په هرو څلورو کلونو کې د فبرورۍ مياشت يې ۲۹ ورځې ده چې هغه کال ته کبيسه وايي او د ورځو شمېر يې ۳۶۶ ته رسېږي.

**۲.دهجري لمريز کال :**
دهجري لمريز کال لومړۍ ورځ د وري د مياشتې لومړۍ نېټه ده چې د ۶۲۲ ميلادي کال د جولای له ۱۷ نېټې او د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم دنبوت په ديارلسم کال د مکې د کفارو د ظلم او زياتې له امله د انحضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلی الله علیه وسلم او د هغه د مسلمانو ملگرو د مکې معظمې څخه مدینې منورې ته د هجرت له نېټې نه پیل شوه. (د اسلام تاریخ، څېړنوال، زین الله منلی، ۲۴مخ).

هجري لمریز کال ټولټال ۳۶۵ ورځې، ۵ ساعته، ۴۸ دقیقې او ۱۵ ثانیې دي دا کال د قمري کال سره ۱۱ یا ۱۲ ورځې سره توپیر لري او همدا وجه ده چې دا کال د قمري کال څخه ۱۱ ورځې وروسته راځي او په پایله کې په هرو ۳۴ کلونو کې د هجري لمریز کال څخه پرمختګ کوي.

**۳.هجري قمري کال :**

د مولانا منلی د پورتنې اثر د لیکنې له مخې قمري سنه حضرت عمر رضی الله عنه ۱۷ کاله وروسته جوړه کړه، چې دا د اداري چارو او معاشونو د کارولو مهالونه یې په ډاګه کول.

هر هجري لمریز کال او هجري قمري کال د میلادي کال په شان ۱۲ میاشتې دي او په هرو څلورو کلونو کې چې د کب میاشت یې کله ۲۹ او کله هم ۳۰ وي ۳۶۶ ورځې کېږي او دې کال ته لکه د میلادي او لمریز کال کبیسه کال وایي.

د سنو یو پر بل اړونه:

لکه چې لیدل کېږي ډېر ځله د یو لړ تاریخي او لرغون پېژندنې، شرح حالونه او د داسې نورو موضعګانو د لیکلو او څېړلو په بهیر کې یوه سنه او یا دوې سنې ثبت وي او دې ته اړتیا پیدا کېږي چې هغه سنه په مورد نظر سنه واړول شي.

نو په کار دي چې د دې سنو د بدلولو را بدلولو په طریقو یو څه رڼا واچول شي او هغه په لاندې ډول ده:

۱ـ که وغواړو چې هجري لمریز کال په هجري قمري کال واړوو، نو ښایي چې په لومړي سر کې هجري لمریز کال چې د هرې زمانې پورې تړاو ولري په

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۳ عدد چې ددې دواړو سنو ترمنځ توپیر دي، وویشل شي بیا د ویش حاصل د هجري لمریز کال سره جمع شي نو مطلوبه سنه لاس ته راځي د بېلګې په توګه:

۱۴۲۴= ۱۳۸۳ + ۴۱= ۳۳ / ۱۳۸۳

۲. که چېرته وغواړو چې هجري قمري سنه په هجري لمریزه واړوو، نو په لومړي سر کې بیا هم دا سنه په ۳۳ عدد ویشو او د ویش حاصل یې چې بیا هم دې دواړو سنو توپیر دي (هجري قمري کال د هجري لمریز کال څخه ۳۳ کاله زیات دي) له هجري قمري سنې څخه منفي کوو، مطلوبه سنه لاسته راځي د بېلګې په توګه:

۱۴۲۲ / ۳۳ = ۴۳

۱۴۲۲ / ۴۳ =۱۳۸۴

۳. که چېرته وغواړو چې میلادي سنه په هجري لمریزه سنه واړوو، نو باید چې د ۶۲۲ عدد (چې د هجري لمریز او قمري کال د پیل څخه پخواني میلادي سنه ده) له هغې څخه منفي کړو تر څو مطلوبه سنه لاسته راشي د بېلګې په توګه:

۲۰۰۵ /۶۲۲=۱۳۸۳

۴. که چېرته وغواړو چې میلادي سنه په هجري قمري سنه واړوو نو لومړي بنا یې چې دا سنه په هجري لمریز سنه واړوو او بیا لمریزه په قمري سنه واړوو تر څو مطلوبه میلادي سنه په لاس راشي.

خو لکه چې لیدل کېږي ددې سنو په اړولو را اړولو کې یو څه نیمګړتیاوې شته، نو دلته له یوې بلې قاعدې څخه په دې ډول کار اخېستل شئ او په پای کې د د دواړو قاعدو مطلوبې سره مقایسه کوو:

دا قاعده په دې ډول ده:

۱. پر قمري سنې د لمریزې سنې اړول:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو لومړي لمريز کال په ۱۱ عدد باندې ضربېږي او بيا د ضرب حاصل يې پر (۳۵۴) عدد (د سپوږمۍ د کال مجموعې ورځې) وويشئ، بيا د ويش حاصل د لمريز کال سره جمع کړئ قمري هجري سنه لاس ته راځي د بېلګې په توګه:

۱۳۸۳ x۱۱=۱۵۲۱۳

۱۵۲۱۳ / ۳۵۴=۴۲

۴۲+۱۳۸۳=۱۴۲۵

**۲.** پر لمريزی هجري سنې د قمري هجري سنې اړول:

لومړۍ د سپوږميز کال په (۱۱) کې ضربوو، وروسته دضرب حاصل په **۳۶۵** (د لمريز کال ورځې) ويشوو، د ويش حاصل له سپوږميز کال څخه منفي کوو، د بېلګې په ډول:

۱۴۲۵ *۱۱=۱۵۶۷۵

۱۵۶۷۵ / ۳۶۳ =۴۲

۱۴۲۵-۴۲=۱۳۸۳

**۳.** که چېرته وغواړو چې د لمريز کال څخه ميلادي سنه تر لاسه کړو نو د هجري لمريز کال سره (۶۲۱) عدد (چې د لمريز سره د ورځو توپير دی) جمع کوو، حاصل يې ميلادي سنه راښيي د بېلګې په توګه:

۱۳۸۳+۶۲۱=۲۰۰۴

**۴.** که چېرته وغواړو چې د ميلادي کال له مخې هجري لمريزه سنه معلومه کړو نو بيا هم ددغو دواړو کلونو توپير (۶۲۱) عدد له ميلادي کال څخه منفي کوو، لاس ته راغلي کال هجري لمريز کال دي د بېلګې په توګه:

۲۰۰۴-۶۲۱=۱۳۸۳

**۵.** او که مو موخه د سپوږميز او زيږديز کال يو پر بل اړول وي نو لومړی بايد له پورتنيو اولې او دويمې قاعدې نه په ګټه اخېستنې سره له

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمیز کال څخه لمریز کال ترلاسه کوو او بیا له دریېمې او څلورمې قاعدې نه په ګټه اخېستنې سره د پام وړ یا مطلوبې سنې ترلاسه کوو.
لکه چې لیدل کېږي دا وروستنۍ قاعدې دقیقې او احتمالات په کې دومره زیات نه لیدل کېږي.
(بی سیم مجله، رازقی نړیوال).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په افغانستان کې بهرني سيلانيان

په افغانستان کې د اسلام د ظهور شا وخوا زمانې په پېښو باندې هغه غوره او باوري سرچينې چې رڼا اچوي هغه لرغونې ډېر ليکونه او اسناد دي، په بدايه مدارک له هغو سفر ليکونو څخه عبارت دی چې په هغه زمانه کې چينايي زايرينو د افغانستان د خاورې د ليدنې کتنې په وخت کې يې ليکلي او تر موږ را رسېدلي دي دا چينايي سيلانيان زموږ هېواد ته د دوو مقصدونو د سرته رسولو لپاره راتلل:

- يو يې د سياسي مقصدونو او خپلو سفارتونو له خوا د ورکړ شوو وظيفو د اجرا کولو په خاطر او د هغه مکلفيت په غرض چې د چين د دربارونو څخه په اسيايي ملکونو، هند، پاريس او نورو ته لېږل کېدل.
- او بله ډله د چين د روحاني طبقې هغه بودايي پارسايان او راهبان وو چې د لويو معبدونو د کتنې او د ديني معلوماتو د ترلاسه کولو په خاطر د افغانستان بودايي مرکزونو ته تلل او له دې لارې به هند ته ورتلل.

د دې چيني سيلانيانو دقيق معلومات د تاريخ د ډېرې غني ذخيرې په توګه موږ ته را پاتې دي او که څېرته د دوئ دا ګران بيه ليکنې نه وای په يقين سره به نن موږ د هغه وخت په اړوند د معلوماتو له يوې مهمې برخې څخه بې برخې وای او دا ځکه چې د هغې زمانې د پېښو په روښانه کولو کې د دې چينايي سرچينو څخه ډېره زياته ګټه کېدای شي. چې په ډېره کوټلې توګه په دې ډول معرفي کېدای شي.

**۱.شی فاهيان (۳۹۹م - ۴۱۴م):**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دچین د بودايي مذهب نامتو راهب (ملنګ) چې «شی فاهیان» نومېده د نادرو او کمیابو کتابونو د را غونډولو په مقصد په ۳۹۹ م کې د چین له چانګهاني څخه را رهي شو او د کاشغر له لیاررې د لمر ختیځ افغانستان په سیمه کې د ښکتنې اباسین غاړو ته ورسېد ده د ګندا هارا په ولایت کې یو شمېر سیمې ولیدل او په دې نومونو یې نومولې:

- سوات: د ګنداهارا د (سوهوتو=Su- Huto)
- تکسلا: (چو- چا- شی- لو = Chu- Cha- she – lo)
- د جلال اباد هډه = (هیلو=Hilo)
- پېښور: (فو –لو –شا =Fo – lu- sha)
- ننګرهار: (ناکی =Na- ki)
- روه: (لویي =lo- i)
- بلو: (پونه =Po- no)
- نوموړي د ۱۴ کلونو مسافرت وروسته (په ۴۱۴ م کې) بېرته نانکن (چانګان) ته ستون شو خپله سفرنامه یې ولیکله او په ۸۴ کلنۍ مړ شو ده په پېښور او هډه کې بودايي اثار لیدلي دده په وینا په دې ولایتونو کې پاچهان موجود وو، وګړي یې مخلص بودایان وو.

**۲. سونګ ین (۵۲۰م):**

دچین د «تون هوانګ» اوسیدونکی داچینایي زایر «سونګ ین» نومېده او د «شونګلی» دمعبد راهب «هوی سنګ Hoi- song» چې د شمالي وای د کورنۍ (تاتاری طایفه) د «تای هو» دملکي له خوا مامور شو چې د بودايي د سپېڅلو کتابونو د ترلاسه کولو په خاطر لویدیځو هېوادونو ته مسافرت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده مسافرت له (۵۱۷م تر ۵۱۸ م) دوام وکړ او په نتیجه کې یې د ۱۷۰ م ټوک کتابونه چین ته یوووړل، نوموړی له ختن څخه افغانستان ته د هغو ختیځو برخو په لارو سفر وکړ چې سل کاله د مخه پرې فاهیان تللی ؤ.

په دې وخت کې هفتلي پاچاهانو (هیاطله) په دې خاوره کې حکومت درلود ددې خلکو لباس لمځی ولیک او کتابت یې نه درلود، ده ددې خلکو پر فرهنګ یې هم څېړنه وکړه.

نوموړي د خپل سفر په لړ کې پېښور او نګاراهارا هم لیدلی او له بودایي معبدونو څخه یې لیدنه کړې وه او له سیند څخه په (۵۱۸م) کې چین ته ستون شو او خپل مشاهدات یې ولیکل.

**۳. هیوان تسانګ Hiuon – Tsang ۶۳۰ م – ۶۴۵م :**

دا زایر په یو لړ نورو نومونو لکه هیوان تسانګ، هیوان تځانګ، خوان زانګ، شون تونګ، هیوان ځانګ، هیوتسن او داسې نورو هم یاد شوی وي، په ۲۰۳ م کال د چین د هونان د ایالت په «چن لیو» کې زیږیدلي دي په ۲۲ کلنۍ د بودایي مذهب د دستورونو په هڅو په ۲۲۹ م کې لویدیځو هېوادونو ته سفر وکړ او په ۲۴۵م د بودایي د ځینو سپېڅلو د ستر مذهب ۱۲۴ کتابونو سره چې په ۲۲ اسانو وړل کېدل چېن ته ستون شو.

نوموړی د خپل ۱۲ کلن سفر مشاهدات په یوه کتاب (سی – یو – کی یعنې د لویدیځ عالم یادداشتونه) ولیکل ده په دې کتاب کې د افغانستان د جغرافیایي، دیني او سیاسي موضوعګانو په باب زښته زیات ګټور معلومات وړاندې کړي دي.

د هغه جدول له مخې چې ګتنګهم ترتیب کړي په افغانستان کې یې د سفر تاریخونه داسې ښودل شوي دي:

- خلم - Ho- lim: ۲۰ مارچ، ۲۳۰م //۸ هجري
- بلخ -Po- ho: ۲۰ اپریل، ۲۳۰م// ۹ هجري

(c) ketabton.com: The Digital Library

- باميان - Fan – yan: ۳۰ اپریل، ۲۳۰م// ۹هجري
- کاپیسا - Kapisa: ۱۰ مې، ۲۳۰ م// ۹ هجري
- لغمان - Lam – po: ۱۵ اګست، ۲۳۰ م// ۹ هجري
- ننګره هارا - Na- ga-ra- Hara: ۲۰ اګست، ۲۳۰ م//۹هجري
(ناکي–تولو)
- ګندهاره (کین تولو): ۷ نومبر، ۲۳۰ م// ۹هجري
- اودخند (ویهخند) ۱ دسمبر، ۲۳۰ م// ۹ هجري
- اودیانه (د مردان شمال): ۱ جنوري، ۲۳۰ م// ۹ هجري
- سواستو (سوات درياب): ۱ مارچ، ۲۳۰ م// ۹ هجري
- تکسیلا: ۱ اپریل، ۲۳۱م// ۹ هجري

داروانباد ښنوا په وینا هیوان تسانګ د ۲۳۰ م یا ۲۳۲م، د اپریل په ۲۰ له کاپیسا څخه کتنه پای ته ورسوله، بیا د همدې کال (د زمری په ۲۴ = اګست ۱۵) لغمان تللی او له هغه ځایه (د زمری په ۲۹ د اګست په ۲۰) ننګرهار ته رسیدلی او د لړم په لسمه د نوامبر په اوله ګنداهارا ته رسیدلی ؤ.

هیوان تسانګ د خپل سفر په لړ کې کشمیر او هند ته ځي او د ۱۴ کلونو وروسته د خپلو راستنیدلو په لاره کې د چالندر له لیارې تکسیلا ته را رسېږي او دلته یې هم د مسافرت ځایونه او نېټې په دې ډول ښودل شوي دي.

- تکسیلا (تاکسیلا، تاکزیلا) ۱۵ دسامبر، ۲۴۳م ۲۳ هجري.
- له اندوسه نه خپل تېریدل او په ویهند (اوده) کې توقف: ۲۵ دسامبر، ۲۴۳م ۲۳هجري
- د لمپاکا پاچا ته رسېدل په یوه میاشت کې ۱۵ مارچ، ۲۴۴ م ۲۴هجري

(c) ketabton.com: The Digital Library

- فلینه ( بنو ) : ۱۵ جون، ۶۴۴م ۲۴هجري
- اوپوکین ( افغان پکتیا ) ۲۰ جون، ۶۴۴م ۲۴هجري
- غزنه ( تسو – کیو – تو ) : ۲۵جون، ۶۴۴م ۲۴هجري
- کابل ( اورتسپانا ) :۱ جنوري، ۶۴۴ م ۲۴هجري
- کاپیسا ( د کابل شمالي ) : ۵ جولای ، ۶۴۴م ، ۲۴هجري
- اندراب: ۲۰ جولای، ۶۴۴ م ۲۴هجري
- تخاره ( تخارستان ) : ۱ اګست، ۶۴۴م ۲۴هجري
- منکان ( منجان ) : ۲ د سمبر ، ۶۴۴م ۲۴هجري
- بدخشان ( کوی – پو – کین ) : ۲۰ د سمبر ، ۶۴۴م ۲۴هجري
- پامیر ( کوی لنګ نیو ) ۲۵د سمبر ، ۶۴۴م ۲۴هجري
- د پارکند او ختن سرحد ته وراوښتل: ۲۲ د سمبر ، ۶۴۴م ۲۴هجري

د هیوان تسانګ د سفر په موده کې د مملکت په ټولو ختیځو او شمالي ولایتونو کې بودایي آئین رواج درلود او په معبدونو کې یې په زرګونو تنه راهبان اوسېدل.

او د بلخ په نوا سنګهارمه (نوبهار ) کې د بودا دوجود یو لړ غړي او سامان موجود ؤ. هیوان تسانګ له بلخه قندوز ته هم ورغلی ؤ او د هفتلي خان ( شاهو خان ) زوی چې د کاوچانګ د پاچا لوریې کړې ده اودلته ۲۷ خان نشینه ایالتونه شمیري، د دوی الفبا ۲۵ حرفي ده چې له کېڼې خوا بسې خواته لیکل کېدله.

نوموړي زایر له بامیانو څخه ، کاپیسا ( کیا – بي – سي ) ته هم راغلي ؤ چې ددې لسو سیمو پاچا د بودا له مخلصو پیروانو څخه ؤ.

د کاپیسا پاچا ددې چیني زایر ډېره قدرداني وکړه اوتر ۳ میلو فاصلې پورې ورسره د خدای پاماني لپاره لاړ.

**۴.وانګ هیوان تسو Wanghiuon – tso :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر هیوان تسانګ وروسته نوموړي چینایي زایر هم زموږ هېواد ته راغلي او د باختر او کاپیسا له لارې هند ته خو د چین د سفیر په صفت په ۲۲۰م له باختر، کابلستان او ګندهارا څخه هند تللی دی، څرنګه چې په دې وخت کې زموږ پر هېواد د عربو بریدونو نوی پېل شوي ؤ نو وطن ته د نیپال له لارې ستون شو.

**۵.هیون تچاو Hiuon – Tcho :**

نوموړي په ۲۲۴م ۴۴ زموږ هېواد ته راننوتي د باختر، کابلستان او ګندهارا له لارې هند ته لاړ او د اسلامي لښکرو د بریدونو د زرو اخېستلو له امله هلته پاتې او مړ شو.

**۶.چیني کارمند ( وووکنګ ) -Wou – Kong :**

د چیني اسنادو له مخې دې سیاح ته په ۷۵۱ م ۱۳۴ هجري وظیفه ورکړ شوه چې د شاهي لوی سفیر ته خپل هېواد ته د تګ لارښوونه وکړي، نوموړي له ډېرو سختو لارو څخه چې ختن مستقیماً د کندهار سره نښلوی منزلونه ووهل او چې یې زموږ په هېواد کې یې څه ولیدل هغه د پاچهي کورنۍ غړي او ټول درباري د معبدونو په بیارغاونه بوخت وو چې د هفتلیانو له خوا ویجاړ شوي وو په یوه بله وینا دا وروستني زیر تر هیوان تسانګ ۱۳۰ کاله وروسته ۲۳۰ م –۷۲۰ م کال کندهار ته راغلی او دلته مړ شوی دی.

لرغونی او اوسنی کونړ، ۱۳۸۴کال، رازقي نړیوال، ۳۲۷-۳۷۱ مخونه.

**اور او انسان :**

اور هغه طبیعي عنصر دی چې انسانانو ډېر پخوا پېژندلی، ګټه یې ترې اخستلې او پرستش یې کړی دی.

د تاریخي معلوماتو له مخې د ډبرې دورې په لومړنیو پړاوونو کې اور پېژندل شوي او استعمال شوی دی، معمولی او متعارف اور له کاربن سره د اوکسیجن د چټک یو والي څخه عبارت دي هغه چې تودوښه، لوګی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا ترې پیدا کېږي ددې سره بیا هم اور یو پراخه کیمیاوي مفهوم لري په دې ډول د یو کیمیاوي عنصر د بل کیمیاوي عنصر سره یو داسې اتحاد دي چې دواړه په ګاز بدل شوی، تودوښه، لوګی او رڼا رامنځ ته کوي نو اور بلل کېږي.

اور د بشریه ژوندانه کې ډېر ارزښمن او لوړ مقام درلودلي دي او د اوسني صنعتي ژوند بنسټ ګڼل کېږي.

د ډېرې د دورې لومړنیو قبیلو د مذهبي مراسمو په کیسو او نکلونو کې څرګند شوي چې د اور لګولو تر مصنوعي وسایلو پورې لومړی لا اور استعمال لیدو.

په یو بل روایت کې ځینې پوهان عقیده لري چې ممکن سن انتروپوس انسان یعنې د لومړنۍ مرحلې انسان په همدې دوره کې پر اور مسلط شوی دی او اور د هغوی په ژوند کې مهم تغییرات رامنځ ته کړي دي.

د اور د حقیقي ارزښت او اهمیت په باب د تاریخ یو لارښوونکی داسې څرګندونې لري.

اور د انسان د تاریخ په درشل کې د کشف شوی او میکانیکي حرکت کیدای شي چې په تودوښه بدل شي د اور تر لاسه کول د مښلو ( استهکاک ) د دورې او د زمانې په ډېر اوږده واټن کې صورت موندلی دی، عقیده داسې ده چې تودوخه په میکانکي حرکت بدلیدای شي چې د بخار د ماشین اختراع هم ددې تجربې محصول دی.

لومړنیو انسانانو، اور په طبیعي منابعو لکه بریښنا، تندر، تانده او د اور غورځوونکو غرونو پر څوکو کې لیدلی او پېژندلی دی او بیا یې د ځینو شیانو د سولیدلو او استهکاک په نتیجه کې سترګو ته ورغلی دی.

د اور د پیدا ښت په برخه کې که د تاریخي روایتونو او مذهبي دودونو له خبرو څخه تېر شو، اور په طبیعي توګه په طبعیت کې لکه د لمر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګو، اور غورځوونکو غرونو، تندر، تالندې او داسې نور طبيعي عناصرو کې موجود دی، څو لومړنيو انسانانو کله چې يې له ډېرې څخه د ځان لپاره جارحه وسله جوړوله نو د تېږو د يو پر بل د لګيدلو او سوليدلو په وجه په تصادفی توګه اور والوت او دې پېښې د هغوی پاملرنه ځانته راواړوله او تردې وروسته يې د بکورو (چقماقي ډبرې) او نورو ډبرو د يو پر بل په شدت د وهلو څخه يې اور ترلاسه کړ په دې کې شک نشته چې د غه ډول تصادفي پېښې يوازې په هغو ځايونو کې رامنځته شولې چې بکوري په کې موجودې وي، خو په هغو ځايونو کې چې د غه ډول ډبرې نه وي ممکن نور تصادفات لکه د باد په واسطه د ونو د وچو څانګو او ښاخونو د يو پر بل سوليدل د دې سبب شوي وي چې اور ترې لګيدلي وي.
لنډه دا چې اور که څه هم د طبيعت په ځينو نورو عناصرو کې لکه له محدبو ائينو د لمر د وړانګو له انعکاسه او داسې نورو چې د مخه ترې يادونه وشوه، فزيکي ځينې عمليې لکه د ډېرو په شدت سره وهل، مصنوعي بريښنا او له ګوګړ نه ګټه اخستل د اور د استحصال منابع ګڼل کېږي بيا هم د اور د ترلاسه کولو لپاره دوه طريقې لکه تصادم او سوليدل ډېرې مهمې شمېرل کېږي سره د دې چې په دې وختونو کې د لمر د وړانګو متمرکز کول چې د مخه ورته د محدبې آئينې په واسطه اشاره وشوه او د تودوښې لپاره د بريښنا استعمال او يا د بريښنا شارټي هم د اور د رامنځ ته کېدو لاملونه ګڼل کېږي.
يو ستر عالم چارلس ډاروين وايي چې ما په تاهني کې يو بومي سړی وليد چې د دوو لرګيو په سولولو يې په څو شېبو کې اور ولګاوه او بيا يې هم د نومورې د غه طريقه، تجربه کړه او په ډېر زحمت سره يې مثبته نتيجه واخېستله د دې ډول اور د پيدا کولو سره له ډېرې پخوانۍ زمانې څخه بشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندګلوي درلودله او بیا وروسته د پولادو په دوره کې د ضربې او وهلو په واسطه اور پیدا شو.
کـه د اور د پیدا ایښـت د تـاریخي پـس منظـر لـه کیسـو او روایتونـو لـه راوړلو صرف نظر وشي نو ویلای شو چې د اور د تولیدولو لپاره ډېر ساده میخانیکي عملیه هماغه د ډبرو یو پر بل په شدت سره وهل دي چې انسان ترې له ډېر پخوا نه کار اخېستلی دی، چې بیا وروسته دا طریقه په یو څه متکامله بڼه زموږ د هېواد په ختیځو سیمو کې چې له ډېر پخوا نه یې رواج درلـود او د اور د ترلاسـه کولـو یـوازینې خـو سـاده وسـیله ګڼل کېږي د موضوع د لا ښه پوهېدلو په خاطر دا طریقه په دې ډول ښوول کېدای شي.
د خو (دولې پنبې) په مرسته د پنډ (د اور د تولیدولو یو ډول د اوسپنې الـه ده) اوبکورې (چقماقي ډبره) د یو او بل د سختو وهلو پـه نتیجه کې د اور بځرکي الوزي او (خو) اور اخلي باید (خو) په هغو اوبو لامده شوي او وچ شوي وي چې د باروتو ګردونه ورسره ګډ شوي وي، بیـا دا اور د نخـی تـوتې او لرګـي پـه واسـطه زیـاتېږي چـې سـګرت لیتـر هـم لـه دې طریقـې نـه پـه استفادې سره جوړ شوی دی او د هغې طریقې متکامله بڼه ده.
ممکن د اور د تولیدولو لپاره یو شمېر نورې طریقې هم وښودل شي.
**د اور د ساتلو لارې چارې :**
څرنګه چې پخوا اور پرته له دې طریقو په اسانۍ سره تولیدیدای نه شو نو پـه کورنیـو کـې د اور سـاتنه یـوه لویـه سـتونزه ګڼل کېدلـه، یـوازې پـه هغـو شمېر کورنیو کې به همیشه اور ساتل کېده چې په نغري کې بـه یـې پـه پرلـه پسې ډول پخلي کېده یـا د تـاریخي مدارکو لـه مخـې پـه نړۍ کـې یـو شـمېر قبیللي وي چې داور بلول په ورته ګران کار ښکارېده نو اور به یې د تل لپاره بل ساته کله چې یو مهال د اندیمان په ټاپو کې چې ځینې خلک یې په اور بلولـو نـه پوهېـدل نـو اور بـه یـې د کلکـو لرګیـو پـه واسـطه بلـوو او د هغـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکروټې به یې ساتلې چې د سکروټو له یوه ځایه بل ځای ته وړل هم دومره سخته خبره نه وه.

زما د ژوند او د لیدلو خبره ده چې زموږ د هېواد په ختیځو سیمو کې د ګوګرد د رواجېدلو څخه دمخه له هغو کورنیو څخه چې په نغري کې به یې همیشه اور موجود و په نخي ټوټه کې یې د اور سکروټې رانغښتلې او کور ته به یې وړلې او بیا به یې په ډېره سختۍ سره هغه بلولې، دوی په هغه کوله چې په اسانۍ سره د اور د لګولو لپاره په کور کې شونټۍ ( د نښتر غوړ لرګي ) وساتي.

اور په اویستا کې د «انار» په نامه یاد شوی دی او په خپله ظاهري روښنايي او تودوښې او دهغو ګټو چې انساني ژوند ته یې ور رسولي دی د خپل کشف او پیدا ایښت له ورځې څخه د نړۍ په ټولو قومونو کې د یو ګټور او مفید عنصر په حیث بلل شوی دی.

د اور کشف او استعمال له هغو لاملونو څخه یو اغېزمن عامل دی چې د نړۍ په هره ګوښه کې یې بشریت د تمدن نوې مرحلې ته رسولی دی.

د آریانا او سیدونکی د اویستا په عصر کې په هغه سابقه چې پخوا له دینه یې په ویدي عصر کې د طبیعي نوراني عناصرو په تشخیص کې درلودله د نړۍ د نورو ملتونو په نسبت یې اور ته ډېر لوړ او مهم مقام ورکړی ؤ او هغه یې د «اګني» په نامه پېژنده او نورو ارباب الانوراعو تر څنګه یې دده لپاره ډېر سرودونه ( شعرونه ) جوړ کړي وو.

اویستا ، اور په ټولو عناصرو کې یو ډېر سپېڅلې او مقدس عنصر باله او هغه یې د اهورا رامزوا ( خدای ) د نور انعکاس ګڼلې ؤ.

سربېره په دې اور د اخلاقو د پاکۍ نښه، د خبیثو ارواحو او دیوانو په مقابل کې د دفاع ډېره موثره اله شمېرل کېدله، دوی عقیده درلودله هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت چې د شپې تیاره پیدا کېدله او خبیثو ارواحګانو (دیوانو او شیطانانو) به په فتنو او فسادونو لاس پورې کاوه.
یوازې د اور رڼا د هغوئ د ویرې او تېښتې عامل ګرځېدلای شو او له دې کبله یې د هغه درناوی او عبادت کاوه.
په آریانا په ویدي زمانه کې د کورني په کانون کې د اور روښانه کولو او بلولو رواج درلود او څه وخت چې د اویستا په زمانه کې اور لوړ مقام وموند نو طبعاً نه یوازې د کورنۍ په کانون کې اور بلونې او روښانه کولو او د همیشه لپاره دهغې ساتنې عاموالي پیدا کړې بلکې په آتشکده کې یې هم رواج وموند ښایي دا هم وویل شي، چې د کورنۍ په کانون کې د اور ساتل د هندو اروپایي د زیاترو قومونو پخوانۍ عنعنه ده.
او د موروا کي په دوره کې د ښځو له مهمو وظیفو څخه یوه هم د اور ساتل ؤ.
دا کار په ویدي او اویستا یي عصر کې په آریانا کې منحصر نه ؤ بلکې جرمنیانو او رومیانو هم نسبتاً په نوو زمانو کې په کورني کانون کې د اور احترام کاوه په هر حال په اویستایي زمانه کې د آریانا اوسیدونکو دا سې عقیده درلودله چې د مضرو عناصرو د محوه کولو ډېره ښه اله او حربه اور دی.
او له همدې کبله یې د کورنۍ په کانون کې د اور بلول د شپې او ورځې له خوا د هغه ساتنه خپله یوه مذهبي وظیفه ګڼله.
دوی په دې عقیده هم وو چې د اور په رڼا کې سپنته مینو (مقدس عقل او پوهه) په خپله د دوئ او د دوئ د کورنۍ ډاډمن ساتندویه او مضر عناصر ورته زیان نه شي رسولای، د همدې عقیدې له مخې د کورنۍ له کانون څخه د باندې آتشکېدې جوړې شولي، په مذهبي مشرانو او پاچهانو پورې مخصوص آتشکدې هم رامنځ ته شوې او د اوه چې اور او آتشکدې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اویستایي دین او دیانت کې تردې اندازې پورې لوړ مقام پیدا کړ چې د غه دین او دیانت د آتش پرستۍ په نامه هم وبلل شو.
(اصلاح – ۳ اسد / ۱۳۹۱، رازقي نړیوال).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فراه باستانی باداشتن پدیده های حیرت انگیز آن

به منظور توضیح صریح تر موضوع ایجاب میکند تا نخست از همه در مورد اشکال و مفاهیم وجه تسمیه فراه معلومات چندی ارائه شود.

- کلمه فراه در ازمنه های قبل از اسلام به صورت «فراداتا» از رودخانه اقتباس شده که از میان سرزمین فراه می گذرد.
- دو هزار و دوصد و چند سال پیشتر بطلیموس و استفانوس بیزانسی با تذکار اسم «بدو فتازیا» که شهری در حوزه سفلی فراه رود بود و محل آنرا در «پشاوران» (سلیمان یا صالحان) نزدیک جوین نشان داده شده معنی باستانی و قدیمی همان فراداتا را ادا کرده اند.
- پلینی از این رودخانه بنام فرادوس یادآور شده و ایزیدور جغرافیه نگار کلاسیک اسیای صغیر در کنار این رودخانه بنام همان فراداتا از یک شهری تذکر بعمل آورده است.
- در نوشته های دوره اسلامی کلمه «فرا» به صورت فراه و فره ضبط شده و ظاهراً نویسنده گان اسلامی آنرا به کلمات «فریا فره» یعنی (خره پهلوی = خورن اویستایی) هم ریشه داشته اند که به معنی فروغ و شکوه می باشد.
- به عقیده دارمستر این خره از شکل اویستایی خورن پدید آمده و معادل این کلمات در فارسی فرو فرنه و فرخ است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اما تا جایی که مستند و مدلل می باشد زیادتر نام های مکانی کشور باستانی ما از نامهای رودخانه های آن نشست کرده اند که مثال های زیاد آنرا می توان ارائه کرد از قبیل کونر، کابل، هلمند وغیره.

بناً اگر نام فراه فر، خورن و یا خورا تنگنت باشد ریشه اصلی آن در دریای آن یعنی فرادا تا می توان جستجو کرد و در مجموع، مطلب چنان است، که ریشه و سابقه کلمه را در فر (فروغ) فارسی و معادل در «خورن» یا خوار تنگنت که در اویستا بسیار آمده به مفهوم صاحب شکوه افاده می شود.

در مورد وضعیت و موقعیت طبیعی و چگونگی ساختمانی این محل از جانب مورخان و جغرافیه نگاران مانند ابن حوقل، اصطخری، مولف گمنام حدود العالم، جیهانی، یاقوت حموی، فریه، بارتولد، مقدسی وغیره تذکرات همه جانبه بعمل آمده.

از آب و هوا میوه جات، آبادانی و حاصلخیزی و از ساختار های عمرانی و رونق قصور آن معلومات مفیدی ارائه شده است که از جمله پدیده های حیرتناک و از عجوبه های شگفت انگیز آن نیز بحث ها صورت گرفته که به گونه خلص به معرفی گرفته می شوند.

در فراه اثار و بقایای تاریخی فراوان است که از دیدن برخی آنها به انسان شگفتی دست می دهد، از اثار بس حیرات آور و شگفت انگیز فراه یکی هم ساختمان عظیمی است از کک کهزاد معروف به کافر قلعه که در یک قصه زال و رستم واقعه آن بیان شده است در ده دوازده کیلومتری جنوب شرق شهر موجود فراه برفراز کوه بچه یی که در یک سطح تقریباً زمین، هموار از سنگ سیاه تخت تشکیل یافته، آباد شده است شکل ظاهری این کوه بچه طوری است که قطر آن از سطح زمین به استقامت قلعه آن خورد شده میرود و در آخرین نقطه ارتفاعش که شکل یک سنگلاخ عظیم هرم مانند را

(c) ketabton.com: The Digital Library

نمایش می دهد بدو تیغه خورد و بزرگ از هم جدا شده که بر هر یک از تیغه های مذکور قلعه جداگانه اعمار گردیده است.
به عقیده مردم محل یکی ازین دو قلعه منسوب به کک و دیگرش منسوب به دخترش بوده که تسط پل متحرکی بهم وصل گردیده اند درین جا از همه عجیب تر و فوق العاده جالب توجه است همانا چاهی است که برفراز کوه و درعرض راه قلعه در دل سنگها به عمق زیاد حفر گردیده که اگر سنگی به پایین چاه انداخته شود بعد از ۲۵ دقیقه صدای آن شنیده می شود و کندن آن با آلات و ادوات روزگاران قدیم که مطابق روایات ملی بدوره های اساطیری و اسطوروی و افسانوی تاریخی تعلق داشته و کاریست نهایت دشوار که تصورش نیز اسان نمی باشد. و در یک سلسله آثار و قصیده شرح آن توضیح گردیده است.
از جاهای پرشکوه و جالب توجه که از مان های بسیار قدیم نسبت به آن احترام زیاد قابل اند یکی هم «کوه بی بی چه باران» است که بر فراز یکی از ساغری ها وسیع و مرتفع آن چکابی وجود دارد که آب باران های زمستان و بهار در آن جمع شده و در تمام مدت تابستان و خزان به صورت ترشحات بسیار لطیف باران از ان ساغری فرو می چکد اما از آنجایی که صعود بر قله این کوه و ملاحظه دقیق این ساغری برای مردم کار آسانی نیست، لذا ریزش متداوم این قطرات آب باران برای اکثریت مردم شکل معمای مقدسی را به خود گرفته که روایات عجیب و غریبی راجع به آن گفته و شنیده می شود در تاریخ سیستان در گفتار عجایب آن سرزمین روایتی، دیده می شود که ظاهراً به این کوه به همین چکاب ارتباط می گیرد، چنانچه گوید ... هم به فراه به دهی که مسو گویند از کوه بُلی آب چکان است اگر چه کسی را بزرگ علتی باشد چون بدان خویشتن بشوید که ازآن بالای

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوه برود چکان گردد شفایابد و عجیب آنست که چون مردم به صلاح و پاکیزه و نیکو سیرت باشد آب برو بچکد.
پس اگر مردم مفسد و بدکردار باشد برو آن نیاید ، هر چند که آن مفسد انجا باشد ، اگر چه دیر بماند آب فرو نیاید چون برخیزد باز آب چکان شود (ص ۱۴).
در روضات الجنات فی اوصاف المدینته الهرات نیز روایتی مشابه به این روایت آمده و آنجا در حالی که ازین کوه به اسم « باراندک» یاد شده، مطلب اینطور دنبال میشود.
در یک فرسنگی شهر فراه کوهی است که آنرا باراندک می گویند ، و درین کوه طاق سنگی است که دایم از آنجا آب می چکد و مردم محل به زیارت و طلب حاجت میروند و در پای این طاق سنگی دست بر آورده دعا می کنند و حاجت می خواهند. اگر چکیدن آب زیاد می شود به رواشدن حاجت امیدوار می شوند و اگر نه محروم باز میگردند و در وقت دعا بعضی چکیدن آب چنان غالب می گردد که می ریزد و بسیار کسی را دیدم که این حاجت را معاینه و مشاهده کرده اند و بدعای بعضی که حاجت ایشان اصلاً روا نخواهد شد آب از چکیدن می ایستد.
مستر بیل ویلیام انگلیسی نیز این کوه را دیده و در تاریخ کیچ و مکران از آن بنام « کوه بارندگی» یاد آور شده است.
اما مردم محل این کوه را « بی بی چه باران» می نامند و این تسمیه شاید به نسبت مقبره ایست که در پای آبچکان مذکور محل احترام و اعتقاد اهالی است اما بنام باراندک محل دیگری را در نزدیک قریه « تخت » و کمی بالاتر از پل کهنه فراه رود در مسیر رود خانه فراه سراغ می دهد که آبشار قابل ملاحظه را تشکیل می دهد.
( تخلیص از مرفوع فراه، سیستان بعد از اسلام، محمد اعظم سیستانی )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د باګرام د لرغوني کليمې ريښوي څېړنه

د هېواد د لرغوني تاريخ د کتنې له مخې د يو شمېر سيمو په اماکنو کې داسې نومونه ليدل کېږي چې د توصيفي مختارو په درلودلو سره لکه ګرام دخپل ماهيت په اعتبار بېلا بېل ځايونه معرفي کوي او د ځينو تاريخي لرغونتيا آن تر د ويدي زمانې ته ور رسېږي له هغه مهال چې آريايانو پر مهاجرتونو پېل کړی وو او د مذهبي ماهيت له پلوه د بودايي آئين د اماکنو سره هم تړاو لري، چې دادي په څو مواردو کې تر کوتلې څېړنيز بحث لاندې نيول کېږي.

**د باګرام د کلمې ريښه :**

لکه چې د مخه وويل شول د ګرام د کلمې لغوي ريښه ډېرو لېرو زمانو ته ورغځېږي او يو لړ مورخان وايي چې ګرام يوه هندي کلمه ده او له ګرامه څخه اخېستل شوي ده او ګرامه د اندو آريايي ژبې په لحاظ په ويدي مجموعه کې د تجمع مفهوم افاده کوي چې لا تر اوسه پورې د نورستان د سيمو په شمېر نومونو کې د ګر، ګرام، ګرم په کلمو کې خوندي دي او د کلي او قريې معنا ورکوي او په سانسګريت کې ګرام د ښار معنا لري.

که د ګرام د کلمې لرغونتوب ته ور وګرځو نو په آريايې قبيلوي ويش کې، د آريايي کلمو په لړ کې تشکيلاتي ريښه لري. د افغانستان د پخواني تاريخ د ليکوال د ليکنې پر بنا ګرامه چې د څو ګوشتو له يو ځای کېدو څخه رامنځته شوې ده او بيا د ګوشتې د «ګو» کلمه له ګوترا يعنې د غويانو د پنډيدلو ځای او د هغو ګډه او مشترکه ورشو بلل شوې ده جرمني عالم زيمير ګرامه په عشيرو ترجمه کوي او د ټولنيزو ژوند د مراتبو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لحاظ دا ګرامه د کورنۍ او قبیلې ترمنځ بولي، مګر ډېر سم شکل یې هماغه دی لکه چې دمخه وښودل شو.

اروابناد احمد علي کهزاد د خپل پورتني بحث په دوام لیکي: آریایانو په خپلو مهاجرتونو کې ټولو په یوه ګرامه چې له څو کوشتو یا د یو څو عشیرو له جملې څخه وه، یو ځای د یو مشر تر څارنې لاندې به په مطلوب استقامت حرکت کاوه، دغه مشر ته به یې د «ګرامتی» Gramati په نوم د یوې ګرامې رئیس وایه، او کله چې به آریایانو په کوم ځای کې واړول په کرانه او کښت به یې لاس پورې کړ، نو دغه محل او استوګنځی ته به یې چې زیاتو کوشتو به په کې د یوه نږدې رئیس تر څارنې لاندې ژوند کاوه، هم ګرامه ویل کېدله.

تر څو چې دغه محل د کلي او استوګنځای مفهوم پیدا کړ او تر اوسه پورې دغې کلمې د افغانستان په یو لړ سیمو په تېره بیا په نورستان کې خپل مفهوم ژوندي ساتلی دی، چې د ګرام په شکل د «با» د توصیفي مختاري په درلودلو سره مشهوره بېلګه یې د کوهدامن لرغوني باګرام او په یو څه تغییر سره د کابل بګرامي دی. ښایي وویل شي چې د ګرامي لوړ تشکیلاتي شکل په ویس یا ویسه کې خوندي دي (۱) د وخت په تېریدلو سره هغه مهال د ګرامی یا ګرام په مکاني مفهوم کې پراختیا راغلی او توصیفي شکل یې ځانته نیولی دی چې یې د یو لړ نورو مکاني نومونو بڼه ځانته نیولې ده، چې څرګندې بېلګې یې همدغه د کوهدامن، پروان باګرام او د پېښور باګرام دی. د ځینو پوهانو په نظر باګرام یا بګرام (وی ګرام) دي چې ګرام د هماغه سانسکریتي ښار په مفهوم او «وي» او یا «با» توری چې توصیفي او تفصیلي توري دي هغه ته افضلیت ورکوي او مجموعې معنایې مهم ښار او مهم پایتخت دي. ځینو مورخانو د بګرام ښار دهمدغو توصیفي مختاړو په وجه د خانانو او نجیبانو ښار او د تقدس له مخې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای بڼ د راهبانو کلی او نجیب کلی بللی دی(۲) که د بودایي آئین د محلاتو په اعتبار د بګرام کلمې ته وکتل شي، نو څرګنده ده چې د پروان د بګرام یعنې د دې غوره ښار اهمیت د کوشانیانو په تېره بیا د ستر امپراتور کنیشکا د امپراتورۍ د دوبنۍ پلازمینې په حیث د لوړ مقام په درلودلو کې پوره جوتېدای شي او دا د دې امپراتورۍ هغه پایتختي ښار و چې د شاهانه برم او دبدبې له مخې په نړۍ کې بې ساري او د ښار د ودانیو له جملې څخه یې سالونونه د پاچهانو او نړیوالو سوداګرانو په ګران بیو سوغاتونو کې نجیبه ډبرې په کې شاملې وې پوره ښکلی کړای شوی و.
همدارنګه د بګرام د پلازمینې ماڼۍ او سالونونه د ټول جهان لکه د یوناني، رومن، هندي او چینایي په نفیسه اثارو او تجملي محصولاتو پسولل شوي وي.
د دې په څوا کې د پېښور د بګرام ښار د کوشانیانو د ژمنۍ پلازمینې او د بودایي آئین د خورا مهمې سیمې په توګه د پرتمین مقام درلودونکي و او په پښتو ادب کې د بګرام د ترکو د ښکلا او نازو نزاکت ساتنې هم له پوره شهرته برخمنې وي او هم که د پروان د بګرام د عبدالله برج لرغوني سیمه د بودایي آئین د بډایو اثارو له پلوه وکتل شي نو د بګرام ښار د مذهبي او شاهي شان او شوکت پوره ښکاوندوی او مدلل کوونکي دي په همدې ترتیب د کابل بګرامي د بودایي زیاتو اثارو او ائینیو د شتون په وجه چې د چکري منار سورمنار او یو شمېر ستوپې یې ویاندې ېېلګې بلل کېږي. او که د جلال کوټ د بګرامي سیمه چې د ننګرهار د کانال د ریاست څلورلارې ته نږدې د کابل سیند په غاړه پرته ده د لرغوني نګاراهارا د بې شمېرو لرغونو بودایي مهمو سیمو څخه ګڼل کېږي چې د یوې ستوپې پاتې کنډواله یې عیني شاهده ده. د ګرام د کلمې سره د یو لړ نورو مختارو د درلودلو له مخې په نورستان او کونړ کې د ګرام اړوند شکلونه د ټولو په سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ګرام د کلمې مکاني اهمیت د نورستان نورو سیمو په لړ کي دادی چې په خپله د کامدیش کلي چې د نورستان د کام د معتبرې قبیلې خورا مهم کلی دی ببل نوم یې «کام بګرام» دي. همدارنګه د برګیمتال ولسوالۍ یو کلي هم د پیچ ګرام په نامه یادېږي او د پیچ ولسوالۍ د کلیو له جملې نه یو کلی په «ناتې ګرام» یادېږي ددې تر څنګ د وته پور په سیمه کې هم یوه سیمه د «ترې ګرام» په نامه چې د دربیو کلیو مفهوم افاده کوي یاده شوې ده او په همدې ترتیب د نورستان د سیمو په کتار کې او دیګرام څخه یادونه راغلې ده(۳).

لنډه دا چې د کونړ د پخوانیو لویو، پخو او خودکفا کلیو څخه چې د لرغوني ښار شکل لري یو کلي د قلي ګرام یا په سم شکل ګولي ګرام دی، چې د خاص کونړ د ولسوالۍ یو سرحدي کلي دي.

اخذونه:

۱ـ د افغانستان پخواني تاریخ، ټوک۱، احمد علي کهزاد او محمد عثمان صدقي دولتي مطبعه، ۱۳۳۴کال، ۱۳۵- ۱۳۶مخونه.

۲ـ اریانا مجله، لومړۍ ګڼه، ۱۳۲۳ کابل، ۲۴مخ.

۳ـ لرغونې او اوسنې کونړ، رازقي نړیوال، د دفاع وزارت اردو مطبعه ببلا بېلې برخې او همدارنګه د هېواد لرغونې ښارونه او د تاریخ پاڼې، رازقي نړیوال میوند مبطعه د کاپیسا بګرام موضوع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوش تپه

د بغلان له لرغونو سیمو څخه یوه هم خوش تپه یا خوشال تپه ده چې د خاواک کوتل ( معبر ) په شمال کې پرته ده او دا د هغو تپو له جملې څخه ده چې د برونز یا د مفرغ له عصره څخه بلل کېدای شي. له دې غونډۍ څخه له اټکله وتلې د سرو زرو خزانه ترلاسه شوې ده. دا تپه د « قریه سای هزاره» یا « برقه سیمه» ده چې د بغلان په ختیځه برخه کې موقعیت لري او وه متره لوړه ده، د کیندنو په ترڅ کې پنځه د سرو زرو او ۱۲ د سپینو زرو لوښې هم په دې غونډۍ کې ترلاسه شول.

کله چې د لرغون پېژندنې دهئیت له خوا تاریخي سیمه ساند اژ ( په مقدماتي او امتحاني ډول ) وکنیدل شوه او د ( پروفیسور برنارو P.Beenard ) له خوا تر کتنې لاندې ونیول شوه.

د ترلاسه شوو اثارو په اعتبار د قبل التاریخ تر درې زره کاله پورې یعنې د برونز یا مفرغ په دورې پورې بېې اړه درلودله. څرنګه چې خوش تپه د ښکلیو او مستظرفه لرغونو اثارو د درلودلو په وجه تاریخي ارزښت لري نو دهغې په اړه د تفصیلي معلوماتو د وړاندې کولو په خاطر په د لویدیځو د وپرې، فلیپ ګوین او نجیب الله عمر د ګډ اثر« ګنجینه خوش تپه» چې پیاوړی لرغونپوه څېړنوال عبدالواسع فیروزي په دري ژباړلي او څېړنوال ښاغلي کتابخان فیضي په خپل یو اثر کې د لرغون پېژندنې له مجلې اقتباس کړې دي مراجعه کېږي.

دخوش تپې ګنجینه د ۱۹۲۶ میلادي کال په سپتمبر کې په نه تصور کېدونکې توګه د سرو زرو او سپینو زرو د لوښو په شکل د بغلان د ختیځ « قریه سای هزاره» یعنې « منطقه برق» ته نږدې د ختیځ طول البلد ۴۲ دقیقو او ۲۸ درجو او شمالي عرض البلد د ۱۳ دقیقو او ۳۶ درجو کرښو پروت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، کشف شوه دا سیمه د یوې خاورینې غونډۍ په شکل ده، چې اوه متره لوړوالی لري او مساحت یې ۱۸x۱۴ مترو کې دی.
دا تپه د خاواک په شمال کې د افغانستان په جلګو او دروکی د ورته په زرګونو کوچنیو تپو غونډې یوه تپه شمېرل کېږي.
ددې تپې د دقیقې مکشوفې موقعیت معلوم نه دې، خو ویل کېږي چې دا سیمه د بزګرانو دخاورو د وړولو په واسطه کشف شوه او په دې وجه ددې تپې اثار د خاورو د کیندلو پر مهال له منځه تللي دي، کله چې بزګرانو دغه خزانه وموندله نو یې په زرګرانو په ډېر کم قیمت خرڅه کړه کله چې د حکومت چارواکي له دې پېښې خبر شول نو یې ددې خزانې د ارزونې او کتنې لپاره له کابل موزیم څخه یو هئیت د «قریه سای هزاره» سیمې ته سفر وکړ او د هغوئ د څېړنو په نتیجه کې د سرو زرو پنځه او د سپینو زرو ۱۲ لوښي ترلاسه شول چې تقریباً تول مات او ناقص وو. د سرو زرو د لوښو وزن د ۴,۵ پونډو ترمنځ او د سپینو زرو د لوښو وزن د ۳,۳ پونډو ترمنځ و.
په همدې توګه کله چې هئیت نوموړی ساحه وکتله دوه ترنجه یې ۱,۲ + ۸ و ۱,۲ + ۱۲ مترو کې کیند نه وکړه چې له دوهم ترنج څخه یې یو قبر د یو نیم متر په ژور والي او په هغه کې یې یو اسکلیت یعنې هډوکی، د ناستې په حالت کې چې متې یې پر تټر ایښې او سالمه جمجمه یې نسکوره پرته وه را ښکاره شو او دوه لوښي ډبرې یې ښې او کېڼ اړخ ته په عمومي شکل لیدل کېدلې.
ددې قبر په ښکتنۍ برخه کې دایرو یو قشر هم و ددې هئیت په رپوټ کې په دې دوو ترنجو کې د تیکر او کودړو څخه هیڅ ډول شواهد ترلاسه نه شول.
د لرغون پېژندنې دوهم هئیت د فرانسې د لرغون پېژندونکي پاول برنارد په مشرۍ لکه چې دمخه ترې یادونه وشوه د یو افغاني نماینده سره بیا هلته وګومارل شول، نوموړي لومړني شخص و چې ددې خزانې د ماقبل التاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړتیاوې یې په ګوته کړې ښایي وویل شي چې دا کلی د بدخشان د لاجوردو د کانونو او د ترکستان د حاصلناکو کروندو په منځ کې او د سوداګرۍ لویې لارې ته نږدې پروت دي چې د هغې سیمې د وګړو د استوګنې نېټه تر میلاده دمخه دربیمې زریزې پورې ښیي په ۱۹۲۸ میلادي کال کې لویې دوپرې ددې سیمې عکسونه واخېستل او هغه یې د ۱۹۲۹ میلادي کال په پسرلي کې د «باستانشناسی مدیترانه شرقی، اورپاییي شرق و شرق میانه» تر عنوان لاندې سیمینار کې چې د پرولیتر یعنې «یتی اورادا» تر څارنې لاندې د امریکا د کولمبیا په پوهنتون کې جوړ شوی و. وښودل چې د سیمینار د برخه والو د پوره پاملرنې وړ وګرځېدل، دهغو په اړه خپاره شوی مطالب ناڅبزوو او د اړتیا وړ موضوعګانو ته یې لازم ځواب نه شو ورکولای د خوش تپې د خزانې اثار د ساختماني توکو او کرونولوژۍ له مخې په څو د ستو ویشل شوي دي لکه کم رنګه ژېړ طلایي لوښې، خالص ژېړ طلایي لوښې او د سپینو زرو لوښې، دا لوښې د دننني او بهرني نزئینکاري درلودله چې زښته زیاته ارزښتناکه ده چې زیاتره یې هندي، ایراني او د بین النهرین ایز موتیففونو سره یې ورته والي درلود او تر میلاده دمخه له دریمې زریزې تر دوهمې زریزې پورې تړاو لري او دا اثار په دې توګه تزئینکاري شوی دی.

پر کم رنګه ډېر طلایي «سایه لرونکي ګیلاس کې چې د لاستي لرونکي ماتې پیالي سره په نقره ایز د ګیلاس د بدنې برخه ملمع کاري شوې، دهندسی تزئیناتو درلودونکې وه ددې منظرې د لوښو د بدنې په ظریفانه طریقه منقش شوی او په سپکې برجستګی سره په منظم ډول تقسیم شوی دی. بل پایه لرونکي یا کب دار کمرنګه ژېړ طلایي ګیلاس چې په هغه کې په قارجن شکل د مارانو شکلونه اونور انځورونه نقش شوی وو هم له خوش تپې څخه کشف او تر لاسه شوی دی (په ځینو لوښو کې انځورونه، تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلاده دمخه په دریمې او دوهمې زریزې کې د سند په حوزه، بین النهرین، سوریه او ایران کې هم شکل شوی دی).
اته رخ ډول ستوري او د ګرګس مرغه د دې خزانې غوندې بې ساري دي له دې ساحې څخه نوک لرونکي افراز هم وموندل شول چې امکان لري د مارانو د بدن پر مخ د ټکو د تزئینکاري لپاره ترې کار اخېستل شوی وي ساده کمرنګه ژیړه طلایي پیاله چې د پورتنیو اثارو په نسبت سوچه زرو او په زښته زیاته لوړه ظریفانه طریقه جوړه شوې، په کشف شوو اثارو کې شامله وه چې د «اور» د پاچهۍ ارامګاه طلایي پیالې ته ورته وه.
هغه کوچنی ژیړه طلایي کټوري چې قاعده یې ګردې او ږیره لرونکي غویي پرې په خاصه پاملرنه سره پرې انځور شوي، د ږیرې او د بدن د تزئینکارۍ نه په غیر د نورو ټولو برخو تزئینات برجسته ښکاري.
د سرو زرو لوی کټوري چې تقریباً مربع شکل پروفیل لرونکی دی او په هغه کې دوه غویان د غژګاو غوندی د ونې پاڼې ته په ورته شکل یو له بله جلا شوی ښکل شوی او همدا رنګه د غویانو تزئینات او د نورو برخو حکاکې نسبتاً لا زیاته برجستګی درلودله چې دا سې نور ټول تزئینات د نوک دارو افزارو په واسطه ترسره شوي له دې غونډۍ څخه ترلاسه شوي دي.
همدا رنګه یو لوی پایه لرونکي ګیلاس چې هند سي زمخت تزئینات او سپکه برجسته کاري یې درلودله هم له دې ځایه کشف شوي دي.
د سپینو زرو لوی کټوری د غویانو په انځورونو سره چې د خرما د ونې په واسطه یو له بله جلا شوی او ښکلي کړای شوی دی او په هر یوه کې دوا ړو خواوو ته درې غویان لیدل کېږي. چې ریزه کارۍ لري او ممکن چې د یوې وسیلې او یا د نوکدارو او زخیم کوونکو افزارو په واسطه تزئینکاري شوی وي، خو د غویانو د سرونو برخه د ونې له پاڼو په زیاته ظریفانه او نفیس ډول کار شوی دی غویان چې په زښته زیاته زړوره توګه ولاړ دی، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

برجستګۍ سره حک شوی دي چې د هندي او بین النهرین ییز اثارو غوندې دي.
د دې خزانې له زښته زیاتو نفیسو لوښو څخه د سپینو زرو یو کوچنی کټوری دی چې په ډېر ښکلي ډول تزئینکاري او برجسته کاري شوې او د تنې په برخه کې د غویانو ولې او سمونه د پوره پاملرنې وړ دي. دوه جوړه غویان د یو او بل په وړاندې ولاړ دي او له دې جوړې څخه یې هر یو د ځینو کوچنیو شیانو په واسطه یو له بله بېلېږي، د غویانو غاړې ولې او اړخونه دد تاو را تاو کېدلو امکان لري چې د لوښو ایراني او هندي شوي سبک څرګندوي د دې کټوري ګردۍ قاعده دا تو بازوګانو یعنې د ستوري په شان چې د یوې مرکزي دایرې څخه رامنځته شوي او برجستګي ور کړ شوې ده د سپینو زرو د کوچني کټوري چې په درې کرازو یې رخ ښۍ خواته دي او یو بل تعقیبوي ښکلي کړای شوی دی.
د لوښو په ځینو برخو کې چې څو متقاطع خطونه یې خک شوی دی هم د دې غونډۍ له لاس ته راوړنو څخه دي. په دې توګه د سپینو زرو یو بل کوچني کټوري د نیمګړیو هندسي بېلا بېلو طرحه لرونکو شکلونو سره چې سبک یې پخوانیو لوښو ته ورته دی د دوهم ځل لپاره له څو کوچنیو ټوټو څخه نه دی ترمیم شوی په یوه برخه کې یې د غویي یا ایږي (قوچ) سم دی هم له دې ځایه کشف شوی دی.
د سپینو زرو د کعب لرونکي ګیلاس ټوټې چې د غرڅې انځورونه په کې حک شوی دی. د ځینو نورو لوښو څخه چې د کټ مټ پروفیل یا نیم رخ لرونکي دي هم د دې غونډۍ د کشف شوو اثارو څخه ګڼل کېږي. د خوش تیپې د زرو په کټورو او ګیلاسونو کې زښته زیاتو نفیسو او بیخې زیات ظریفانه سبک او په هغو کې کارول شول تزئینکارۍ او له سرو زرو څخه په لاګرانه بیه یا په بل عبارت د طلایي ارزښتمندۍ او هنري بې سارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښتونو په امتزاج او ګډوالی سره ځای لري چې په هېواد کې د بې ساري ارزښمندې خزانې مقام او د لرغونې بې نظیرې شتمنۍ عنوان ورته ور کړ شي. په دې کې هېڅ شک نشته چې زموږ د لرغونې هېواد په هره برخه کې په بې ساري او په متنوع ډول چې یوه له بله ارزښتناکه او د فرهنګي ویاړونو مجموعه بلل کېدای شي.

لکه تر کومه ځایه چې د رباطک کتبیه د تاریخ، ژبې، اتنوګرافۍ او داسې نورو اړخونو له پلوه د پوره اهمیت وړ ده هغومره د آی خانم یونانې سبکه ښار، او کاپیسا، بګرام د سترو کوشانیانو د امپراتورۍ دوبنۍ پلازمینه او د بودایي آئین د نړیوال کانون په توګه او فوق العاده مهم ادبي ساري بلل کېږي او د میرزکې د سکو کلکسیون بیا هغومره د ځانګړي مقام درلودونکې دی او دا چې د خوش تپې په لوښو کې د غویانو، غرګاو، غرڅې، ایرې او د مارانو په متهجیو انځورونو کې ظریفانه انځورګرۍ ترسره شوې دی ددغو حیواناتو د انځورونو انتخابیده ځانته جلا څېړنیز او اسطوره یې بحث غواړي.

(هېواد، ۲۴۹ ګڼه، ۱۳۹۰ کال، رازقي نړیوال).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاپیسا بگرام حوزه پر بارو پر طراوت

از جمله حوزه سرسبزو شادات، پر ثمر و مدنی کابل تاریخی به اصطلاح عامیانه این دند شمالی یا کوهدامن و کوهستان می باشد که توسط کوه های بلند و پر برف احاطه گردیده است. و اما از نگاه موقعیت دیرینه آن عبارت از کاپیسا - بگرام بوده که در ولایت پروان امروزی و پرونتای دیروزه موقعیت دارد ، و زمانی هم در دوره کوشانی ها بالخاصه در عصر کوشانشاه کبیر کنیشکای بزرگ پایتخت امپراتوری آنها مقام بس والا تری را حایز بود. آن کاپیسی و بگرامی که از جهت ساحه پر غنای باستانی و ارزشمندی اثار گران بها و بی بدیل تاریخی، در دوره دیرینه از اهمیت و شهرت بس عالی برخوردار بود. واقعاً اگر دور نمای این دند شمالی را در موسم بهار و تابستان و حتی خزان از جبل السراج تپه گل غوندی، خواجه سیاران و استراغچ و به صورت اخص از تپه روح افزای استالف به تماشا می نگریم، مناظر باغستان های پر فیض و پر طراوت و تاکستان های از آن و فرت شادابی و نازگی مثل غبار سبز، هر بیننده را به خود معطوف ساخته و به تعجب می اندازد.

دره های بهشت نمای آن از هوفیان شریف آغازیده قدم به قدم تا قسمت های علیای دامنه های سلسله کوه کاریز میر و حدبخشی پغمان، هر کدام آنها از بابت دارا بودن اثار ارزشمند و ساحات نهات مغتنم به حساب می آیند. اگر قصه فلکلوری پند آور پروان و مروان سودمند بوده، روایات شفاهی و نمای عینی ریگ روان آن کاملاً یک پدیده تعجیب آور است.

اگر تگاب و نجراب آن به نسبت میوه انار بی نظیر می باشد ، غور بند با داشتن درختان انبوه بادام و پنجشیر با دره های قابل دیدنی و رود خروشان

(c) ketabton.com: The Digital Library

و توپنده آن دارای مناظر طبیعی بوده و با مناظر بی بدیل نورستان شباهت دارد و دره سالنگ به دارا بودن درختان توت شیرین ممتاز به حساب می اید.

بلی رود های رقصان غوربند ، سالنگ، شتل و پنجشیر با وجودی که با دره مربوط خویش باعث افرینش مناظر طبیعی و خوش آیند گردیده اند ، در پهلوی آن در نقطه با هم در آغوش گرفتن خویش یک ساحه نهایت مهم بی نظیر باستانی و موقعیت مقبولی را بوجود آورده است.

و اگر از نگاه موقعیت تاریخی به مشاهده گرفته شود ، کاپیسا بگرام همانند ایبک و سمنگان، خلم و تاشقرغان دو واژه و دو محل با هم پیوسته بوده و در ارتباط یا یکدیگر قابل شناسایی می باشند.

برای اینکه در مورد اهمیت ساحات و اثار بی همتای کاپیسا - بگرام معلومات چندی حاصل کرده باشیم باید به آثار باستانشناسان و مورخان مراجعه شود ، چنانچه بنا به گفته مرحوم احمد علی کهزاد ، در مقابل نطقه ای که رود های چارگانه که قبلاً از آنها تذکر بعمل آمد ، خزابه های وجود دارند که در زمانه های بسیا ر قدیم بنام کاپیسی شهرت داشت در اوایل دوره حاکمیت میروس هخامنشی، یعنی قرن پنجم قبل از میلاد و حتی قبل از آن که نقطه عمرانی نخستین شهر بگرام در همین محل عبدالله برج قرار داشت و بقایای آنها به ارتفاع ۲۰ متر به شکل دایره بزرگ و سپس به وسعت آن زیاد شده، در قسمت جنوبی دشت بگرام تهداب مرکز این شهر کاپیسا گذاشته شد.

بخاطر وضاحت بیشتر شناسایی بگرام - کاپیسا در معلومات منابع تاریخی، وجه تسمیه آنها به این ترتیب میتوان دریافت زایر شهیر چینایی هیوان تسانگ « شون تونگ» به کاپیسا مسافرت کرده و آن را به « کی پیس» ، « کی پیش» و « کی پن» و جغرافیه نگاران یونانی به شکل کپیسا از

(c) ketabton.com: The Digital Library

آن یادآوری کرده است. به همین ترتیب در عده از آثار تاریخی به شکل کاپیسای امروزی درج شده است، اما در مورد وجه تسمیه بگرام باید گفت که عده از دانشمندان آنرا به شکل «وی گرام» و «بای گرام» که واژه سانسگریت بوده و این «وی» و «بای» به صورت پیشاوند به این شهر مفهوم تعریف توصیفی و تفصیلی داده است. یعنی ویگرام او بایگرام پایتخت و مرکز مهم و شهر شکوهمند و مجلل، و یا بگرام امروزی به حذف حرف «الف» آن معنای شهر خان ها، نجبا، باغ خدا، قریه راهبان وغیره یاد شده است. از نگاه شکل مذهبی بگرام و یاگرام، یک بگرام دیگر در نزدیکی منطقه نارسیده به پشاور و بگرامی کابل و بگرامی جلال آباد و نیز پساوند های زیاد آن «گرام» که از اصطلاح گرامه بوجود آمده در بسیاری از نام های قریه و محلات نورستان هنوز هم موجود اند.

ممکن این پرسش مطرح شود که کاپسا - بگرام، در کدام زمانی از جانب کپي ها احداث گردیده است؟ درین خصوص گفته های زیادی وجود دارند، چنانچه احمد علی کهزاد که قبلاً بر آن اشاره شد در اوایل عهد سیروس هخامنشی و پیشتر از او به شکل حصار مستحکم موجود بوده و باشندگان آن در مقابل حملات سیروس و مقاومت پرداخت.

خو له هغه ځایه چې د ګندهارا د تمدني حوزې په بېلا بېلو سیمو کې د لرغون پېژندنې څېړنې سرته رسیدلي دي داسې وګڼل شوه چې د بودایي د هنري مکتب او د بودایي فلسفي د تنظمیدلو لوړې درجې ته رسول د بودایي راهب د یوناني هنرمند له خوا چې دمخه د یوناني هنر او یوناني متولوژۍ له اغېزمنو متاثر شوي وو او د ګندهارا د یونانو – بودایي هنري مکتب په هستوونه کې یې پوره ونډه اخېستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم د ګندا هارا ګریکو – بودیک هنر، د نامتو لرغون پوه الفردفوشه دنوم سره کلک تړاو لري. خو د ګندا هارا د تمدنی حوزې د پېژندنې د لامل یوازنی پدېده دهغو بودایي اثارو او ابداتو شتون ؤ چې ددې حوزې د پېژندنې د شتون په برخه کې هغه یونانیان مشخص کوي چې د بودایي فلسفې او یوناني تمرکز د څرګندتیا موندنې لپاره تر میلاده (۱۳۰) کاله دمخه له شمال څخه جنوب ته را خپاره شوي وو.

له بلې خوا نه مخکې تردې چې په ګندا هارا کې د یونانو – بودایي هنري مکتب، ددې هنر دهستیدو د سرچینې او زانګو په توګه په ځلیدلو راشي، زیاتو پوهانو داهنري مکتب د هندوکش په شمال په تېره بیا په بلخ کې ګڼلو چې ددې مکتب له پلویانو څخه یو دکتور دانیل شلومبرژه او ژوزف هاکن ؤ.

په هر صورت دالفردفوشه کیندنې چې په لرغوني بلخ او ورپسې د ژوزف هاکن له خوا په کندز او بیا د جاپان د کیونو د پوهنتون د لرغون پېژندنې هئیت په درکان تپه او چقلاق تپه کې کیندنې وکړې بیا یې هم ونه کړای شول چې هغه تیوری او طرحې چې دهندوکش په شمال کې د یونانو – بودایي دهنري مکتب د هستیدنې د سرچینې په توګه دتایید وړ وګرځوي.

خو د یونانو – بودایي هنري مکتب په خپل ذات کې د ګندا هارا دهنر زیږنده ده چې هم دتاریخي پېښو له پلوه او هم د یوناني هنر له پلوه په ګندا هارا کې د یونانیانو د شتون سره د ساختماني یامعماری، بودایي تجسماتو، اصیل فرهنګ له پلوه د هنري مطالعاتو په برخه کې د پوهانو لپاره د علمي لاربنودونکو له پلوه نوی باب پرانیست چې له دې منځه د بودایي فلسفي سره د ګندا هارا هنر هستوونکي د ګندا هارا او سیدونکي او هنرمندان کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میرمن پوګاچینکولو او ربشرما د نظریو پر بنا د بودا لومړنۍ مجسمه د «کوانا Kuvana» د ستر مجلس وروسته د جلندر او یا د کشمیر په «ګنداهارا» کې د «مهایانا» ستري طریقې اود «هنایانا» یاد «ژغورنې د کوچنۍ طریقې» د کوشانیانو په دوره کې په رامنځته کېدلو سره په هنري تجسماتو کې د بودا مجسمه د لومړي ځل لپاره را څرګنده شوه. په لومړي کرت ګنداهاري هنرمندانو ددې اجازه وموندله چې د مجسمې په چوکاټ کې د انسان په بڼه بودا ته ځلا ورکړي.

خو د څېړنپوه عزیزي د نظریې له مخې د بودا د مجسماتو او بودایي معبدونو رامنځته کېدل په لومړني شکل او یا ډېر کم د «اندوګریک Indo Greec» او ساکايي پاچهانو د واکمنۍ په زمانه کې د میلادي تر لومړۍ پېړۍ دمخه د ګنداهارا په حوزه کې به رامنځته شوي وي.

چې ډېره ښه بېلګه يې د «لوریان تالګهای Loryan – Tanghai» په مجسمو او د بیمارانو د تبرکاتو په مشهورو جعبو کې ګڼلای شو چې دا نظریو بل نامتو محقق او د عالم سیر جان مارشال هم تایید کړي دي.

که موضوع را ونغښتل شي ګنداهار د خپلو مدني سیمو د شتون په اعتبار څه د باختر د سوجه فرهنګ له مخې او څه د ګریک هلنیتي او بودیک هنر سره د خلطتوب له مخې د باختر د مدني او تر هنري مکتب یا د معمارۍ او ښکلیو هنرونو د رامنځته کېدو خاوره او د ودې او تکامل او پراختیا مرکز ګڼل کېږي.

چې له نیکه مرغه څېړنپوه نظر محمد عزیزي به دا ارزښتناک او ډېر ګټور اثر لیکلی دی او په دې برخه زیاتو پوښتنو ته قانع کوونکی ځوابونه وړاندې کولای شي.

اخځونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱.معماري و هنر های ظریفه گندا هارا و باختر در عصر کوشانی ها ، نظر محمد عزیزي، مطبعه کاروان، ۱۳۹۱کال، ۹مخ.
۲.جغرافیایی تاریخی افغانستان، میر غلام محمد غبار ، مطبعه دولتی ، سال ۱۳۶۸ ، ۸۵مخ.
۳.معماری و هنر های ظریفه پورتنی اثر ، ۸ مخ.
۴.ددې اثر تر ۲۸ مخه پورې بېل بېل مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باسول

د ننګارا هـا را يـوه بلـه مهمـه لرغـوني سـيمه او ښـار باسـول دي، چـې د افغانستان د ډېرو پخوانيو مذهبي سيمو څخه شمېرل کېږي.
دا سيمه د کابل سيند د مسير ښۍ خواته او د ننګرهار دناوې په شمال ختيځه برخه کې پرته ده او يا باسول د پخواني نګاراهارا او اوسني جلال اباد ښار دجنوب ختيځ په ۵۰ کيلومتري کې موقعيت لري، هغه سيمه چې د جلال اباد له مرکزه او دخيبر د دري تر سيمو وروسته د پېښور په لوري ترې لار غزيدلې ده.
باسول چې د کابل سيند په اوږدو کې موقعيت لري او د يو شمېر واديګانو او کليو درلودونکې دي، دکابل سيند په مخالف مسير کې هم يو شمېر کلي شته دي چې د بېلي، سمڅي او چکنور په نومونو يادېږي.
د باسول لرغوني موقعيت دهغو شمېر تپو او غونډيو پورې تړاو لري چې د هغو په اوږدو کې هسک هسک غرونه شته دي او يو مهال هلته د هغه په زړه پورې موقعيت ځانګړې اهميت درلود او يوه هغسې سيمه ده چې د بودايي آيين پيروان او مرتضانه هلته اوسېدل او په عبادت بوخت وو، اوس هلته پخواني آبادي او برم دومره محسوس نه دي.
هغه لرغون پېژندونکې چې د لومړي ځل لپاره يې ددې سيمې د فرهنګي مظاهرو، عقيدو او معماري په هکله زياتې څېړنې ترسره کړي او دغه سيمه يې له پخواني اوږدې زمانې راهيسې د بودايي معبدونو او بودايي آئين د پيروانو پر باب معرفي کړي ده، هغه د ويليام سمپسون (W. simpson) په نامه يو لرغون پوه ؤ په دې سيمه کې د جاپان د کيوتو د پوهنتون لرغون پېژندونکو هميشه څېړنې ترسره کړي دي او د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختیځو سیمو د سمڅو، معبدونو، ستوپو، تجسماتو او داسې نورو اثارو په اړوند اود هېواد په فرهنګي تاریخ کې یې خورا ګټور معلومات ورزیات کړل د باسول سیمه چې د بودايي آئین یوه اړونده سیمه ده، هغه شمېر اثار او نښې نښانې چې نوموړو لرغون پوهانو کشف کړي، د څلورمې او پنځمې میلادي پېړۍ پورې یې اړه درلوده. د باسول د هنري او د معمارۍ شتمني او دهغه د سمڅو صورت بندي یې بې له شکه د ګندهارا د هنري مدرسې اغېزمنې ده، هغه ختېنې او ستوکې مجسمې او په بېلا بېلو مواردو کې بودايي دیوالي انځورونه د بامیانو د سمڅو د هنري مکتب د ۵۵ متري او ۳۸ متریزې مجسمې د رواقونو او ګندهارا د حوزې د وروستیو دورو د تاریخي آثارو سره ورته والي لري، چې د مهندسي سبک او شیوه اودهنري محاسبو ترکیب بندي یې په هندي سبک او شیوه دي او لکه چې په بامیانو کې دغه ترکیبونه د ساسانو -ګوپتا د هنر سره ورته والي لري.

هیوان تسانګ چیني سیلاني په اومه میلادي پیړۍ کې د نګاراهار او دهغه له اړوندو سیمو څخه کتنه کړي، او نوموړی له ۲ زرو بودايي راهبانو او برهمنانو او له سلو معبدونو څخه چې دمهایانا په طریقه وو، یادونه کړې ده او له ۳۰۰ تنو نورو راهبانو څخه چې د نګاراهارا په شمالي غرونو کې موجود و هم یادونه کړې ده چې ممکن د باسول د شمالي برخې په دوام دهیوان تسانګ د رپوټونو له نمونو څخه به وي ښايي وویل شي، چې د باسول دا بودايي سیمه لا زیاتو مسلکي څېړنو ته اړتیا لري او ممکن له دې سیمې څخه لکه د نګاراهارا د نورو لرغونو سیمو په شان لرغوني اثار را سپړل شوي او لوټ شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوو د عدد څو اړخيزې ځانګړتياوې

يو شمېر عددونه څه د مطلق عدد په شکل او څه د رتبې عدد په شکل، څه د اشخاصو د ضميرونو په متابعت څه زموږ په ټولنيز ژوند کې او څه په پښتو ادب کې په تېره بيا په فلکوريکي ادبياتو کې خاص ځای لري او د دوئ پر بنسټ زموږ د ولسي ژوند د ځانګړتياوو د ښکلا ايزو اړخونو د هېنداری په توګه موږ ته يو شمېر بېلګې او مميزات راښوولای شي دا عددونه په بېلا بېلو شکلونو په عمومي ډول په انګيرنو، متلونو، لنډيو عمومي اصطلاحګانو او نورو برخو کې ورګډ شوي، زموږ د پخوانيو او اوسنيو وګړو د پراخ استعمال موارد يې پيدا کړي دي چې له دې جملې نه د «۷» عدد د څو اړخيزو ځانګړتياوو په باره کې يو څه څېړنيز بحث کېږي.

**د اووه عدد د تقويم له مخې :**

له ډيرو پخوانيو زمانو راهيسې په عمومي ډول په ورځنيو محاورو کې تر بلې هرې پدېدې څخه چې زيات کارول کېږي د اوني يا هفتې نومونه دي.
هفته چې له اوو ورځو لکه شنبه، يکشنبه، دوشنبه، سه شنبه، چارشنبه، پنجشنبه او د جمعې له ورځو څخه عبارت ده، په زياترو ژبو کې يې نومونه شته دي، حتی په پښتو کې د شنبې، يو شنبې، دوه شنبې درې شنبې، څلور شنبې، پنځه شنبې او د جمعې له ورځې نه په غير نور سيمه ايز نومونه هم لري لکه خالي (شنبه) د ګل ورځ او د زيارت ورځ او داسې نورې.

**د رنګونو له مخې :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپله د طبعیت د منظرو په مظاهرو کې رنګ هغه طبیعي عیني پدېده ده چې په عمومي ډول په همیشني ډول د نړۍ او چاپېریال په هره برخه کې تر ستر ګو کېږي.
که په کوټلي توګه رنګ تعریف شي، نو هغه د ( نور ) اغېزه ده، هغه چې د جسمونو ظاهري بڼې ته بېلا بېل رنګونه ورکوي، او د فزیک له مخې هغه اغېزمنې ده چې په سترګه کې د نور د انعکاس له کبله رامنځته کېږي.
البته دا د نور هغه عام فهمه تعریف دي چې د پښتو اریانا دایرة المعارف په شپږم ټوک کې وړاندې شوي دي په دې اثر کې بیا د نور له منابعو څخه به غیر د هر جسم رنګ د هغه د نور د څرنګوالي پورې اړه لري د بېلګې په توګه د سپین نور که د یو سور ګل په پاڼو باندې ولوېږي نو د دغه ګل پاڼه بې له سور رنګه نور ټول رنګونه جذبوي او یوازې سور رنګ ته انعکاس ورکوي له همدې امله هغه سور په نظر راځي په همدې ترتیب د ونو د پاڼو شین والي او داسې نور.
مګر اصلي رنګونه چې د منشور په رواسطه ښکاربږي(۷) ښودل شوي دي. (۱) سور(سرخ)، نارنجي، ژیړ(زرد)، شین(سبز)، آبی، نیلی او بنفش د هماغه اثر ۱۰۸-۱۰۹مخونه.

- **په کمان رستم ( د بوډۍ ټال) کې :**

چې رنګین کمال ژېړه زرغونه او قوس قزح باندې هم یادېږي او د معمول له مخې د پسرلی شیبه ایز باران وروسته او د تالندي او بریښنا نه وروسته د فضا په لمنه کې ښکاربږي دغه ډېر ښکلي او په زړه پورې منظره یې یادو شوو تجزیه شوو رنګونو څخه ترکیب موندلي دي.

- **اوه آسمانونه یا ( د فضا اوه طبقې) :**

- چې د لوی خدای د یزداني قدرت لویه نښه ده له اوو طبقو څخه یې په دې ترتیب ترکیب موندلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱.لومړی طبقه له اوسپنې څخه ( اتمو سفیر )
۲.دو ېمه طبقه له مسو څخه ( سلتو سفیر )
۳.دریېمه طبقه له سرو زرو څخه ( اوزون سفیر )
۴.څلورمه طبقه له سپینو زرو څخه ( ایونو سفیر )
۵.پنځه طبقه له پولادو څخه ( اکوزه سفیر )
۶.شپږمه طبقه له جستو څخه ( اکمونو سفیر )
۷. ؟(۲) (۲)

- اوه جنتونه او (۷) دوزخونه هم له اووګونو مذهبي پدېدو څخه شمېرل کېږي.

د نظر په اتفاق سره د نړۍ د یو شمېر عجایبو له پلوه د اعجوبې خورا وتلي توب لري.

**۱.دمصر اهرام :**

دمصر اهرام په تدریجي توګه ۳۰۰۰ تر ۱۸۰۰ له میلاده دمخه ودان شوی دی او له ټولو نه ستر، مخکني او لرغونې یې ( ساکاراس ) دي، چې نسبت یې لوی فرعون ( خعوپس یا خوقوتي ) ته ورکول کېږي او په ګیزه ( جیزه ) کې د ابوالهول مجسمې ته نږدې په دیارلس جریبه ځمکه کې آباده شوي دي.

**۲.ځوړند باغونه :**

دا باغونه د هغې سیمې د یوې مقتدرې ملکي ( سمیر امیس ) له خوا په ځانګړې اسلوب جوړ شوي دي دوی اصلي منظره یې د یو لوی رودګي چې د پاچهي مانۍ تر څنګه تېریده ښکارېدله او داسې په ښکارېدل چې ددې بڼ ونې ټولې نسکورې دي.

ددې نسکورو باغونو د جوړونې نسبت د بابل پاچا ( بخت نصر ) ته هم کېږي چې ۶۰۰ کاله تر مېلاده دمخه نوموړي پاچا خپله ملکه دهغې د خوشالتیا له یوې غرنۍ سیمې څخه د ځروبیودي لرونکې سیمې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوستلي وه د باچا په امر پنځه پوړيز نسکور باغونه چې له هر يو پوړ تر منځه فاصله يې ۵۰ فټه وه جوړ کاندې.

**۳.د زئوس مجسمه :**

د يونان د خدايانو لوی خدای چې روميان ورته ( ژوپتيژ ) وايي د ناستې ځای دا لپ په غره کې ؤ چې ددې خدايانو ( نفوذ باند ) يو نامتو هنر او مجسمه جوړونکي ( قيدياس ) ( ۴۳۱-۵۰۰ ) ق م د آلپ په غره کې دا مجسمه جوړه کړه ددې مجسمې تنه له عاجو، کالي يې له سو چه سرو زرو، سترګې يې له الماسو، ږيره يې له ياقوتو او زمردو څخه و.

**۴.د اپولون مجسمه :**

دا مجسمه چې د يونان او روم د خدای ( دن ) يوه لويه مجسمه وه د ( رودز يا اودس ) په خليج کې د مديترانې د سين په غاړه ودانه شوی وه. دې ډېرې لويې مجسمې سل فټه لوړوالي درلود او کښتيو کولای شو چې ددې مجسمې د دود لينګيو له منځه څخه چې په دو ستنو ولاړه وه تېره شي.

دا مجسمه د (رودز) په نامه هم يادېږي له دې مجسمې څخه د کښتيو د تګ لارې په مقصد هم استفاده کېږي، د مجسمې تر سترګو شاته يو لوی او قوی سمندري څراغ ايښودل شوی چې له لېرې ليدل کېده، همدارنګه ددې مجسمې په لاس کې يو څراغ ايښودل شوي چې د ځينو توکو په سبب په شپو کې بليده.

دا مجسمه په کال ۲۲۴ تر ميلاده دمخه د يوې سختې زلزلې په سبب له منځه لاړه.

**۵.د دماين ( ارتمس ) معبد :**

دا معبد د يوې پېړۍ په اوږدو کې جوړه شوي ؤ د سپينې مرمرينې ډېرې حيرانوونکو نقاشيو لرونکي وه په پنځم ق م کې د ( قافه سوس ) په ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ( اژه ) د رود تـر څنـډه پـروت و ولاړه وه دا معبد **۴۲۵** فټه سور ور **۱۲۵** مرمرینې ستنې یې درلودلې، د هرې ستنې لوړوالي یې نږدې **۵۰** متر ؤ.
په **۳۵۲** میلادي کې دا معبد د ( اردستوسس ) لـه خوا وسوزول شو ، چې د مقدوني سکندر د زیږېدنې د شپې سره مقارن وه، بیا وروسته ( تشو دور ) دا معبد ودان کړ خو بیا د وحشي ( ګوتیانو ) د یرغل پـه وجه چې پـه اروپا یې وکړ د ( الاریک ) له خوا وران شو.

**۶.د موسولوس مقبره :**

دا شخص یعنې ( هالیکارناس ) ( کاری ) پـه کوچینې اسیا کې د یو ښار واکمن ؤ ( **۳۵۳** - **۳۷۷** ق م ) د موسولوس تـر مړینې وروسته ددې کونډې ( اریتمس ) چې د خپل مېړه سره یې زیاته مینه درلودلـه دا پرتمینه مقبره جوړه کړه هغه مرمرینې ستنې چې ددې قبر شاوخوا تـه ولاړې وې د یو مخ څوړي سطحې غونـدې بانـدې تعبیـه شـوي وي پـردې سطحه یـوه ارابـه ایښودل شوې ده.
دا مقبره هم د یوې زلزلې په وجه ویجاړه شوه او د اثارو ټوټې یې پـه برتش موزیم کې شته دي.

**۷.د مصر د سکندریې د سین فانوس :**

د نړۍ د نورو تجارتي مرکزونو د رقابت له مخې دا لوي سمندري څراغ جوړ شو چې د (زمرد ) د مجسمې څلور برابره یعنې ۴۰۰ فټه جګ ؤ ۲۰۰ کالـه تـر میلاده دمخه د ( پټولمي فیلادنفوس ) لـه خوا جوړ شو او هغـه خدایانو تـه وبخښـه، ددې څراغ پـه پاسـني برخـه کې بـه اور بلېـده او شغلې بـه یـې د شاوخوا د لویو هېندارو له انعکاسه خپرېدلې او لـه لېریو مسافو څخه بـه یې کښتیو تـه لارښوونه کوله، دې څراغ تـه د خرو دکاروانو پـه واسطه د سون توکي ور پورته کېدل څو چې د دوو لاملونو په وجه له منځـه لاړ پـه ۴۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلادي کال کې یې یوه برخه وسوځېدله او پاتې برخه یې **۱۳۷۵**م کې زلزلې ویجاړه کړه(۳).

ددې اثر په حواله د چین دیوال، په مصر کې د (ابوالهول) مجسمه، په اتیالیا کې د (ذپیتر) برج هم د نړۍ له عجایبو څخه شمېرل کېږي په همدې ترتیب تاج محل (په هند کې) او د هېواد په کچه د اوو ګونو عجایبو څخه د بامیانو بتان، د جام منار، د کابل د شیر دروازې او اسه مایي پر غر ګوټو دیوالونه، په بلخ کې د خواجه پارسا جومات، د کندهار چهل زینه او داسې نور هم شمېرل کېږي ده.

**(۷) عدد د عنعنوي او دودیزې ځانګړتیا له پلوه :**

هره کله چې د یوې نوې واده شوي ناوې د مېړه په کور کې اوه ورځې تېرې شي نو د ناوې د مور او پلار کورنۍ یې د څو شپو ورځو د تېرولو په خاطر خپل کور ته بیا یې چې د دغه دود ته اوومه وایي او هر کله چې د مېړه کور ته ورستنېږي چې پلرګني ورته د خپل پرنې کورني له میراث د نښې په توګه ورته مېږه، وزه، خسي (بچه ماده ګاو) کټې (بچه ماده کاومیش) او داسې نور ورکوي.(۴)

**۲.د ماشوم د زیږېدنې اومه ورځ :**

دا دود د ماشوم له زیږېدنې څخه اوه ورځې وروسته په دوو شکلونو ترسره کېږي هر کله چې په کومه کورني کې د ماشوم له عمره اوه ورځې تیرې شي نو ویل کېږي چې (ماشوم له شپو نه وراته) په دې مفهوم چې ګوندې د هغه د مړینې خطر کم شو، بله دا چې په دې نېټه د هغه مرچجي ورته وایي د یوه محفل په ترخ کې ترسره کېږي، چې په عمومي ډول د نوم ایښودنې صلاحیت د کورني د مشر او مشرې پورې اړه لري. په دري کې دې عنعنې ته (شب شش) ویل کېږي.

**۳.دماشوم اوه کلنۍ :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مهال چې د يو ماشوم اوه کاله تیر شي نو په طبیعي ډول یې د طفولیت غاښونه لویږي نو په عامه اصطلاح د ماشوم د عمر دغې مودې ته اوه کلني وايي.

- د (٧) عدد په پښتو نارو، لنډیو، متلونو او نورو اصطلاحګانو کې زیات موارد لري.
- دنوروز د نوی (کال) د دودونو له پلوه د (٧) عدد ځانګړنه:

**١.هفت میوه :**

دا هغه نوروزی دود دی چې هر څوک ورسره پوره اشنایي لري او په زیاترو کورنیو کې په تېره په ښاري کورنیو کې سرته رسېږي.

د نوی کال په شپه ځینې کورني اوه ډوله وچه میوه لکه پسته، بادام، چارمغز، کشمش، سنځلې کشته او چلغوزه تر پر یمنځلو وروسته په اوبو کې جوشوي او ترکیبي شربت ځینې جوړېږي او دنوی کال په سهار ترې د کورني غړي او یاورکره ورغلي کسان استفاده کوي.

**٢.**هفت سین هم دی نورزوي دود ته یو ورته دود دي.

اخځونه:

١ـ شل غوره څېړنیزې مقالې، رازقي نړیوال، خیبر خپرېدویه اداره ١٣٩٣کال، ١٢مخ.

٢.کوچني دایرة المعارف، خطي اثر، رازقي نړیوال.

٣ـ پښتوآریانا دایرة المعارف، ټ ٢-١٣٥٥ کال دولتي مطبعه ٥٢٧-٥٢٨مخونه.

**٤.**عددونه او اندامونه فلکوریکې او کلتوري بحث، رازقي نړیوال، ناچاپه اثر د پښتواتنوګرافیکي څېړنه، رازقي نړیوال، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت د ازادي مطبعه ١٣٨٨ کال ١٣٩مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د امیر عبدالرحمن خان د زماني عمراني یادګارونه

لکه چې څرګنده ده که څه هم د امیر عبدالرحمن خان د زمانې د یادګارونو په رامنځته کولو کې د بهرنیو هېوادونو د ساختماني سبکونو او عمراني ځانګړنو څخه کار اخېستل شوي دي خو په واقعیت کې دا ټول دد ې هېواد د استادانو او صنعتګرانو او معمارانو د مهارتونو ویاندي ښېلګې دي او که له واقعیت سترګې پټې نه شي د امیر عبدالرحمن خان د واکمنې په دوره کې چې د دولت داري په پوهي سربېره یو فرهنګي شخصیت و په هېواد کې یې په نوی سبک د ډیرو ښکلیو ودانیو د جوړولو سره ځانګړې مینه درلوده، چې په کوټلي ډول په دې توګه ښودل کېدای شي.

- د کابل اوسني جمهوری ارګ.
- د اوسني زرنګار په پارک کې عمارت، ګلستان سرای او عمارت بوستان سرای
- عمارت مهمانخانه:

چې د کابل ولایت د اوسنیو ادارو په شکل یې بڼې بدلون موندلي دي.

- د شهرآرا برج:

چې په شپږ رخه ډول په څو منزلونو کې د تپه ماران په ساحه کې جوړ شوي او همدا اوس د یوې کتيبې د شتون سره په خپل حال پاتې دي.

- کوتي لیندنې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د فرهنګ ضد عناصرو په واسطه وسوزول شو او اوس يې نښه نښانه پر ځای پاتې نه ده دا کوتي هارتل پل ته نږدې په شمال خوا کې پرته، او د امان الله په دوره کې د کابل لومړني راديو له دې ودانۍ په خپرونو پيل وکړ.

- د کوتوالی مشهوره ګنبده:

چې پر ځای يې د خيبر رستوران او سينما جوړه شوې ده.

- د بابر بڼ دملکي حرمسرای:

چې د کابل ښاروال دپيلوم انجينر محمد يونس نوانديش په وخت کې يې جګړې ځپلې کنډواله بيا ورغاول شوه.

- عمارت باغ چرمګر:

د ملالۍ ليسې په سيمه کې ممکن د انتانۍ روغتون ودانۍ وي.

- عمارت سرای عليا: چې اوس يې نښه نشه.
- د عيدګاه جومات او شاهي جومات.
- د پل خشتي جومات: چې په خپل ذات کې د کابل ښاريو بې ساري جومات دي.
- سلام خانه عام او سلام خانه خاص: چې سوزول شوی او پر ځای يې د کابل سينما جوړه شوه او اوس يې په سيمه کې د استقلال د ليسې ودانۍ ده.
- د باغ بالا عمارت: يعنې د باغ بالا سمبوليکه اوښکلي کوتي، چې دامير اداري مرکزؤ بيا وروسته ميلمستون او د موزيم لپاره ترې کار واخيستل شو له نيکه مرغه د وروستنيو جګړو په مهال دومره زيانمنه شوې نه ده.
- په زرنګار پارک کې: په خپله د هغه امير مقبره چې په يو پوړيز ډول وه او وروسته د امير حبيب الله خان په دوره کې په سمبوليک ډول دوه پوړيزه او ګونبدي شوه او اوس په خپل حال پاتې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطلاعاتو او کلتور وزارت د آبداتو د ساتنې او څارنې د رياست مقر دی.

- عمارت جهان آرى خلم: چې په خلم کې پروت دی او د خلم د جهان نما د ماڼۍ په نامه ياديږي يو ښکلي باغ لري او په دې وروستيو کې بيا رغول شوی دی.
- د پغمان سلام خانه: چې يوازې کنډواله يې پاتې ده.
- د مهتاب کلا ماڼۍ او باغ: چې د هغه امير مقر دولتي مېلمستون و او تر جګړو د مخه د يوې عسکري قطعه مقر شو، اوس يې دومره ښه نښانه پاتې نه ده.
- د چهلستون پخواني ماڼۍ: چې د باغ هندو په سيمه کې جوړه شوې ده او بيا وروسته سمبوليکه ماڼۍ جوړه شوه، اوس يې يوازې اسکليت پاتې دی.
- د هرات د زرنګار عمارت
- د جلال آباد شاهي ماڼۍ: چې له نيکه مرغه روغه پاتې او د ښاغلي شير زی د ولايت په وخت کې بيا رغول شوې ده.
- د منزل باغ وداني:
- د کندرهار ښار ته په نږدې برخه کې يو شمېر پلونه
- په کابل کې يو شمېر قشلې: د کلوله پشتې استحکامي کلاوې چې اوس هم په خپل حال پاتې دي.
- په خوست، دهدادي او هرات کې پوځي قشلې، زما په عقيده د ننګرهار د پخواني فرقې قشله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باغ مملە یا نملە ننگرهار

از باغهای سمبولیک، نفیس ترین و پر لطافت ننگرهار قدیم یکی هم باغ مملە یا نملە می باشد که از جملە یادگار های عمرانی دوره تیموریە محسوب میشود.

**وجه تسمیه مملە یا نملە :**

مملە به زبان انگلیسي است و به زبان عوام یا عامیانه نملە که مفهوم مورچە را افاده می کند نامیده می شود، روایت است که حضرت سلیمان (ع) مورچە را در آنجا مهمانی داده پس به اساس آن مردم محل نام منطقە خویش را نملە گذاشتند.

همچنان مم به لفظ هندی، زنان انگلیس را مم یعنی میمه می گفتند، فلهذا مملە لە لفظ انگلیسی به زنان اطلاق می گردید که انگریز ها بخاطر تفریح به این باغ می آمدند.

نام باغ نملە به دو اصطلاح تحریر گردیده یعنی مملە و نملە که این هر دو نام دربین مردم مروج بوده و به آن هر دویش یاد می کنند. (پس منظر تاریخی ص ۱۵۱).

در مورد وجه تسمیه این باغ نویسند مقالە متذکره فوق محمد رحیم اندرابی می نویسد: ... باغ را شاجهان اعمار نموده و نام نملە را بر آن گذاشته زیرا نام دختر شاه جهان نملە بود البته این نظر قابل تامل است.

وجه تسمیه این باغ هر چه بوده باشد بحث مزید و مستند را ایجاب می کند که نسبت نداشتن مأخذ معتبر در خصوص از تفصیلات مزید صرف نظر میشود.

**موقعیت باغ مملە :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلاً نمله قریه ایست که در ۳۶ کیلو متري جنوب غرب شهر جلال اباد موقعیت داشته در ۲۰ درجه و ۲ دقیقه و ۱۵ ثانیه طول البلد شرقی، ۳۴ درجه ۱۸ دقیقه و ۱۵ ثانیه غرض البلد شمالی موقعیت دارد که به شکل مربع ۲۲۵۰۰ متر مربع و یا دارای صد جریب مساحد بود زمین را احتوا می دارد.

اگر از نگاه جغرافیوی موقعیت نمله اارئه گردد باغ نمله در وادی خوگیانی در پائین سپین غر و یا در دامنه پایینی (سفید کوه) واقع است. که شاهراه سابقه جلال اباد و کابل از نزدیکی این باغ می گذشت یعنی در مسیر راه کاروان رو به خصوص بر سر راه کابل و نیم قاره هند احداث گردیده است و یا این باغ که در پشت وادی سرسبز سرخرود بعد از یک دشت خشک موقعیت دارد.

**بانی وتاریخ احداث باغ مملە :**

قبل از آنکه این باغ احداث شود درین محل مردمان زنده گی نداشتند و حیثیت یک ساحه جنگلی رادارا بود.

در مورد احداث این باغ در بین مردم عوام نظریات گونه گون آنهم به قسم فلکوریک موجود بوده بعضی ها به این نظر اند که باغ نمله را پری ها ساخته اند که درین باغ باغبانان سابقه پری ها را دیده اند و در بین این پری ها از نام «بدرجمال» و معشوقه افسانوی سیف الملوک ذکر رفته است: و این ادعا را عبدالحکیم باغبان سابقه باغ چنین ذکر داده است. قبل از احداث این باغ در آنجا دشت و جایگاه پریان بوده که خودش شاهد برخورد به آنان است.

ولی موضوع اینکه موثق و باور کردنی است که این باغ در عصر شاه جهان اعمار گردیده است چنانچه عبدالحکیم باغبان موصوف گفته است در باغ سنگ نوشته بود که مربوط دارا شکوه پسر شاه جهان و در سنگ مرمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقش گردیده و انگلیس ها آنرا توسط فیل به هند برده بود این بیت از آن سنگ نبشته است.

اسم من دارا شکوه

یک باغ ساختم در بیخ کوه

اگر متن سنگ نوشته واقعاً همین بوده باشد می تواند چنین پنداشت که باغ نمله در عهد شاه جهان تهداب گذاری شده اما در عصر دارا شکوه پسرش به پایه اکمال رسیده است.

باید گفت که شهزاده خرم ملقب به شاه جهان، پسر جهانگیر نواسه جلال الدین اکبر و کواسه محمد ظهیر الدین بابر بود.

به گفته مرحوم مسافر خان رئیس خیل عضو علمی مرکز زبان و ادبیات اکادمی علوم، باوجودی که دوره حکمروایی شاه جهان در هند سپری شده اما بسا کارهای عمرانی را به پایه اکمال رسانیده است که از جمله آنها باغ تاریخی نمله را می توان نام برد، این باغ در ماه شعبان المعظم **۱۰۵۲** هـ ق احداث شده اما بر مبنای که مرحوم احمد علی کهزاد در صفحه **۱۹۷** م **۲۱۲** کتاب جلد اول بالاحصار وبیشه های تاریخی آن ارائه داشته نام و یادی از منطقه نمله برده است نه از باغ نمله، مرحوم کهزاد یاد آور می شود که شاه جهان در راه عزیمت به هند در دهم ماه رجب **۱۰۵۷** هـ ق به باغ نمله رسید عمارتی که سال گذشته در آن امر اعمار تعمیر داده بود به پایان رسید و مورد استفاده قرار گرفت و باغ نمله درین وقت از طرف شاه جهان « خلاف قول قبلی» به باغ فرخ افزا مسمی شد و معلوم میشود که این تعمیر همان تعمیر یست که در هند پایانی آبشار ها در سه طبقه ساخته شده بود.

**سبک ساختمانی باغ ممله :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

در خصوص انگیزه احداث باغ نمله محقق محمد رحیم اندرابی در شماره اول سال ۱۳۸۴ مجله باستان شناسی به این شرح معلومات ارائه نموده است.

زمانی که پسر کوچک شاه جهان از باغ های باغبانی سرخرود و چار باغ آگاهی حاصل نمود ، از پدر خود تقاضا کرد که برای او نیز یک باغ اعمار نماید شاه جهان در جواب پسرش گفت: برای شما در دامنه های سفید کوه باغی بنام نمله اعمار می نمایم. نخست شاه جهان از طریق نغاره زدن مردم نمله را دعوت نموده برای کندنکاری تهداب باغ به کار آغازیده و به واسطه نغاره دوم از مردم منطقه دعوت نمود تا برای نهال شانی و کندن چقوری ها اشتراک کنند ، بعداً در عصر شاه جهان به صورت منظم سرکهای باغ کشیده شد که طول آنها ۳۰ -۴۰ متر می باشد و به شکل مرتبه که نمایانگر دوره مدنیت مغلی است، گرد باغ به شکل مربع برای زراعت بوته های زینتی و گل ها در نظر گرفته شده، در کنار سرکها جویچه ها و خاطر آبیاری پنجه جنار ها کشیده بود.

سرک عموماً باغ شمالاً و جنوباً امتداد داده شده، نظر به وسعتی که سرک دارد ۲ یا ۳ موتر همزمان در آن حرکت کرده می تواند ، ارزش تاریخی بیکه باغ نمله آنرا دارا است در افغانستان و منطقه مثل و مانند آن وجود ندارد که به عین شکل و نقشه باشد. (۱۵۲ص)

برای ابیاری و ایجاد فواره ها و شرشره ها ، آب از فاصله در حدود ۲۵ کیلومتر، از منطقه سر کی خیل خوگیانی با حفر نمودن کانالی به عمق یک متر وعرض ده متر به باغ آورده شده است و از برکت همین آب فراوان بود که بعد از احداث آن در اطراف باغ قریه ها نیز بنام نمله اباد گردید.

این باغ از نگاه سبک ساختمانی خود حایز مزیت های فراوان می باشد. طبقه بندی زمین و سبک اعمار شرشره های آب باغ از سبک معمولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

باغها نماینده گی می کند که در عصر مغلی های هند در نیم قاره هند و افغانستان اعمار شده اند.
وضع ظاهری باغ نشان میدهد که در یک ساحه نشیبی قرار گرفته و آب با آرامی و با تمکین وجوی های عریض و کم عمق سنگی جریان یافته و به منظور به میان آوردن شرشره به آب مذکور آبریزه هایی به ارتفاع تا یک و نیم متر اعمار گریده است.
در بلندی آبریزه ها جاهای برای گذاشتن شمع یا چراغ در نظر گرفته شده است که در هنگام شب به مقصد تنویر و زیبایی بخشیدن به باغ و شرشره آب چراغها و شمع های رنگارنگ در آنجا روشن می گذاشتند و از مقابل نور آن لایه نازک آب فرو می افتاد و به این گونه فضا و صحنه شاعرانه و ظریفانه را ایجاد می کرد.
در ساختمان آرایشی و تزئینی باغ، چهار جوی به طول تقریباً ۳ متر و یک فواره نسبتاً بزرگ حوض کم عمق و چهار آب ریز مقبول اعمار شده است.
درست در قسمت پاینترین آبراه در مقابل شرشره ها و آبریزه های قصر سه منزله یی قرار داشته است که امرا از آنجا به تماشای منظره دل آویز باغ و شرشره های آب می نشستند. متاسفانه امروز از آن قصر با شکوه جز تل تهداب به خاک خفته چیز دیگری باقی نمانده است.
این قصر در محلی از باغ اعمار شده که از طرف روز و شب بیننده می تواند از شرشره فواره و جریان آب لذت برد ، چه بسا که از طرف شب در روشنی چراغ ها منظره شاعرانه تر را بخود می گرفت. ( از مقاله محترم تازه ).
قرار اظهار عبدالحکیم باغبان باشی ۷۵ ساله از مدت ۴۰ سال به این طرف در باغ نمله مصروف خدمت است: « باغ نمله دارای تاریخ بوده و تاریخ آن در یک لوحه سنگی « که قبلا نیز اشاره شد» نوشته شده بود وقتی که

(c) ketabton.com: The Digital Library

انگلیس ها به افغانستان لشکر کشی نمودند لوحه سنگ باغ را توسط فیل به هند برتانوی بطور یغما و غارت انتقال دادند».
عبدالحکیم از پدر خود عبدالسلام نقل قول می کند که سرگذشت بردن کتیبه مذکور به همان طور بود که گفته شد. ازین که در باغ نمله کدام نوع درختان تزئینی و میوه دار و گلها به آن زیبایی و ظرافت بیشتری داده بود، در مجله مذکور موضوع به این شرح دنبال شده است در باغ نمله صدها درخت وجود دارند که از آن جمله می توان از درختان سرو، صنوبر، ناجو، پنجه چنار، لوکات، نارنج، لیمو، مالته، سنتره، سیب و ... نام برد.
در زمان امیر حبیب الله خان برای غنامندی باغ انار از قندهار، لوکات و نارنج را از هند آورده است.
برعلاوه اشجار متذکره در باغ انواع زیاد گلهای زیبا مانند گل نرگس، گلاب، مرسل و انواع بوته های زینتی دیگر وجود دارند در کرد های مربع شکل باغ درختان انار نیز وجود داشت، وقتی که پروژه کانال ننگرهار احداث می گردید از قوریه های باغ نمله نهال های مثمر و غیر مثمر، بوته های زینتی و انواع گل ها تهیه و به فارم های ننگرهار و نهال این قوریه ها در قسمت های مختلف فارم ننگرهار غرص گردید. به گفته عبدالحکیم موصوف در سابق این باغ نهال های درختان ناجو، سرور و صنوبر به کابل، چهاردهی غوربند و بدخشان از طریق دولت توزیع می شد. در باغ نمله آنقدر درخت ها و گل ها وجود دارد اگر شخصی به یک طرف باغ نگاه کند در گوشه دیگر باغ کسی را دیده نمی تواند، در سابق بخاطر حفاظت باغ ۱۲۰ باغبان موظف گردیده بود. از بسکه این باغ از زیبایی و نفاست بسزایی برخوردار بود یک تعداد سیاحان داخلی و خارجی به دیدن آن می آمدند. ( ۱۵۳ )

**باغ نمله در عصر شاهان متاخر افغانی :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **در عصر امیر حبیب الله خان :**

تاجایی که مبرهن است امیر حبیب الله خان از جمله شاهانی بود که به احداث قصر ها و باغها علاقه مندی به خصوص داشت، همان بود که در زمینه بازسازی و نوسازی باغ نمله بی تفاوت نماند و به امر موصوف در باغ دو باب تعمیر به شکل پخته کاری و عصری اعمار گردید که یکی آن در وسط باغ و دیگری بطرف باغ و دیگری بطرف شمال باغ موقعیت داشت در مقابل تعمیر شمالی به عرض ۱,۵ متر آبشار تمدید شد ، چونکه باغ در سطح مایل قرار داشت، آبشار باغ تقریباً دو متر ارتفاع را دارا می باشد فاصله یک آبشار از آبشار دیگر به اندازه سه متر عریض و تقریباً دارای ۳,۵ متر طول داشت در بین آبشارها حوض کلان موجود است که حوض مذکور به اندازه ۵ متر ازطریق جوی زیر زمینی پخته کاری شده آب به دیگر حوض ها انتقال می یافت زیرا آب به گونه فواره وجود داشته که آب را به ارتفاع سه متر فوران داده و توسط نل جوی زیر زمینی آب حوض کلان به دو حوض دیگر وصل می گردد.

زماني که امیر حبیب الله خان به باغ به سیر وتفریح می آمد در قصر شمالی باغ رحل اقامت می گزید ، تاقچه های آبشار ها را « چنانچه قبلاً از آن یادآوری شد» روشن می نمود از بالای شمعدان ها آب می ریخت، فعلاً قصر شمالی به مخروبه مبدل شده اما قصر وسطی بجای خود باقی مانده است.

امیر حبیب الله خان «۱۵۰» کنیز داشت که در باغ گشت و گذار می کردند و کالای ابریشمی به تن می نمودند ، امیر به تماشای آنها می پرداخت، از طرف شب زنان و کنیزان در باغ قدم می زدند امیر در مقابل حوض از تعمیر دو منزله که وجود داشت به زنان نگاه می کرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درین دوره تعدادی از نیمه چنار ها از قسمت تنه احتراق نموده، سوختگی درختان مذکور به وجود آمده باعث ترس و هراس زنان و کنیزان از طرف شب می شد و ایشان به امیر پیشنهاد و عرض نمودند که قسمت سوختگی درختان پنجه چنار با خشت و گچ به عین رنگ درخت پنجه چنار پر کاری نمایند اکنون به همان شکل باقی است.

**در عصر امیر امان الله خان :**

باوجودی که اعلیحضرت امان الله خان به احداث این عمرانات مسکونی و تفریحی علاقمندی خاصی داشت، اما مصروفیت های کشوری و لشکری به او اجازه نمی داد تا دور از مرکز یعنی کابل این چنین یادگار های عمرانی را از خود بجا بگذارد قرار گفته عبدالحکیم باغباباشی باغ نمله، گفت که اعلیحضرت امان الله خان ندرتاً به باغ نمله می آمد و چیز مهمی که به انتساب این باغ به آن اقدام نمود سوچبورد تلفون را به باغ نمله تمدید کرد و از سوچبورد این تلفون به کابل، جلال اباد، سروبی، ولسوالی حصارک، علاقه داری ماما خیل، شینوار، ولسوالی خوگیانی و علاقه داری بچیرو آگام لین های تلفون تمدید شد.

- در دوره های محمد نادر شاه و محمد ظاهر شاه در مورد این باغ اجراتی بعمل نیامده که قابل یادآوری باشد اما گاه گاه به این جا بخاطر تفریح آماده و در کوتی باغ استراحت می کردند. در نتیجه باید گفت چون این باغ از باغهای دارای لطافت ها است که به سبک های مغولی احداث گردیده و از باغ بابر کم نیست پس باید در مرمت کاری و نوکاری آن اقدام صورت گرفته تا مثل سابق نه تنها تفریح گاه خاص و عام بلکه برای خارجی ها نیز محل قابل دیدن باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چهل ستون دنوبرجه کلا

د کابل د نوبرجه کلا چې اندکي، هند کي، د کي او سردارانو په کلا هم شهرت لري د کابل د چهاردهي د ډنډ په ختیځه برخه او د چهلستون د ماڼۍ په جنوب لویدیځه برخه او د ریشخورو د یادګاری منار شمال لویدیځې خواته په یوه همواره مځکه کې پرته ده.
داچې پخوا د چهلستون ماڼۍ او باغ تردې د درانې تیمور شاه د څلویښتم عمر د تلین په مناسبت دهغه د زوی درانې زمان شاه له خوا له ۱۲۱۰ هـ ق تر ۱۲۱۳ هـ ق د زنبورک دغره د مخ په ختیځ را ببلې شوي ډبریني غونډۍ له پاسه جوړه او دا سیمه په چهلستون ونومول شوه او د هندکي نوم له عمومي محاورې ولوید.
او دغې سیمې د اندکي نوم ځکه درلود، لکه د دهمزنګ جوی هندک، ددې سیمې د لرغونو اثارو د لرلو په وجه د یو هندو پورې تړاو درلود.
او د سردارانو کلا ورته ځکه ویل کېږي، چې د سردار نواب عبدالجبار خان له خوا په دولسو جریبو ځمکه د محمد زایانو د کورنۍ د پاچهي د امیر دوست محمد خان (۱۲۵۹هـ ق) د پاچهي دورې په پېل کې یعنې له او سمهال څخه ۱۷۲ کال دمخه جوړه شوه وه.
سردارنواب عبدالجبار خان د نوموړي امیر مشر وروراو ستر سلاکار و نو ځکه د سردارانو په کلا هم مشهوره ده.
د نو برجه له برمه ډکه لویه، لوړه او د هسکو شاهبرجونو لرونکې کلا زموږ د هېواد دیارلسمی هجري پېړۍ له لرغونو ابنیو او د کابل د نو برجه کلاګانو څخه یوه کلا ده چې اوس یې یوازې حصار (دیوالونه) او له نهو برجونو څخه اته برجونه تقریباً په خپل حال پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه دا کلا له دې امله په نو برجه یادېږي چې په دریو بازوګانو کې یې (۸) منزلونو په لوړوالي او تقریباً پنځو مترو په قطر یې لوی برجونه درلودل او د عمومي مدخل (لویې، دروازې) دواړو خواو ته په متناظر سبک دوه شاهبرجونه موجود وو چې په مجموع کې (۹) برجه کېږي.
د کلا دیوالونه اته مهري (ردې) او سرماتي (سرمهره) لري او د برجونو لوړوالي یې له دیوالونو څخه تقریباً یو نیم چند نور هم زیات دي.
ددې کلا د دیوالونو سور دومره و چې د پاسه پرې تګ راتګ کېده، د کلا حصار له هغو ختو څخه جوړ شوی چې هغه د پیلانو د پښو په ګرځېدلو پخه او د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې په خمیره کېدله او طبیعي ده چې د ډېر محکموالي درلودونکي وه چې لا تراوسه پورې، پرته له سرماتي او تهداب څخه په خپل حال پاتې او د جوي شرایطو او د زماني په تېریدلو سره لا روغه پاتې ده.
د کلا په تهداب کې که څه هم د زنبورک غره په نږدې برخه کې پرته او د ډېرو زیرمې ورته نږدې وي په تهداب کې یې له ډبرو کار نه دي اخېستل شوي، خو په وروستیو وختونو کې یې په تهداب کې د ښوره ناکتوب په وجه ځای ځای پر چالي ډبرې کارېدلي دي د شاهبرجونو د ردو پوخوالي په خاطر په کې څو مهري ترمنځه د لرګیو کوندي چې د بشونو (دستکونه) په شکل دي کاریدلی دي. د کلا د حصار تیر کشونه د سپکو او څه درندو وسلو او ځار لپاره په یو ډول تعبیه شوی دی. د کلا د لویې دروازې په یوه پله کې لکه د اوسمهال یو کوچنی دروازه اېښودل شوي ده چې په همیشني ډول ترې د وتلو ننوتلو لپاره کار اخېستل کېده چې عمومي دروازه به په اضطراري (بیړنیو) حالتونو کې ببرته کېدله.
د کلا د عمومي دروازې دننه یوه ډیوډي موجوده ده چې هلته به په کې د کلا ساتونکي او پهره داران اوسېدل، ددې ډیوډي د دیوال په جنوبي دیوال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس هم د طاقونو ننبې له منځه تللي نه دي وايي چې دعمومي دروازې په خوله کې يوه کړۍ ( حلقه ) ځوړنده وه او چا چې به د نواب له امر سرغړونه کوله هلته به په دار ځړول کېده که ددې کلا د عمومي دروازې او ډيوډي سبک وکتل شي نو په حقيقت کې د باختر د لرغوني کلاګانو د سبک کاپي ده چې په پخو کلاګانو او بالاحصارونو کې يې رواج موندلي دي او بېلګې په نورو لرغونو او پخوانيو ودانيو سربېره د کابل د بالاحصار د ښار د لاهوري دروازې کاشي دروازې د بلخ دروازې په ساختمانونو کې ليدل کېداى شي.

ددې کلا له دې امله چې دولتي پخه کلا نه وه نو ترې ګرد چاپېر د خندق ننبې نښاني نه ليدل کېږي.

له ډيوډي څخه دوهمه دروازه د کلا دننه بېرته کېدله، ددې کلا د غولې په منځ کې هېڅ وداني نه وي او دا ځکه چې دا کلا د اوسيدونکو لپاره د نهو برجو په (٨ ) منزلونو کې کوټې جوړې شوي چې په ځينو برجونو کې يې بېلګې اوس شته دى او بيا وروسته د کلا دننيو ديوالونو ته عصري خونې جوړې شوي.

د کلا غولې له يو لوى باغ څخه عبارت و چې ميوه داري او تزئيني ونې او په پلان شوو برخو کې يې ګلدانونه او ډول ډول ګلونه درلودل او دا باغ د بالاجوى له ويالې چې د کابل له سين څخه ريشخورو په حد کې را بېله شوي وه اوبه کېده د نو برجه کلا په مخامخ لويديځ بازو کې يو جومات درلود ، خو اوس دهغه په ځاى کور جوړ شوى او جومات دعمومي دروازې ته په نږدې برخه کې ودان شويدى.

په اوسمهال کې د کلا د نورو عصري کورونو په جمله کې يو کور د سردار وحيد الله نوابي پورې تړاو لري نوموړي د سردار حفيظ الله نوابي زوى، د سرادر عبدالله نوابي نمسي او د امير دوست محمد خان له ځلورم پښته او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسب یې د غازي امان الله خان کورني ته ور غزېږي سردار وحید الله خان چې یو څه معلومات؛ دده له خبرو اخېستل شوي په هېواد کې د تنظیمي جګړو د غمیزو په وجه وطن پرېښودلو ته اړ کړې شوي او بیا چې د بن تر فیصلو وروسته د موقتي ادارې تر جوړېدو وروسته هېواد ته راستون شوی دي وویل:

په دې وروستیو وختونو کې د کلا انګړ د سردار نواب عبدالجبار خان بابا د ورثې له خوا په خپلو منځونو کې وویشل شو چې دا او سني لس عصري کورونه په کې اباد شول چې د ځینو مځکه په پردیو خرڅه شوي هم ده او هغوی په کې استوګنځای جوړ کړي دي کورونو ته د کلا له عمومي دروازې څخه سرک په غیر منظم ډول جوړ شوي دي دا چې د کلا د حصار او لویو برجونو مسؤولیت دومره چاته ورخېرمه نه دي نو کېدای شي ددې بې توپیرې په وجه په راتلونکي کې د حصار په شمول هغه وسولېږي او شاهبرجونه یې را ونړېږي او د کلا دا پاتې برخه به په یوه کنډواله بدله شي ددې کلا د پاتې برخې شاته په دې ستونزمنه ده چې په یوه مشخص شخص پورې اړه نه لري او له بلې خوا د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت هغه د کلا له اوسېدونکو څخه را نیولای نه شي.

خو یوزاې همدومره امکان لري چې ددې تاریخي کلا چې په هېواد کې د پخوانیو کلاګانو یوه ښکلي نمونه ده، بهرنۍ برخې یعنې حصار او شاهبرجونه یې پلستر او مرمت کاري شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زرنګار پارک ښکلی سمبولیکه کوټۍ

د زرنګار پارک په سویل لویدیځ او د کابل ښاروالۍ د ودانۍ په شمال ختیځه برخه کې یوه یو پوړیزه کوټۍ شته، چې همدا اوس هم په خپل حال پاتې او د بشري ناورینونو څخه روغه رمټه راوتلې ده. له دې ودانۍ څخه اوسمهال د کابل ښاروالۍ د نشراتو د ریاست او یو لړ نورو شعبو لپاره کار اخېستل کېږي او د امیر عبدالرحمن خان له عمراني یادګارانو څخه شمېرل کېږي دا ودانۍ تقریباً لکه د کابل په نوي ښار کې د شاببو جان (د امیر عبدالرحمان خان دخور تعمیر) د دوه پوړیزې ماڼۍ غوندې سمبولیکه او په تناظر شکل جوړه شوې ده.

ددې ودانۍ په اړه د موخذونو د نه لاسرسۍ له امله لرغوني معلومات نشي وړاندې کېدای مګر یوازې د لرغونې پېژندنې د مجلې د ۱۳۸۴ کال د دویمې ګڼې په ۴۸ مخ کې په کوټلې توګه لیکل شوي دي:

«... کوم تعمیر، چې د کابل ښاروالۍ د ملکیتونو د مدیریت تعمیر بلل شوی دي، یو ډیر مدرن او سمبولیک یو پوړیز تعمیر دی، چې څلورو خواوو ته یې تزئینکاري شوي دي او په متناظر ډول رواق ډوله اورسۍ او دروازې لري، تعمیر خپل لومړی حالت ساتلی دی».

او د افغانستان د تاریخي اثارو او ابداتو د ساتنې او څارنې د رئیس ښاغلي عباسي په وینا: «دا ودانۍ لکه د زرنګار په پارک (پخواني بستان سرای) کې د امیر عبدالرحمن خان د مقبرې پخوانۍ یو منزله ودانۍ غوندې دهغه له عمراني اثارو څخه ده».

له احتماله لېرې نه ده، چې ددې ودانۍ ساختماني سبک د شاببوجان د نوموړې ماڼۍ غوندې ایټالوي وي. ددې لپاره چې په اجمالي ډول ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودانۍ نمادینه منظره او داخلي محتویات ښودل شوي وي د هغې په لنډه کتنه بسنه کېږي. له ګرده چا پېره که د ودانۍ بهرنۍ ټولې برخې وکتل شي ځلور خواوې یې د ګلپاڼو او پاڼو تزئینکاري لري. د ودانۍ عمومي مدخلونه د لویدیځې او ختیځې خوا ښېرته کېږي چې د ښکلا ایز جګ رواق (ایوان) پرې دپاسه دي.

له ختیځې دروازې څخه مخ په لویدیځ یو پراخ دهلیز دی، چې د یوې منځنۍ دروازې په ذریعه په دوو برخو ویشل کېږي ددې کوټې ختیځ برخه د لویدیې برخې غونډې کټ مټ جوړه شوې ده دروازې ته نږدې چې یوه دوه اړخیزه ډبرینه زینه ور پورته شوې دواړه خواوو ته په مستطیل ډول اوږدې کوټې دي چې د دوی دوی ځلور پله ییزه او رسۍ لري او ددې کوټو شاته د یوې د شمالي بازو په کونج کې او د بلې دجنوبي بازو په کونج کې مرسع شکله کوچنۍ خونې دي چې د ورننوتلو دروازې یې له بهره مخ په ختیځ دي او دوه اړخیزه ډبرینه ورته جوړه شوې ده، او رسۍ ګانې یې د یوې شمال په لوري او د بلې د جنوب په لوري دي.

ددې ودانې دهلیز چې سالون ته ورته دي، ددې یادو شوو کوټو لویدیځ ته فرشي ډوله کوټې چې له دهلیزه ورته دروازې دي، او ددې فرشي کوټو د یوې شمال ته او د بلې جنوب ته دوی نورې کوچنۍ کوټې دي او ځلور پله ییزه او رسۍ یې مخ په شمال او جنوب اینښودل شوي، ددې کوټو په لویدیځ دیوالونو کې تزئیني رواقونه تعبیه شوی دی.

او که ددې ودانۍ داخلي جوړښت د لویدیځې دروازې له خوا وکتل شي د ختیځې برخې سره هېڅ توپیر نه لري یوازیني توپیر یې د ختیځ برخې سره د شمال لویدیځ او جنوب لویدیځ کونج په کوچنیو کوټو کې دي ددې کوټو دروازې مخ په شمال او جنوب دي او دوه پله ییزه ورسۍ یې مخ په شمال او مخ په جنوب کېښودل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په مجموع کې چېرته د دې ودانۍ د جوړېدنې پلان او نقشه د يو کاغذ پر مخ وايستل شي او بيا دا نقشه د شمال له طرفه د جنوب خوا ته قات شي نو د ودانۍ دننې يعنې د شمال برخې هره کوټه او دروازه د جنوبي برخې په کوټو او دروازو تطبيقېږي.

د ودانۍ د بهرني جوړښت نما له څلورو خواوو نه دا سې ښکاري، چې څلور دروازې لري حال دا چې يوازې دوې دروازې لري، چې له ختيځې او لويديځې دروازې څخه عبارت دي د دروازو د پاسه په رواقي شکل تزئينکاري کټ مټ د بې دروازو برخو غوندې دي خو په کل کې ترې ګرد چاپير د ګلپاڼو او پاڼو تزئينکاري خورا په زړه پورې دي، د کوټې بام په محدب ډول آهن پوش شوی دی.

له ودانۍ بهر د هغې د غولي په جنوب ختيځه برخه کې درې تشنابونه په يوه خونه کې جوړ شوي چې اوس هم د استفادې وړ دي د دې ودانۍ غولی دومره لوی نه دی او د لويديځ له خوا د ښاروالۍ د ودانۍ له محوطې ورته لار ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مزار شریف د تخته پل لرغوني استحکامي کلا

تخته پل یو تاریخي ښېنګه کلا ده چې د مزارشریف د ښار او د بلخ د لارې په اوږدو کې له مزارشریف څخه د ۸ کیلومترو په شاوخوا کې لوید یځ خواته پرته ده د مزار شریف او شبرغان لویه لاره د دې کلا له منځه تېرېږي.
د تخته پل د تسیمې دوجهې په باب وایي چې یو وخت دا سیمه له اوبو ډکه وه او کلا ته ورننوتل به د یو تخته پل په واسطه کېدل، خو زما په فکر دا چې استحکامي کلا وو د ساختماني سبک له مخې له کلا ګرد چاپېر له اوبو ډک یو خندق کیندل شوی و او د کلا اوسیدونکی به د تختو په پلونو کلا ته ورننوتل نو ځکه یې په تخته پل شهرت پیدا کړ ممکن په دې اړه نور روایتونه هم موجود دي.
د تخته پل پخه کلا د امیر محمد افضل خان په وخت کې جوړه شوې ده.
د اروابناد عبدالحي اثر تاریخ مختصر افغانستان کې راغلي دي.
« کله چې سردار محمد افضل خان د خپل پلار امیر دوست محمد خان د سلطنت په دوهمه دوره کې لومړی ځل په زرمت کې او بیا د بلخ د تسخیرولو په خاطر وګمارل شو او هغه یې ونیو نو دلته یې دخپلو قواوو یعنې په بلخ کې دخپل پلار د ۳ پلیو غونډونو ، دوو سپرو غونډو لپاره چې په ۱۲ میله سارایي توپونو مجهزو» د سوق الجیشی لپاره په دې ځای کې دغه کلا جوړه کړه چې وروسته نوموړي په ۱۲۸۳هـ ق / ۱۸۶۶م کې د افغانستان پاچاهي ته ورسېد اوتر یو کال پاچاهي وروسته په ۱۲۸۴ هـ ق / ۱۸۶۷کې مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تخته پل کلا چې د افغانستان د لرغونو استحکامې کلاګانو څخه یوه لویه او پخه کلا ده د مزارشریف دده سوار د کلی د اوسېدونکي متقاعد ډګروال بخت خان مومند په قول د ۴۰۰ مترو مکعبو په شاوخوا کې له ختو څخه په پخه ډول جوړه شوې ده او ګرد چاپېر ترې یو ژور خندق کېندل شوی ؤ چې اوس هغه له خاورو ډک دی.
د کلا د دیوالونو سور دوه متره او لوړوالي یې د ۸ مترو په شاوخوا کې دي.
د کلا ودانۍ یې په منځ کې دی.
کله چې زه د ۱۳۸۲ کال د ثور په میاشت کې ددې کلا له منځه څو پلا تېرېدم له نږدې مې په پوره غور وکتله، دا کلا په مستطیلي وزمه توګه په دې توپېر جوړه شوې ده چې کونجونه یې منحني شکل لري او په څلورو کونجونو کې یې شاهبرجونه او د څلورو بازوګانو (احصارونه) په دننه کې یې د ترصد او انداخت لپاره د تعبیې د اصولو سره سم یو شمېر نیم دایروي پر جګوتي لري.
ددې کلا یوه بله لویه ځانګړتیا داده چې دوو مخامخ لویو دروازو چې د یو سړک په واسطه سره نښلي کلا په دوو شمالي او جنوبي برخو ویشل کېږي د دواړو دروازو په خوله کې د قراول او پیره دارۍ ځانګړې قراول خانې جوړې شوې دي چې د جوي ناوړو شرایطو څخه خوندي دي.
د تخته پل د کلا یوه بله ځانګړتیا داده چې په جنوبي برخه کې یې د لویدیځ جنوب بازو خواته یو حرمسرای دی چې په مربع شکل او د یوې کوچنۍ پخې کلا مودل شمېرل کېدای شي په څلورو کونجونو کې یې شاهبرجونه او په بازوګانو کې، د ترصد او انداخت څو برج ګوتې شته یوه دروازه لري چې مخ په شمال یعنې د عمومي سړک په لور ده.
ددې کلا نه مخ په ختیځ یو جومات دی چې دومره لوی نه دی او په تیموري سبک جوړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تخته پل د کلا د شمال لویدیځ بازو نه د باندې یو بله مستحکمه کلا هم شته دی او دا د تخته پل د کلا یوه عمومي قرار گاه دی، او ساختماني شکل یې حرمسرای ته ورته دی او لاره یې د تخته پل د شمالي یعنې دربیمې فرعي دروازې سره نښلي، دا کلا هم پخه ده په کونجونو کې یې لوی برجونه او په بازوګانو کې د ترصد او انداخت تاسیسات لري د شمال او غرب شاهبرج که پخوا هر څنګه ؤ خو اوس د بلخ د کلا د عیارانو د برج غونډې په مثمن شکل لوړ جوړ شوی دی چې له لېرې واټن څخه معلومېږي.
د کلا حصار سره نښتې ګونتې کوچنۍ کوټې هم تر اوسه شته دي چې ممکن د کلا د استحکامې تاسیساتو څخه وي او په پوسته ایزډول د کلا ساتونکي منسوبانو د پوځي دندو د ترسره کولو ځای وي او په قوی احتمال سره له کلا څخه د مدافعې جزوتامونو په کې د قراول په شکل د جګړه ایزو احضاراتو په حال کې اوسېدل.
دا کلا دهېواد د جګړو په وروستیو کلونو کې په مهال یو قوی سوق الجیشی او بیا وروسته ټوپک سالارانو غوښتل چې په خپلو منځونو کې لکه د شیر پور د تاریخي کلا سیمه د ابادیو لپاره وویشي.
خو اوس د یوې کرنیزې سیمې په توګه په کې غنم کرل شوی او دولتي ملکیت ګرځول شوي او د غاصبانو لاسونه ترې پرې شوی دی.
په کار دی چې دغه کلا د یوې تاریخي لرغونې ودیعې په توګه خوندي وساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (محمد ګلاب منګل) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوهاند رازقي نړیوال

چاپ او ناچاپ اثار:

- په مذهبي، ادبي، علمي - تحقیقي، لرغون پېژندنه، بیوګرافی، پوځي طنزي او داستاني برخو کې تر چاپ لاندې په شمول (۳۲) عنوانــه اثار.
- په اهتمام چاپ شوي اثار: د قاضي عطاء ا خان د پـښـتـو تـاریخ د لومړي ټوک په شمول (۳) عنوانه.
- ژباړل شوي اثار، د رسالو په شمول تر (۲۲) عنوانو زیات.
- تر چاپ لاندې ددې اثر په شمول یو عنوان.
- په ټولو زمینو کې تر (۱۵۰) عنوانو زیات.
- په بېلابېلو برخو کې مقالې په سلګونو عنوانه.

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۵۵

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**